# فهرست

**لومړی فصل** : له نیول کیدو تر خلاصیدو

**دوهم فصل** : د زندان مفیدې خاطرې او ګټورې تجربې

**دریم فصل** : د زندان لارښود

**څلورم فصل** : د ژوند تګلاره

**پنځم فصل** : د شهید ډاکټر عبدالواسع عزام ژوند لیک

Download from:aghalibrary.cm

# د مرتب خبرې

الحمدلله وکفی ، والصلوة والسلام علی محمد وعلی آله و اصحابه أجمعين . و بعد:

د ۲۰۰۷ میلادي کال اوړی و ، دامریکایي یرغل په خلاف مسلح جهاد نوی د توندی او د هیواد ټولو برخو ته د شمولیت پړاو ته داخل شوی و ، همدغه مهال مې د جهادي خدماتو په بهیر کې په پکتیا کې د مجاهدینو په یوه محلي ایف ایم راډیو کې کار کاوو ،چې په غزني کې د مجاهدینو لخوا د کوریایي مسیحي مبلغینو د نیول کیدو پیښه رامنځته شوه.

څرنګه چې پیښه ډیره مهمه او خبرسازه وه، زموږ هم د جهادي میډیا دکارکوونکو په حیث ورسره دلچسپي زیاته وه، ددې پیښې په مهال چې یوځل دمجاهدینو او کرزي رژیم ترمنځ د اسیرانو د تبادلې خبره وشوه، مجاهدینو د څو کوریایي بندیانو د خلاصون په مقابل کې د څو تنو اسیرو بندیانو غوښتنه وکړه او دهغوی لنډ لست یې خپور کړ.

په دې لست کې لومړنی نوم د ډاکټر عبدالواسع عزام و، د شهید ډاکټر عزام نوم مې په لومړي ځل هماغه مهال واورید ، چې د کندهار یو تن مخکښ او مدبر مجاهد دی او د افغانستان په

ښاري سيمو کې يې په امريکايي يرغلګرو د فدايي بريدونو په ترتيب کې لوی رول لوبولی دی.

کله چې ډاکټر عبدالواسع عزام له زندان څخه راخوشی شو، نو له نږدې ورسره شناخته شوم، له نوموړي سره مې يوځل دوه په دوه اوږد مجلس درلود چې د زندان د مهال ځيني کيسې يې راته بيان کړې.

په دې مجلس کې ډاکټر صاحب د هغو مجاهدينو له کټه ګورۍ څخه راته ښکاره شو، چې په ټول اخلاص او حقانيت د الله تعالی د دين د ساتلو لارې ته وتلي وي. نوموړی مخلص، خاکسار او بې تکلفه سړی و، چې د ژوند يوازينۍ مشغله يې د الله تعالی د دين خدمت و.

ډاکټر عبدالواسع عزام په همدې مجلس کې خپل ليکلي ياداښتونه راته وښودل، چې د زندان د خاطرو او تجربو په اړه وو، په دې ليکنو کې نوموړي يوازې د زندان حکايت او مرتب داستان نه و ليکلی، بلکې د خپل سخت او اوږده حبس په جريان کې يې هغه پيښې يادې کړې وې، چې مجاهدينو او له زندان سره مخامخيدونکو ته يې ګټه رسيږي او يو څه ترې زده کولای شي.

ډاکټر عبدالواسع صاحب د خپلو ياداښتونو په ليکلو او بشپړولو بوخت و چې د کندهار ولايت د عمومي جهادي مسؤل په حيث وټاکل شو، څرنګه چې دغه وظيفه ډيره درنه او مصروفونکې

وه ؛ نوځکه ډاکټر صاحب هم ونه توانید چې خپل لیکلي یادښتونه بشپړ او په کتابي بڼه چاپ او ته یې تیار کړي.

د شهید ډاکټرصاحب له شهادت وروسته یې چې کله کور ته د فاتحې لپاره ورغلم ، نو له ورونو سره یې د مجلس په مهال همدا د زندان په اړه لیکلي یادښتونه یاد شول او وروسته یې د کورنۍ لخوا د نوموړي ټول لیکل شوي یادښتونه او خاطرې چې په بیلابیلو پاڼو او کتابچو کې وې را وسپارل شوې، ترڅو یې تر نظر تیر کړم.

کله چې مې د ډاکټر صاحب لیکنې او یادښتونه تر نظر تیرول، په دې لیکنو کې مې یو عجیب کیف، سوچه والی او صمیمیت ولید. ډاکټر صاحب د خپل زندان خاطرې په ډیر امانت دارۍ خوندي کړې وې او ورسره یې خپل برداشتونه هم په ډیره ښه توګه څرګند کړي وو.

وایي چې: که از دل خیزد بر دل ریزد. څرنګه چې ډاکټر صاحب خپلې خبرې د زړه له تله راپورته کړې او له هماغه سوز او کیف سره یې د کاغذ په مخ خوندي کړې وې، نوځکه یې په ما هم ښه اغیز درلود ،د یادښتونو له کتلو وروسته مې فیصله وکړه چې د شهید ډاکټر صاحب دغه یادګار/ لیکنې د ضیاع څخه د خوندیتوب لپاره باید ترتیب او چاپ ته اماده کړم.

له همدې ځایه مې دډاکټر صاحب د یاداشتونو ترتیب او له سره لیکل پیل کړل، د بیا لیکلو او ترتیب په مهال مې کوښښ کاوو چې

د ډاکټر صاحب د یادا ښتونو محتوی په بشپړه توګه خوندي او په ځینو ځایونو کې ورسره مناسبه توضیحي زیاتونه وشي، د یادا ښتونو دلیکنې په مهال شاید د لیکل شویو مطالبو لیکنیزه ژبه او اوډون بدل شوی وي ؛ مګر محتوی په بشپړه توګه په کې خوندي شوي ده.

د ډاکټر صاحب له شهادت وړاندې د نوموړي او څو تنونورو زنداني مجاهدینو له مشاهداتو او تجربو څخه په استفاده د زندانیانو لپاره یو لارښود ترتیب شوی و، څرنګه چې دغه لارښود په ترتیب کې هم د ډاکټر صاحب ونډه بارزه وه، نو د کتاب له موضوعاتو سره د همغږي له امله مو هماغه لارښود ته هم په دې کتاب کې ځای ورکړی.

دغه راز: د ډاکټر صاحب ژوند لیک چې د نوموړي له شهادت وروسته د نوموړي دیوه جهادي ملګري قاري محمد یونس لخوا ترتیب شوی او په مطبوعاتو کې خپور شوی و، هم مو د کتاب د لا بډاینې لپاره په کتاب کې ځای کړ.

په دې ډول ستاسو په لاس کې کتاب د ډاکټر صاحب د تلپاتې یادګار او جاریه صدقې په حیث چاپ ته اماده شو، هیله ده چې د یوه مخلص مجاهد او مظلوم شهید د زړه د خبرو په توګه یې ولولئ او د مبارزې په لاره کې ترې اعظمي استفاده وکړئ.

د دې کتاب لوستل څکه د هر مجاهد او د حق د لارې د مبارز لپاره مهم دي، چې د مبارزې د لارې د يوې سختې مرحلې يعنې زندان له حقيقته يې خبروي، د دې مرحلې کوائف او لوازم ورته روښانوي او له دې مرحلې څخه په مسؤلانه او ويارمنه توګه د تيريدو چل ورښيي.

دې ته په پام سره د حق د لارې د هر لاروي لپاره بويه چې د دغه کتاب ولولي او له محتوا يې استفاده وکړي.

خپلې خبرې د الله تعالی دربار ته له دې هيلې سره پای ته رسوم چې الله تعالی دې د شهيد ډاکټر عبدالواسع عزام د متعهدانه ژوند ټولې جهادي سترې او ستومانۍ په خپل دربار کې ترې قبولې کړي، الله تعالی دې شهادت ورته مقبول وګرځوي، الله تعالې دې د دې کتاب د هر حرف په ليکلو سره ورته کامل کامل اجرونه ورکړي او الله تعالی دې ټول هغه ملګري د دغې جاريه صدقې له ثوابونو برخمن کړي چې د کتاب د مسودې د ليکلو، ترتيب او چاپ په کار کې يې هڅې کړې دي. آمين

په همدې هيله

عبدالرؤف حکمت

بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده و نصلي على رسوله الكريم .

# مناجات

يا الله ! موږ ستا عاجزه بندګان يو ، ستا د رحمت اميد لرو ، ته پر
موږ داسې بې پايانه رحمت وکړې ، چې زموږ زړونه ستا د
رحمت څخه سيراب شي.

يا الله !زموږ ظاهري او باطني پريشانۍ ستا په رحمت سره راختمې کړې !

يا الله !

زموږ هر عمل ستا په رحمت سره سوچه او خالص وګرځوې !

يا الله !

زموږ ټول جائز حاجتونه پوره کړې ! يا باري تعالى !زموږ زړونه
ستا د نور په هدايت له هر راز کفر او شرک څخه ورغوې !

اې خاونده !

ستا د رحيم او رحمن صفت په برکت زموږ د دنيا او آخرت چارې
راسمې کړې چې له تا پرته بل څوک نلرو !

اې د کائناتو څښتنه !

زموږ علم او پوهه ډيره کمه ده ، اې خالق ، رازق او توانا خدايه
!له موږ سره هغه معامله وکړې چې زموږ خير په کې وي.

اې رحيم او رحمن ذاته ! ته فعال لما يريد يې ! موږ ته صراط مستقيم را نصيب کړې له هر راز ګمراهې مو وژغورې !

اې د بندګانو په زړو حاکم خدايه !

ستا دوستانو ته مو محبوب او ستا دښمنانو ته مو دښمن وګرځوې، ستا پر دښمنانو د شدت او ستا په دوستانو د ترحم توفيق را کړې !

اې مهربان او قبلوونکې خدايه !

زموږ دا لږ تکليفونه ، زندانونه او داسې نور په ډير څه قبول کړې او له موږ خوارانو سره د عافيت معامله وکړې !

يا الله !

ستا د قهر او عذاب طاقت نه لرو ستا په رحمت مو وژغورې !

اې د مظلومانو مل خدايه ! له بې صبري، شکايت او سختو امتحاناتو مو وساتې !

اې عالم ، هادي او توانا خدايه !

ددې کتاب په ليکلو کې مې نيت خالص ستا د رضا لپاره وګرځوې او د اسلامي امت د ځوان نسل لپاره يې د مقاومت په سنګرونو کې د استفادې وړ وګرځوې او ما ته يې په دنيا او آخرت کې نيک اجر را کړې.

آمين ثم آمين

# لومړی فصل

## له نیول کیدو تر خلاصیدو

زما د زنداني کیدو لنډ جریان په دې ډول و چې د کابل په قوای مرکز کې له نیول کیدو وروسته چې استخباراتي کسانو په شمول د خارجیانو په موږ چاپه ووهله ، له نیول کیدو وروسته یې د استخباراتو یا ملي امنیت یو ریاست ته چې په ریاست اول مشهور دی یوووړم ، باید ووایم چې ملي امنیت په کابل ښار کې ګڼ شمیر پټ او ښکاره ریاستونه، توقیف خانې او مدیریتونه لري لکه اول ریاست، ریاست هفتده، ریاست نود او داسې نور ریاستونه.

په اول ریاست کې تر ۲۳ ورځو تیرولو وروسته یې د استخباراتو ریاست هفتدهته یوووړم چې هلته مې ۸ میاشتې تیرې کړې، له هغه وروسته یې د پلچرخي زندان څلورم بلاک ته راوړم، په څلورم بلاک کې له دوه کاله تیرولو وروسته چې کله په همدې بلاک کې بندیانو اعتصاب وکړ او له عسکرو س ره په جګړه کې یو شمیر بندیان شهیدان شول له دې پیښې وروسته یې له نورو بندیانو سره یوځای د پلچرخي بلاک خاص ته راوستلو ، شاوخوا یو کال مو همدلته تیر کړ چې بیا مو په ډیرو واسطو ځان د کندهار سرپوزې زندان ته تبدیل کړ، په کندهار کې له دوو میاشتو تیرولو وروسته

یې بیرته خاص بلاک ته انتقال کړو ، په خاص بلاک کې له دوو میاشتو تیرولو وروسته یې د پلچرخي زون بلاک ته انتقال کړو خو هلته به مو ایله دری میاشتې پوره شوې وې چې نظامي بلاک ته یې چې په ګوانتانامو بلاک مشهور دی انتقال کړو، په ګوانتانامو بلاک کې مو ۸ میاشتې تیرې کړې چې له همدې ځایه یې د بګرام دلتا محبس ته انتقال کړو ، هلته له یوولس میاشتو تیرولو وروسته یې بیرته د پلچرخي خاص بلاک ته انتقال کړم چې همدلته له دریو میاشتو تیرولو وروسته د الله تعالی په فضل را خلاص شوم.

د زندان په دې اوږده موده او مختلفو پړاوونو کې ما ددښمن بیلابیل محبسونه،توقیف خانې او زندانونه ولیدل،چې د یو بل په نسبت یې شرایطو فرق درلود ، په دې دوران که تفصیلي خبره کیږي شاید ډیره اوږده شي ؛ خو دلته به همدې جریان ته په لنډه اشاره وکړم او په پای کې به د بګرام د زندان په اړه تفصیلي معلومات درسره شریک کړم.

له نیول کیدو وروسته یې زه اول ریاست ته یوووړم او له هغه وروسته یې د استخباراتو ریاست هفتدهته یوړم دغه ریاست چې په وحشت او ظلم مشهور دی په دې وخت کې یې رئیس د ګلالي په نوم یو خورا ظالم او قسا وتګر سړی و ، د ګلالي په نوم دغه سړی اصلا د کندهار او سیدونکی و چې پخوا د کندهار د استخباراتو رئیس و وروسته د کندز ولایت د استخباراتو رئیس شو او له هغه

وروسته په کابل کې د استخباراتو د ریاست هفتده یا ریاست هفتد هرئیس وټاکل شو ، ګلالی چې په ظلم او قساوت کې یې له پخوا څخه نوم ګټلی د اسد الله خالد غونډې یو له هغو کسانو و چې له نیول شویو کسانو به یې په خپله تحقیقات کول او په خپله به یې سزا ورکوله ، ګلالي چې زه د کندهار د یوه مجاهد په صفت پیژندلم نو سخت له کینې او قساوت ډک چلند یې راسره کاوو ، تحقیقات یې په خپله راڅخه کول او سزا یې په خپله راکوله ؛ خو ما ترپایه نوموړي ته اقرار ونه کړ او نه مې اعتراف وکړ چې زه ډاکټر عبدالواسع یم ، وروسته چې په کندهار کې د دښمن د جاسوسانو د معلوماتو له ورکولو وروسته دوی زه سم وپیژندلم بیا مې هم د هیڅ شي اقرار ورته ونه کړ سره له دې چې دوی پوهیدل چې د کابل ، مزار او هرات په ډیرو فدایي عملیاتو کې مې برخه درلوده .

ریاست هفتد هته چې بندي ورل کیږي نو په لومړیو کې په یوازې اطاق کې اچول کیږي ترڅو تحقیقات ترې وشي ،وروسته بندیان له کوټه قلفۍ څخه ایستل کیږي ، د ملاقات سهولت هم ورته پیدا کیږي او محکمه یې پیلیږي. په ریاست هفتدهکې بندیان په اوسط ډول له څلورو تر پنځو میاشتو پورې وخت تیروي.

خو څرنګه چې دغه وخت د ریاست هفتدهمشر ګلالي زه پیژندلم او ځانګړی حسد یې راسره درلود ؛ نو ځکه زما وضعیت بیخي بدل و ، زه په دې ریاست کې په ډیرو سختو شرایطو کې ۸

میاشتې وساتل شوم، او په ډېر ټوله موده کې کوټه قلفي یعني تنها وم، په دې موده کې د ملاقات ، افتابي او بل هیڅ سهولت نه دی راکول شوی ، بله داچې په دې ټوله موده کې یې له سره صلیب او د بندیانود حالاتو له نورو پلټونکو هیئتونو څخه پټ ساتلی وم تر څو هغوی له هغه غیرقانوني وضعیت څخه خبر نه شي چې له ما سره روان و.

په دې زندان کې بندیانو ته په شواروز کې دوه ځله خوراک ورکول کیږي او دری ځله تشناب ته دتلو اجازه ورکول کیږي، چې هلته او دس هم باید وکړي،له همدې فرصت نه پرته که بندي مریض وي یا تشناب ته هرڅومره عاجل ضرورت هم ولري اجازه نه ورکول کیږي ، دلته د مجاهدو بندیانو لپاره یو بل سرخوږی د باشیانو دی ، د توقیف خانې مسؤلین هغه بندیان چې په جنایي کړنو لکه غلا ،قتل یا نورو جرمونو نیول شوي وي یا حکومتی عسکر او منسوبین وي او همدلته بندیان وي همدغه کسان د باشي په نوم په نورو بندیانو ټاکي تر څو یې تشناب ته د ایستلو او بیرته راوستلو مسؤلیت ترسره کړي، دغه کسان بیا د شخصي عقدو له امله له مجاهدو بندیانو سره زیاتره وخت بد چلند کوي او بندیان همیشه ترې په شکایت وي.

په دې ځای کې د یاد وړ حالت د تحقیقاتو وي،د تحقیق لپاره وخت نه وي معلوم کله یې د ورځې تحقیق ته بوځی او کله یې په

نیمه شپه راویښ کړي او تحقیق ته یې روان کړي، د تحقیق په مهال دښمن کوښښ کوي چې په وحشت خپرولو سره بندي وډار کړي؛ خو بندي باید مقاومت وکړي له توکل او لوړ عزم څخه استفاده وکړي ځکه چې له وارخطایي پرته په نورمال حالت کې بندي کولای شي په سمه توګه مستنطقینو ته ځواب ووایي.

د عادي بندیانو تحقیق هم عادي وي یو مستنطق ترې پوښتنه کوي؛ خو کوم بندي که دښمن ته ځلاک یا لوړپوړی ښکاره شي نو د هغه لپاره دوه درې مستنطقین ټاکي ترڅو یې په خبرو راولي ،له ما څخه خپله ډیر ځله د ریاست مشر ګلالي تحقیق کاوو.

د تحقیق په وخت که څه هم د وهلو ، بې خوبه کولو او راځړولو په شمول مختلفې سزاوې راکړل شوې خو ماتر پایه په یوه خبره هم اقرار ونه کړ ، تردې چې استبخاراتي کارکوونکي را څخه مایوسه شول ، په همدې مهال چې کله زما خبره محکمې ته لاړه نو د محکمې قاضي ته د ګلالي او نورو استخباراتي کارکوونکو لخوا وویل شول، چې دغه سړي ته باید د اعدام سزا ورکړل شي، د محکمې په ورځ هم ګلالی په خپله راغلی و، سره له دې چې زما په خلاف ورسره هیڅ شواهد او اسناد نه و چې په اساس یې ما مجرم ثابت کړي؛ خو بیا یې هم تاکید کاوو او په قاضیانو یې فشار اچاوو چې باید د اعدام سزا ورکړئ،قاضیانو بالاخره زما لپاره لس کاله قید سزا وټاکله او کله چې ما پوښتنه ترې وکړه چې په کوم اساس یې دا سزا

راته ټاکلې  قاضي ويل چې زه مجبور يم اوس مې هم ډير تخفيف کړی دی او له دې نور هيڅ تخفيف په کې نشم کولای ځکه د استخباراتو لخوا ترفشار لاندې يم. په دې ډول لومړنۍ محکمې پرته له کوم دليل څخه لس کاله سزا راته وټاکله چې وروسته دوهمې او دريمې محکمې هم همدا سزا تاييد کړه.

په  رياست هفتدهکې له ۸ مياشتې کوټه قلفي او تنها سخت حبس وروسته يې د پلچرخي محبس ته انتقال کړم. د پلچرخي محبس ټول ۸ بلاکونه لري چې هر بلاک يې څلور منزله لوړ دی ،د بلاکونو جوړښت يو له بل څخه جلا دی ، په ځينو بلاکونو کې لويې پنجرې او د اوسيدو لپاره پراخ صالون شکله ځايونه دي ، چې همدلته تشنابونه هم په کې دي، ځيني بلاکونه بيا اطاقونه لري او بنديان په اطاقونو کې تقسيم شوي وي، په ځينو بلاکونو کې بيا د کوټه قلفۍ او جزاء ورکولو لپاره ځانګړي ځايونه جوړ شوي دي خو په هر حال دا يو ستر زندان دی او په ډير پيچلي شکل جوړ شوی دی.

زه چې لومړی د دې زندان په څلورم بلاک کې وم، په دې بلاک کې تقريبا دوولس سوه بنديان و ، چې د هر منزل بنديانو يو له بله سره ليدلای شوای، د پل چرخي وضعيت د استخباراتو د توقيف په نسبت ښه دی ، دلته تحقيقات او بيا بيا پلټنې نشته ، بنديان په ورځ کې يو ساعت يا څه زيات د ورزش يا افتابي وخت لري، د بلاکونو ترمنځ ځای چې دوی ورته مثلث وايي ، همدې ځای ته بنديان را

ایستل کیږي؛ دغه راز: په دوو اونیو کې یو ځل د ملاقات لپاره هم وخت ورکول کیږي، ملا قات په نورو بلاکونو کې مخامخ ترسره کیږي، مګر په ګوانتانامو بلاک کې چې د اردو تر کنټرول لاندې دی او شرایط یې سخت دي ملاقات د ښیښې تر شا ترسره کیږي یعنې بندي او ملاقاتي مخامخ نه شي سره لیدلای.

د پل چرخي بندیانو ته دوه وخته ډوډۍ ورکوله کیږي، دلته دا سهولت هم شته چې بندیان له بهر څخه ځان ته خوراکي توکي، لوښي، البسه، کتابونه یا نور شیان راوغواړي، له همدې فرصت نه په استفاده دلته بندیان کولای شي د کتابونو په راوړلو سره د تعلیم او تدریس سلسله پیل کړي؛ دغه راز: که څه هم اصولا بندي ته د ټیلفون ساتلو اجازت نشته خو بندیان کولای شي له مختلفو لارو په استفاده مبایل ټیلفون ترلاسه او له بهر سره د اړیکو لپاره کار ترې واخلي.

په پلچرخي کې تحقیق هم نشته یوازې بندي د محکمې په ورځ محکمې ته وړل کیږي، خو دلته د بندیانو زیاتره وخت د زندان له مسؤلو عسکرو سره جنجال پیښیږي ،ځکه چې عسکر په هرڅه کې له بندیانو سره جنجال کوي او کوښښ یې داوي چې بندیان وپاروي او اعتصابونو ته یې مجبور کړي،له همدې امله په پلچرخي کې همیشه د بندیانو لخوا احتجاجونه راپورته کیږي چې ډېر ځله خو

بنديان د لوړې داعتصاب په مهال شونډې ګنډي او داسې بيا بيا پېښې شوي هم دي.

په پلچرخي کې ما په ځلورم بلاک سربېره په زون بلاک او خاص بلاک کې هم وخت تېر کړ چې شرايط يې د ځلورم بلاک په نسبت يو څه سخت وو ، په خاص بلاک کې پنځه مياشتې په پايوازراتلو بنديز و ؛ دغه راز: ۹ مياشتې په کوټه قلفي کې وم ، له هغه وروسته چې دکندهار د سرپوزې زندان ته تبديل شوم هلته هم وضعيت د پلچرخي غوندې و ، خو کله چې بېرته د پلچرخي د ګوانتانامو بلاک ته لاړم هلته وضعيت نسبت د پلچرخي نورو برخو ته سخت دی.

د ګوانتانامو بلاک د دفاع وزارت په واک کي دی په داسې حال کې چې د پلچرخي نور بلاکونه هغه وخت دعدليه وزارت مربوط وو ، دلته بنديان تر ډېر ټينګ مراقبت لاندې ساتل کيږي او د مخامخ ملاقات حق هم نه لري ، چې وروسته يې موږ له همدې بلاک څخه بګرام ته انتقال کړلو.

## د بګرام د وحشي زندان يو کلن تريخ جريان

د ۱۳۸۹هجري شمسي کال د دلوې د مياشتې دريمه د دوشنبې د ورځې سهار ۹ بجې وې، چې د څرخي پله د زندان اجيرو داخلي چارواکو موږ شپږ کسان زه ډاکټر عبدالواسع، مولوي نقيب الله

ملا اسد الله ، عبد الله طيب ، احمد شاه زرمتی او يو حکومتي قومندان عبد الرازق د ګرشک او سيدونکی يې د پل چرخي د نظامي محبس مخې ته امريکايي عسکرو ته تسليم کړو تر څو مو د بګرام وحشي زندان ته انتقال کړي.

د انتقال حالت خورا سخت او ځورونکی وو ، د شپږ واړو ملګرو غوږونه او سترګې يې بندې کړې وې، لاسونه يې ولچک وو او هر يوه ته په ملا کې هم يو او سپنيز کمربند اچول شوی و ، په خبرو ، يو خوا بل خوا مخ اړولو او سترګو لوڅولو سخت بنديز و ، په همدې زولانه حالت کې هيچا ته د ديني يا انساني ضرورت د پوره کولو اجازه نه وه ، مطلب د لمانځه ، اودا سه يا تشناب د ضرورت غږ نه اوريدل کيده ، که د چا په لاسونو کې ولچک سختيدل يا له کوم ځورونکي حالت سره مخ کيده غږ يې نه اوريدل کيده ، که به کوم بندي د ډيرې سختی له وجې غږ پورته کاوو نو په بې عزتی سربيره د ګاز د استعمال تهديد ورکول کيده.

په همدې حالت کې يې موږ شپږ تنه امريکايانو ته وسپارلو او امريکايانو هغه دوو پوځي څرخکو ته پورته کړو چې زموږ د انتقال لپاره يې راوستې وې، څرخکې پورته شوې او له نيم ساعت مزله وروسته د بګرام په زندان کې ښکته شوو ، په بګرام کې يې لومړی د DSB دفتر ته ورووړو ، د دې دفتر کار دا وه چې بګرام ته د نويو راتلونکو زندانيانو نومونه، د ګوتو او سترګې نښې او نور

مشخصات يې ثبتول ، دلته يې په يوه بد ځای کې واچولو او وروسته په ډير سپکاوي او بې حيايي يو يو بندي حمام ته د دې لپاره ورل کيده چې ددوی د غيرانساني اصولو له مخې بايد بندي غسل وکړي او د ډاکټرانو لخوا معاينه شي. کومو کسانو چې د بګرام زندان ليدلی هغه ددې غيرانساني جريان په اړه ښه پوهيږي،زما قلم، وجدان او ضمير نور اجازه نه راکوي چې په دې اړه تفصيل وليکم !

ترماښامه پورې چې کله د بنديانو معاينات او پلټنې تکميل شوې، نو بيا يې سرې جامې راواغوستلې او دلتا بلاک ته چې افغاني بلاک يې هم ورته ويل انتقال شولو ،په دې بلاک کې يې موږ ۸ نمبر پنجرې ته واچولو.

دغه بلاک که څه هم په افغاني بلاک مشهورو ، خو دغه نوم يې هسې د کاغذ په مخ و ، ظاهرا ويل کيدل چې واک يې له داخلي اجيرو عسکرو سره دی ؛ مګر په حقيقت کې ټول واک له امريکايانو سره و ،ټول تصرفات، تصميمونه او صلاحيتونه د امريکايانو چليدل او مستقيما يې داخلي عسکرو ته قومنده ورکوله.

دا چې د نورو ټولو برخو غوندې په بګرام کې هم داخلي عسکرو ته دواک د انتقال پروسه هسې نمايشي وه او له انتقال وروسته هم واک د امريکايانو چليده، يو مثال يې دا ويلا ی شو، چې په همدې

افغاني بلاک کې چې واک يې د اردو عسکرو ته سپارلی شوی و له يو شبانه روز تيرولو وروسته کله چې نورو بنديانو ته مخصوص خړ رنګه لباس توزيع کيده، نو موږ شپږ کسانو ته يې هم هغه خړرنګه لباس راکړ او سرې جامې مو وروسپارلې، لږ وخت وروسته د اجيري اردو د لوا قوماندان جنرال صفي د د تفتيش د آمر علامحمد په لاس حال راوليږه چې تاسو مې له جزاء څخه خلاص کړئ نو ځکه مې سور رنګه جزايي لباس درڅخه ايسته کړ او خړې جامې درکړل شوې.

خو دوه ساعته به نه وو تير شوي چې نظرمحمد پنجشيري په نوم يو ضابط راغی او ويې ويل چې تاسو ته سهوا خړې جامې درکړل شوي دي بيرته به يې وباسئ او سرې جامې به اغوندئ، خو کله چې موږ انکار وکړ ضابط ولاړ او لږ وروسته امريکايي ورسره راغی، ضابط امريکايي ته وويل چې دا زما خبره نه مني او جامې نه بدلوي.

موږ د ترجمان په واسطه امريکايي ته وويل چې لږ مخکې د اردو د لوا قوماندان جنرال صفي حال راليږلی و چې تاسو له جزاء خلاص شوئ نو ځکه مې جامې درېدلې کړې، لږ وروسته دوی لاړل او يوه ډله امريکايان ورسره نور راغلل چې په جي ايس پي يادېدونکی قوماندان يې هم و، هغه په سياست خبرې شروع کړې او بيا يې وويل څوک وايي چې تاسو له جزاء خلاص شوي ياست؟ موږ د لوا د قوماندان خبره ورته وکړه امريکايي ته په دې خبره سخته

غوسه ورغله او ویې ویل چې دا بلاک او زندان زما دی دلته قانون هم زه جوړوم او بل هیڅوک صلاحیت نلري، زمونږ ملګري عبدالله طیب غوښتل خبره ورسره اوږده کړي خو امریکایانو رهم جدي شول او د زور او تهدید خبرې یې شروع کړې، په دې حال کې بل ملګري اسدالله خپل کمیس وکیښ او په غوسه یې وروغورځاوه چې واخلئ دا مو جامې مونږ فکر کاوو چې رښتیا به دا بلاک افغاني وي او داخلي عسکرو واک به چلیږي خبر نه وو چې واک ټول لا هم دامریکایانو په لاس کې دی ، وروسته ټولو ملګرو سره کالي واخیستل او بیا مو شل ورځې په همدې جزایي حالت کې تیرې کړې.

## د بګرام زندان جوړښت او موقعیت

د پروان ولایت په بګرام ولسوالۍ کې له پخوا څخه یوه ستره نظامي اډه ده ، چې د شورویانو په وخت کې هم د یرغلګرو مهمه اډه بلل کیدله، په دې اډه کې امریکایانو یو ستر زندان جوړ کړی چې په غالب ګمان د اډې په جنوبي څنډه کې موقعیت لري، له دې زندان څخه هم امریکایان د ګوانتانامو د زندان غوندې د خلکو د ویرولو ،تهدید او د افغان اولس د تعذیب لپاره کار اخلي،د زندان نقشه او جوړښت په اصل کې د یوې لویې خیمې په ډول دی، څرنګه چې په هوایي ډګرونو کې د الوتکو د ترمیم او پارکنګ لپاره لوی لوی ځایونه جوړ شوي وي، دغه زندان هم په لویو ګاډرو همداسې

ودان شوی دی چې برسیره او څنګونه یې په آهن چادرو پوښل شوي دي، که څه هم د جوړښت په لحاظ د بندیانو د ساتلو لپاره مناسب ځای نه شي بلل کیدای، ځکه جوړښت یې مضبوط نه دی، خو امریکایي عسکر یې همیشه تر نظر لاندې ساتي او د بندیانو په پنجرو برسیره پهره کوي.

دغه ځای چې موږ په کې او سیدلو په دوو برخو ویشل شوی و، اته پنجرې یوې خوا ته او اته بلې خوا ته وې، په هره پنجره کې تر دیرشو پورې بندیانو ژوند کاوو، د هرې پنجرې په داخل کې یو حمام او دوه تشنابونه وو، چې تقریبا د یو متر په اندازه دیوال د ستر لپاره ترې تاو و، د تشنابونو او ټولو پنجرو سر خلاص دی او یوازې پنجره ورباندې پرته ده، چې د زندان ساتونکي مسؤلین ورباندې له پاسه ګرځي راګرځي او هلته لوړ یو پهره دار همیشه وي چې د پنجرې بندیان څاري. دا په داسې حال کې چې د هرې پنجرې په یوه او بل لوري کې تیلویزوني کیمرې هم ۲۴ ساعته بندیان څاري، چې د زندان مسؤلین د بندیانو شمیر، څارل او تجسس هم له همدې لارې په ډیر اسانه کولای شي.

د پنجرې او حمامونو لوړه خوا سرخلاصې دي او پورته مؤظف مسؤلین بندیان په هرحالت کې لیدلی شي، له پنجرې څخه د وتلو لپاره یوه کوچنی ۲ په ۲ متره کې اطاق جوړ شوی دی چې ایرلاک ورته وایي کله چې زنداني د تفریح، ملاقات، علاج یا بل ضرورت

لپاره له پنجرې ایستل کیږي ، نو د ایرلاک دروازه د لوړ عسکر لخوا خلاصیږي ترڅو بندي ایرلاک ته داخل شي،له دې وروسته لوړ دروازه بان چې بروج ورته وايي بیرته د پنجرې دروازه له لوړې خوا تړي،زنداني چې ایرلاک ته داخل شي نو عسکر له ځانګړیو سوریو څخه په استفاده لومړی په ایرلاک کې دننه لاسونه شاته ورتړي او پښې یې هم زولانه کوي او بیا ځانګړي عسکر دایرلاک دروازه خلاصوي او بندي له ځان سره بهر باسي.

زنداني د نوکانو ،بریتونو او د سر کوچني کولو لپاره هم باید ایرلاک ته داخل شي،دلته یوازې دوه زندانیان په یوه ځای داخلیدای شي،تر څو خپل نوکان په یوه بې چاقو ناخن ګیر کم کړي،د بندیانو لپاره د هنداړې،غچي،ږمنځې او داسې نورو شیانو استعمال جرم بلل کیږي دا شیان نه په پنجرو کې شته او نه یې څوک ورلای شي،په پنجره کې د اوداسه لپاره دری جوړې چمپل او دوې کوزې شتون لري، نور پایزار دغه راز قلم ، ستن ، اضافي لباس او هرڅه ممنوع دي،که له چاسره پیدا سي نو په یو بد جزایي ځای کې چې ایسو نومیږي باید جزاء تیره کړي.

د زندان د روښانه ساتلو لپاره له یوه قوي جنراتور څخه کار اخیستل کیږي،او رڼا دومره زیاته وي چې شپه او ورځ نه معلومیږي او دا حالت په سترګو او حتی عقلي او عصبي سیستم خورا بد اغیز کوي.

## په بګرام کې د بنديانو ګوزاره

د بګرام په زندان کې د بنديانو د اوسيدو ځای ډير تنګ و چې بنديان په سختۍ په کې ځاييدل، د ځای د تنګوالي او د ملګرو د ډيرښت له امله خوب او ارام ډير مشکل و چې کله کله همدا مسئله د بنديانو ترمنځ د جنجال باعث هم کيدله، په بلاک کې چې سلګونه بنديان اوسيدل او ټولو د يوبل غږ اوريدو د غه راز به ساتونکو عسکرو په زوره زوره نعرې وهلې او شورماشور به يې جوړ اوو همدا حال هميشه روان و نو ځکه خوب او ارام ډير سخت و.

په ژمي کې به د غه بلاک بې اندازه ډير ګرم کيدلو او په اوړی به بيا داسې سوړ ساتل کيده چې ملګرو ورباندې د ميوې سټور نوم ايښی و، د اوسيدو په ځای کې تشنابونه او د اودس مات ځای چې بدبويي بنديان اذيت کول يو بل مشکل و، چې ځينو ته خو د غو ډول ډول مشکلاتو په جسمي نارامي سربيره عصبي او رواني ناروغۍ هم پيدا کولې.

ټولو بنديانو ته يو ډول لباس ورکول کيده، چې تنګ پرتوګ او کميس و له همدې يو جوړه لباس پرته بل هيڅ شی بنديانو ته نه ورکول کيده، د اوسيدو په ځای کې د فرش په نوم کوم شی نه و په سيمټو باندې اکثره بنديان بېديدل ځکه د خوب لپاره بستره هم

دومره ډبله او داسې جوړه وه چې ارام خوب ورباندې نه شواى کيدلاى.

بنديانو ته ورکول کيدونکي خوراک هم داسې تيار شوى و چې زموږ له افغاني رواجي خوراکونو سره يې هيڅ مشابهت نه درلود اونه مو په ژوند د خوراک داسې ترکيب ليدلى و، حتى په داسې بدخوند سره پخيدى چې که څوک وغواړي قصدا خوراک بدخونده کړي هم داسې به يې بدخونده نه کړاى شي چې کله ناکله خو به بالکل نه خوړل کيده. په خوراکونو کې مالګه هم داسې کاريدله چې اکثره وخت خو به بالکل وه نه خو کله به بيا دومره زياته په کې اچول شوې وه چې خوراک به د خوړلو وړ نه و.

د خوراکونو خصوصا د غوښې هيڅ اصليت نه معلوميده چې د کوم حيوان ده او په کومه طريقه يې ذبح شوې، که به بنديانو مخالفت کاوو يا به يې د کوم ظلم په مقابل کې شور جوړاوو نو خوراکونه به يې داسې ترتيبول چې هيڅ بايد و نه خوړل شي، د ټولو بنديانو لپاره يو قسم خوراک ورکول کيده د مريض ، سپين ږيري يا د چا د پرهيز کومه پوشتنه او لحاظ نه و ، د هرې مياشتې په پاى کې يې زنداني وزن کاوو که به يې وزن زيات و خوراک ته يې تغير ورکاوو تر څو بيرته وزن وبايلي.

بنديانو ته چاى سهار وختي يعني د شپې له دوو بيا تر ځلورو پورې راوړل کيدلې، چاى يې هم بې خونده او بې حرارته و، کله ناکله ساتونکو قصدا ځينو بنديانو ته کمې چايې اچولې تر څو بنديان وپاروي چې دا هم د اذيت يو ډول و، د وچې ډوډۍ کيفيت هم داسې خراب و چې ډوډۍ به يې يو ځل سړوله او بيا يې بنديانو ته ورکوله، حتى کله خو به په ډوډۍ ډيرې ورځې تيرې شوي وې، مطلب دا چې دښمن له هرڅه څخه د بنديانو په مقابل کې د روحي شکنجې او تعذيب د وسيلې په حيث کار اخيست؛ مثلا که څه هم بنديانو ته يې ډوډۍ ورکوله خو کله به يې د بنديانو د اذيت لپاره بې وخته راوړله ترڅو بنديان له خوبه ووځي يا تر بل وخت ډوډۍ پورې ښه وږي شي دغه راز به کله ډوډۍ دومره کمه وه چې بنديانو به په مشکل بل د ډوډۍ وخت ته ځان رساوو.

## آفتابي او ورزش

په بګرام کې بندي ته په هفته کې يوازې درې ساعته وخت ورکول کيده چې دلمر رڼا ويني او له پنجرې بهر قدم ووهي، دغه په هفته کې ۳ ساعته تفريح چې په مياشت کې ۱۲ ساعته کيږي که څه هم ظاهرا د تفريح په عنوان بنديانو ته ورکول کيدله مګر په حقيقت کې تفريح نه بلکې يو ډول تعذيب وو، ځکه په سخته ګرمۍ کې بنديان په يوه نري لباس کې بهر ايستل، دايستلو په مهال ولچک او

زولانه حالت ، تلاشي او دبنديانو سپکاوی ،که به بندي مريض يا په هرډول حالت کې و بايد د ضابطانو اوامر يې منلي وای، که به چا لږ سرغړونه هم کوله نو د DR سزا ورکول کيدله په دې سزا کې له بندي څخه دبسترې او توشکو وړل، دغذا بنديز او د نورو ضروري اسانتياوو بنديزونه شامل وو ،د يوې پنجرې دبنديانو لپاره يو کوچنی ميدان به و چې بنديانو بايد هلته فوټبال کړی وای، څرنګه چې ميدان کوچنی و نو نور بنديان چې هسې لمر ته کيناستل يا مجلس به يي غوښت هغوی ته فرصت نه و ، که د فوټبال توپ کومې خوا ته واوښت نو بيا هم جنجال و ځکه عسکرو به په اسانه نه ورکاوو او کله خو به يې بالکل انکار وکړ مطلب دا چې د افتابي او ورزش په نوم تفريح هم ګڼ جنجالونه درلودل چې بنديانو ترې د تفريح استفاده نه شوای کولای.

## تلاشي

په بګرام کې د بنديانو هميشه بدني تلاشي اخيستل کيدله او هم به پنجره تلاشي کيدله بدني تلاشي لومړی په لاس اخيستل کيدله په ټول بدن لاس وهل کيده او کله خو به يې حتی د بنديانو بدن ليدلو هم تردې چې دځينو بنديانو د پرتوګ کشک يې پرې کش کاوو او کتل يې،له تلاشي وروسته به يې بنديانو ته په ډير حقارت د

کینه او جګ شه الفاظ چې امریکایانو هم زده کړی وو ویل او مکرر به یې ویل له دې وروسته بندي په ماشین سره تلاشي کیده.

دغه راز یوه نه بله ورځ به حتما ټوله پنجره هم تلاشي کیدله، پنجره یې هم په لاس او ماشین سره تلاشي کوله او داسې تلاشي به یي اخیسته چې بسترې او ټوله پنجره به یې ګډه وډه کړه، که کوم بندي به اضافه خوراکي شیان جمع کړي وو، یا به هم اضافه بستره، جامې، قلم، کاغذ یا کوم بل شی پیدا شو نو هغه به یې له ځانه سره وړل ،بندیانو ته د قلم او کاغذ ساتلو اجازه نه وه حتی د خط لیکلو لپاره به یوازې د خودکار قلم نرۍ بمبه ورکول کیدله تر څو وروباندې خط ولیکي خو مجاهدینو به ډیر ځله په مهارت سره همدا قلم له ځان سره غلی کاوو او بیا به یې په پنجره کې کار ترې اخیست، خو چې د تلاشي په مهال به کشف شو نو امریکایانو بیرته له ځان سره وړ.

## علاج او تداوي

په بګرام کې تر ټولو بد وضعیت د مریضو زندانیانو و که به څوک خدای مکړه ناروغ شو نو د نوم ثبت او ډاکټر سره لیدو لپاره یې باید په اونیو اونیو انتظار کړی وای، د مریضانو وضعیت ته دپام نه کولو له امله د پنجرې ملګرو او ساتونکو سره همیشه جنجال پیښبده چې له همدې امله به کله د یوه مریض له امله ټوله پنجره

جزايي شوه،زياتره وخت به د مريض علاج نه کيده بلکې د نرس لخوا به يوازې د اوبو توصيه ورته کيدله، خو که دکوم مريض د علاج نصيب به و هغه بيا ډاکټر ته ښودل کيده او علاج يې کيده.

کومه دواء چې به د ډاکټر لخوا ورته توصيه شوې وه هغه يې بايد د ډاکټر په مخکې ايرلاک کې خوړلې وای،دوا به که په شپه راوړل شوه يا په ورځ بايد مريض خوړلې وای په دې برخه کې هم د وخت مراعات نه وه نه د مريض د خالي معدې او ډکې معدې خيال ساتل کيده او نه ددوه ځله دوا خوړلو تر منځ وخت او ساعتونو ته پام کيده، که به کومه پنجره کې له کوم بندي سره دوا ومونډل شوه نو په هغه بندي دوا قطع کيدله او د آينده لپاره له علاجه هم تر مياشتو مياشتو بې برخې کيده.

د مريضانو په بخش کې تر ټولو بد وضعيت د عصبي ناروغانو و ، که به چا د عصبي ناروغۍ شکايت وکړ نو د ايسو په نامه ځانګړي ځای ته وړل کيده او هلته يوازې په تنهايي کې اچول کيده.

په دې ځای کې وضعيت داسې وه چې شپه او ورځ نه معلوميږي نه ساعت شته او نه بل څه ، حتی مريض ته قبله هم نه معلوميږي افغان عسکر يا نور بنديان هم له مريض سره نږدې نه وي چې دلمانځه په وخت اود قبلې په طرف يې پوه کړي په دې ځای کې

وضعیت دومره سخت و چې مریض به مجبور و چې ووایې چې جوړ یم ترڅو له دې مشکلاتو نجات پیدا کړي.

عصبي مریض ته یو داسې کمیس وراغوستل کیده چې پرتوګ یې نه درلود ، دغه کمیس هم له ډیر نازک ټوکر نه جوړ شوی و چې بیخی نازک او تشناب کاغذ ته ورته و چې ډیر به شکېده او بیا به د بندي بدن لوڅ معلومیده، دقضای حاجت او غسل خانه یې هم په ډیر بد حالت کې وه په اطاق کې یې کیمره لګول شوي وه چې دبندي ټول حالت امریکایانو ته ښکاریده، په هرحال دې حالت به مریض مجبوراوو چې په هره طریقه وي باید له دې عذابه ځان وباسي.

په عموم کې د مریضانو شکایاتو ته توجه نه وه،د عادي مرض لپاره هم باید تر میاشتو میاشتو انتظار شوی وای ، مثلا که به د چا غاښ په درد شونو باید په میاشتو میاشتو یې نوبت ته انتظار کړی وای چې په دې حالت کې به غاښ نور هم خرابیده.

ماته خپله په بګرام کې د سترګو دکمزورۍ مشکل پیدا شو چې په مطالعه کې ډیر ورسره په تکلیف وم ،له ډیرو شکایاتو او غوښتنو نه بعد په شپږ مه میاشت دسترګو ډاکټر ته ولیږل شوم ډاکټر یوازې وکتلم او عینکې یې رانکړې حتی د سترګو نمبر یې هم رانکړل ترڅو مې له سره صلیب یا د ملاقاتیانو له لارې عینکې

راغوښتې وای، ترهغه وخته د سترګو د علاج فرصت رانکړل شو ترڅو له بګرام زندان څخه راووتم او بیا مې د سترګو علاج وکړ.

د بندیانو سره د امریکایانو اونورو مسؤلینو د چلند په اړه باید ووایم چې دغه چلند د یوې ځانګړې پالیسۍ له مخې عیار شوی دی هغه داچې دوی کوښښ کوي چې په بندي بشپړ کنترول ولري دغه راز بندي وپاروي ، جنجال ته یې مجبور کړي تر څو په دې توګه د زندان مسؤلینو ته د جزایي کولو بهانه په لاس ورشي ،د زندان د مسؤلینو چلند په عموم کې داسې دی چې بندیانو ته روحي ځور ورکړل شي او دوی کوښښ کوي چې په هر ډول ممکنه وي بندیان روحا نارامه وساتي.

## ملاقات

په بګرام کې په پیل کې بندیانو بالکل د ملاقات حق نه درلود ،بیا چې کله په وروستیو کې پیل شو نو جریان داسې وه چې مثلا زموږ په بلاک کې ۱۲ پنجرې وې، په هفته کې به یوازې یوه ورځ د یکشنبې په ورځ د ملاقات اجازت ورکول کیده، چې یوه هفته دیوې خوا نمبرا و بله هفته د بلې خوا نمبر و ، له هرې پنجرې څخه په هر نوبت کې یوازې دوو کسانو ته د ملاقات فرصت ورکول کیده، چې په دې ډول هر کس ته په پنځلس اونیو یا درې نیمو میاشتو کې یوازې یو ځل د ملاقات فرصت برابریده، که په همدې ټاکلې ورځ به

دزنداني له ملاقاتي سره ټيلفون رخ نه شو يا به ملاقاتي ته کوم عذر پيښ و نو بندي مجبورو چې تر بل ځل ملاقات پورې بيا پنځلس اونۍ صبر وکړي، مطلب دا چې د ملاقات په برخه کې بنديان او دبنديانو خپلوان له ډيرو مشکلاتو سره مخامخ وو چې ډير ځله خو به بنديان له خپلو خپلوانو سره په ملاقات نه توانيدل، ډير داسې بنديان وو چې د کورونيو سره يې هيڅ احوال نه و، دکور نمبر يې نه درلود او يا د کور په سيمه کې تيلفون کار نه کاوو ،نوځکه يې له خپلوانو سره دملاقات لپاره اړيکه نه شواى نيولى، ځيني بيا داسې وو چې د بندي کيدو په وخت يې ځانونه په بدلو نومونو معرفي کړي و ځايونه او نور مشخصات يې هم بدل ورښودلي وو، دوى له دې امله له خپلو خپلوانو سره ملاقات نه شواى کولاى چې ويريدل هسې نه افشاء شي او اضافه جنجال ورته جوړ شي ، په دې ډول ډير داسې بنديان وو چې کلونه د خپلو خپلوانو له احوال او مرګ او ژوند څخه ناخبره پاته وو او هم يې کورنۍ په اړه کوم احوال نه درلود.

د ملاقات ځاى ته تلل هم په ډير سخت حالت کې ترسره کيدل د بندي سترګي او غوږونه تړل کيدل لاسونه شاته ولچک کيدل او پښې به زولانه کيدلې له هغه وروسته به په ډير سخت حالت کې ملاقات ته بيول کيده، دملاقات ځاى داسې جوړ شوى چې متر په متر کې دوه څنګ په څنګ کوټې وې په منځ کې يې ډبله ښيښه او د

لاوډ سپیکر غوندې سوري لرونکي وسایل لګیدلي و چې له یوې کوټې څخه یې غږ بلې ته انتقالاوو ، دلته به بندي په یوه کوټه کې او ملاقاتي په مقابل بله کوټه کې و چې د یوبل غږ یې په ډیر تکلیف اوریده دلته کیمرې هم لګیدلې وې او دبندي ټولې خبرې کنترولیدلې نو ځکه بندیانو له ملاقاتیانو سره ازاد بحث نه شو ای کولای د اطاقونو په دهلیزونو کې دداخلي او خارجي عسکرو همیشنی موجودیت ، د بندیانو خبرو ته غوږ نیول ، کتل او څارل هغه څه وو چې ملاقات یې اخلالاوو ،د ملاقات قوانین دومره سخت و چې دبندي لخوا بیخي معمولي تخلف هم د ټول ملاقات د فسخ کیدو باعث ګرځیده ،چې په دې ډول ډیر بندیان له ملاقاته محرومیدل،د ملاقات وخت یو ساعت و هغه دوه اطاقونه چې په یوه کې بندي او په بل کې به یې ملاقاتي و په منځ کې یې په هنداره توره پرده کش شوې وه ، خو ددغې پردې لرې کول سخت جرم بلل کیده او هیڅ لوري ته اجازه نه ورکول کیده چې مقابل لوری ووینې، که به چا جزئي هڅه هم کوله سمدستي یې ملاقات فسخ کیده او بیرته پنجرې ته وړل کیده،بله نادوده دا وه چې که به د یوې کورنۍ دوه یا زیات غړي بندیان و او ملاقات ته به یې دری یا څلور کسان راغلي و دوی به نیمایي له یوه بندي سره مخامخ کړل او نیمایي له بل سره او دا اجازه نه وه چې ټولو ته له دواړو بندیانو سره د خبرو کولو فرصت ورکړل شي.

ما په خپله ولیدل چې وراره او اکا بندیان وو او ملاقات ته یې ورونه او پلار راغلي وو ، خو یوځو تنو یوازې یو بندي او څو تنو نورو بل بندي سره خبرې وکړې او له دواړو سره د خبرو اجازه ورنکړل شوه په داسې حال کې چې تر منځ یې یوازې یو څلورانچه دیوال و او دوه کاله بعد یې ملاقات ته راغلي وو.

د خوست ولایت داوسیدونکي قاري اکبر هم همداسې کیسه وه، دنوموړي ملاقات ته یې پلار او دری کلن زوی راغلي و خو ماشوم بچي د ملاقات په حالت کې په ژړا پیل وکړ چې زه مې پلار جان غواړم ، تردې چې د ملاقات وخت یې ټول په ژړا او چیغو ونیو او دقاري اکبر پلار له خپل بندي زوی سره هیڅ په خبره پوه نه شو اما کله چې د ملاقات وخت پوره شو د بشرد حقوقو ټیکه دارانو په هغه دری کلن ماشوم چې سخت یې ژړل هیڅ رحم ونه شو نوځکه یې همداسې ارمانجن له زندان څخه وایستل.

په زندان کې ملاقات او د نویو بندیانو راتګ له بهر حالاتو څخه دخبرتیا یوازینۍ لاره وه، په زندان کې دننه د اطلاع هیڅ ډول وسیله نه وه او نه هم عسکرو بندیانو ته معلومات ورکول، علاوه لا داچې داخلي او خارجي عسکرو به زیاتره وخت بندیانو ته غلط معلومات ورکول، او داسې خبرونه به یې ورته رارسول چې د بندیانو طبیعت وربانديې خراب شي.

خو په افغاني عسکرو کي يو داسې عسکر و چې بنديانو ته به يې ربښتيني معلومات راوړل او له بنديانو سره يې يو څه خواخوږي درلوده، خو داچې دعسکرو ډير معلومات به دروغجن وو بنديانو به په ربښتينو معلوماتو هم باور نشواى کولاى.

دمثال په توګه کله چې دامريکايانو لخوا اسامه بن لادن رحمه الله شهيد کړاى شو، نومونږ ته په هماغه وخت ساتونکو عسکرو خبر راووړ چې اسامه بن لادن له منځه لاړ، مونږ باور وربانديې نه کاوو ځکه دوى به اکثره وخت داسې خبرونه د بنديانو د خوابدى لپاره خپرول، مګر څه موده وروسته چې نوي بنديان راغلل او هغوى هم تائيد کړه چې ربښتيا شيخ اسامه په شهادت رسيدلى دى بيا د بنديانو لخوا د شيخ اسامه بن لادن روح ته د دعاء لپاره د قران کريم ختمونه وشول فاتحه يي واخيستل شوه او دعاګانې ورته وشوې.

## جزايي کيدل

په بګرام کې بنديان په مختلفو طريقو جزايي کيدل سپکه جزا دا وه چې په پنجره کې به يې په بندي د خوراک، بسترې او نورو سهولتونو بنديز ولګاوو او تر ډيرې مودې به يي جريان درلود، دغه ډول جزا به کله يوه يا څو افرادو ته ورکول کيدله او کله به ټوله پنجره جزايي شوه، او په ټولو به د خوراک، بسترې او نورو سهولتونو بنديز ولګيده، کله خو به په پنجره کې جنجال يوه کس

کړي و خو جزاء به یې ټولو بندیانو ته ورکول کیدله له ټولې پنجرې به بسترې، کتابونه او نور ټول لوازم یوووړل شول ، حتی د تخلف په صورت کې به په بندیانو ګاز استعمال شو او له ډیرو مشکلاتو سره به مخامخ شول.

د دغسې جزاء په صورت کې د بندیانو له بسترو او کتابونو نیولې بیا د حمام تر چپلکو او پردې پورې ټول لوازم وړل کیدل، په بندیانو د علاج او ورزش بندیز هم نافذیده په ډوډۍ کې هم تر ټولو بیکاره او کم خوراک ورکول کیده، د بندیانو سره د عسکرو چلند ډیر وحشیانه کیده او د جزایي پنجرې بندیان به یې پرابلمیان بلل چې په هرڅه کې باید له بې رحمۍ او قساوت ډک چلند ورسره شوی وای.

د عمومي جزا سره سره بندیانو ته ډیرځله فردي جزا هم ورکول کیدله، که کوم بندي به د عسکرو د امر مخالفت یا جنجال کاوو یا به د نورو وجوهاتو له امله د امریکایانو په بده ورته پام شو نو بیا به یې په سخت زولانه او تعذیبانه حالت کې ځانګړي ځای ته چې د ایسو په نامه یادیده انتقالاوو، په دې زندان کې به بندي به کوټه قلفي او تنهایي حالت کې ژوند کاوو ، شپه ورځ او نور وختونه به ورته نه معلومیدل، ځکه نه به ساعت و او نه هم داسې څوک چې وخت ترې وپوښتل شي، په دې ځای کې بندي څو شپې په ځمکه خوب کاوو ځکه بستره نه ورکول کیدله ، وروسته هم ډیره معمولي او کمزوري بستره ورکول کیدله، د جزاء په حال کې بندي ته داسې

خوراک ورکول کیده چې نه یې رنګ د خوراک و او نه خوند ځو دانې جوار او لوبیا یې ایشولي و او په بدخونده او بدرنګه ترکیب به یې برابر کړی و چې هیڅ بندي یې دخوړلو اشتهاء نه درلوده داسې بندیان هم وو چې په جزایي حالت کې به یې هیڅ خوراک نه و کړی، د اسدالله په نوم یوه بندي په جزایي حالت کې ۱۴ ورځې خوراک نه و کړی کومو بندیانو به چې خوراک کاوو هم د مجبورۍ او ژوند ژغورلو له امله به یې خوراک کاوو، په جزایي بلاک کې بندیان د عسکرو لخوا قصدا له خوبه ایستل کیدل کله به چې بندیانو ارام کاوو نو پیره دار به راغی او سپنیزه دروازه به یې په لغتو ووهله او ټول بندیان به یې له خوبه وایستل.

که بندي ته به د ځان مینځولو فرصت ورکړل شو، نو باید په دری دقیقو کې یې غسل کړی وای، زیاتره وخت به بندي د غسل په وخت په ځان صابون وهلی و، خو عسکرو به اوبه وربندې قطع کړې او فینش یا ختم غږ به یې وکړ، دغه راز به یې هغه پرده چې بندي به دغسل په وخت ترې نه ښکاریده هم لرې کړه چې دغه حالت دبندیانو په حق کې لوی سپکاوی و.

د جزایي توب په حالت کې د بندیانو سره دعسکرو رویه ډیره وحشتناکه بې رحمانه او له توهین ډکه وه، دوی به ټول وس کاوو چې بندیان څرنګه توهین کړي او رواني ځور ورکړي، امریکایانو خو به په انګریزۍ همیشه ښکنځلې کولې حتی ډیرو یې پښتو

ښکنځلې هم زده کړې وې او په جزاء محکومو بندیان ته به یې ښکنځلې کولې، که د دوو څنګ په څنګ اطاقانو بندیانو به کوښښ کاوو چې خبرې سره وکړي دوی به په باد پکه باندې پلاستیک وځړاوو ترڅو بد او تیز اواز وکړي او بندیان په خبرو سره پوه نه شي دغه ډول به یې په مختلفو طریقو غالمغال جوړاوو چې د ټولو کوټه قلفي بندیانو د ډیر تکلیف باعث ګرځیده.

د جزاء په حالت کې د بندي لپاره هر ډول مخامخ او انټرنیټي ملاقات هم بند و او ترډیره وخته به سخت او تبعیضي چلند ورسره کیده حتی که کوم بندي به د جزاء موده پوره هم کړه وروسته به هم پرابلمي بلل کیده او په هرڅه کې به بد چلند ورسره کیده.

په بګرام کې بل عمده مشکل د شکایاتو د مرجع نه شتون و، څرنګه چې دا زندان تش په نامه دداخلي عسکرو په واک کې ورکړل شوی و خو هغوی هیڅ صلاحیت نه درلود نو همدې خبرې دبندیانو مشکلات لا زیات کړي وو، ځکه که به بندیانو اعتصاب کاوو او شکایت به کیده امریکایانو به ویل چې دا زندان تر موږ پورې تعلق نلري د داخلي عسکرو کار دی خو که به داخلي عسکرو ته شکایت وشو هغوی به سره له دې چې بیا بیا وعده کولې خو عملا یې هیڅ کار په وس پوره نه و او د بندیانو د سهولت یا شکایت رفع کولو لپاره یې هیڅ صلاحیت نه درلود.

په بګرام کې د بندیانو د شکایتونو او جنجال پیدا کیدو عمده لامل دا وو چې دا زندان امریکایانو خپل غیردیني فرهنګ ته په پام سره جوړ کړی و او دا فغان مسلمان اولس هیڅ کلتوري ارزښت په کې رعایت شوی نه و ، لکه د حمام او غسل په وخت د بندیانو ناسم وضعیت، د بندیانو بربنډ لیدل او هر حالت کې د کیمرو په وسیله تعقیب د غسې ځینې غیرانساني جزاء ګانې هغه څه و چې د بندیانو اعتراضونه یې پارول.

په زندان کې د آمر حقوقي، آمراپراسیون او په نورو نومونو افغاني منسوبین وو چې ځانونه یې د زندان د چارو متصدیان بلل خو کله چې موږ ۲۰ تنو بندیانو د لوږې اعتصاب وکړ او تقریبا ۳۰ کسانو شونډې وګنډلې آمر اپراسیون د شکایت اوریدلو لپاره دری ورځې بعد راغی مخامخ یې ډیرې وعدې له بندیانو سره وکړې او د ټولو شکایاتو د رفع ژمنه یې وکړه مګر عملا په وضعیت کې هیڅ مثبت تغیر رانغی.

## په بګرام کې مصروفیت او زده کړه

بګرام سخت زندان و او بندیان په ډیر بد حالت کې ساتل کیدل، د بندیانو د مصروفیت لپاره یوازینۍ ښه شی د کتابونو موجودیت و ، په پنجره کې بیلابیلو دیني، تاریخي او ادبي کتابونه موجود و چې بندیانو وربانديې ښه وخت تیراوو او زده کړه یې ترې کوله ، له مطالعې پرته بندیانو کله ناکله په تسپو جوړولو او نورو لاسي صنایعو باندې هم وخت تیراوو ، خوددې لپاره ځکه ډیر شرایط

برابر نه و چې د غه شیان به په ډیره سختۍ موندل کېدل او د پلچرخي غونډې بندیانو په اسانه نه شوای ترلاسه کولای.

له دې پرته بل هغه څه چې د بندیانو وخت وربانديې تېریده خوب و، زیاتره بندیانو ډیر وخت په خوب تیراوو، او دا ځکه دلته د درس او زده کړو لپاره د بندیانو ترمنځ کوم مناسب تفاهم او ترتیب موجود نه وو او عسکرو هم دا کوښښ کاوو چې بندیان د زده کړو په کولو سره له وخت څخه مثبته استفاده و نه کړي او وخت یې په خوب او عبثو مجلسونو بې ګټې تیر شي.

که بندیان وغواړي په هر زندان کې له وخت څخه ډیره مثبته استفاده کولای شي، ځکه دا سې زندان او پنجره نشته چې هلته دې ځو تنه تکړه عالمان او مدرسین شتون ونلري، ځکه د مجاهدینو په منځ کې زیاتره مدرسین او پوه عالمان دي چې ډیری یې په زندانونو کې پراته دي، نو کله چې د کتابونو سهولت هم موجود وي او استادان هم وي، بندیان که وغواړي په ډیره ښه توګه له زندان څخه د خپلو زده کړو لپاره استفاده کولای شي، د پلچرخي او د هیواد په نورو زندانونو کې د غه د زده کړې سلسله ډیره ښه روانه وه او بندیانو له زندان څخه ډیره ښه استفاده وکړه نه یوازې د علم په زده کړه بلکې د شخصیت او اخلاقو په ښه کیدلو یې د مشرانو مجاهدینو ا و عالمانو خبرو ته په غوږ نیولو له زندان څخه ډیر څه زده کړل.

خو په بګرام کې چې ما لیدل په دې برخه کې کوم منظم او مؤثر کار نه ترسترګو کیدو ، ځیني خلک چې له علم سره یې شوق نه درلود ، له جهاد او علم څخه بیګانه وو او د مختلفو عواملو له وجې بندیان شوي وو ، هغوی نه یوازې خپله د کتاب او درس شوق نه درلود بلکې د نورو مخه یې هم نیوله او که به یې کتاب شروع کړی هم و مقصودي یې نه باله او نه یې ډیر وخت او اهمیت ورکاوو.

د زندان مسؤلینو هم کوښښ کاوو چې بندیان له کتاب او درس څخه لرې او ویده وساتي نو ځکه یې د خوب لپاره ځیني بندیانو ته ځانګړي مالوچ ډوله وسائل ورکړي و چې په غوږونو کې به یې اېښودل تر څو شپه ورځ ارام خوب ونه کړي.

اصل کې هغه بندیان چې د بې علمۍ ،د عمر زیاتوالي او نورو وجوهاتو په وجه له علم څخه بیګانه وو ، دوی د نورو د درس تدریس په وړاندې هم خنډ جوړیدل او د یو مشر عالم او خیرخوا مجاهد خبرې ته یې ډیر غوږ نه کیښود ، زما چې څومره تجربه ده له زندان نه که څوک مثبته استفاده وکړي دغه ځای چې ظاهرا د تعذیب لپاره جوړ شوی دی د ټولنې لپاره د صالحو ، هوښیارو او باشخصیته اشخاصو د تربیې په مراکزو بدلیدلی شي ، چې همدا اوس له زندان څخه راوتلي ډیر مجاهدین یې نغد شواهد دي.

## دوهم فصل

# د زندان مفیدې خاطرې او ګټورې تجربې

دامریکایانو په خلاف دجهاد دلومړي کلونه وو ، په کندهار کې جهادي عملیات پیل شوي وو خو داوس غوندې پراخ او علني نه وو ،ددې لپاره چې جهادي صف نور هم غښتلی شي او پخواني تجربه کار مجاهدین جهادي بهیر ته دعوت شي ، زموږ دملګرو لخوا ماته دنده وسپارل شوه ، چې دپخواني جهاد له یوه وتلي قوماندان سره له نږدې ووینم او په نویو جهادي فعالیتونو ورسره خبرې وکړم ، له هغه جهادي قوماندان سره له وړاندې اړیکه نیول شوې وه ، خو مخامخ لیده کاته مو ورسره نه وو شوي.

څرنګه چې زه په دې سفر کې باید له داسې سیمي تیر شوی وای چې هلته ددښمن نفوذ دی ، دښمن پوښتنې ګرویږنې او تلاشۍ کوي ، نوځکه دا سفر عادي سفر نه و ، بلکې دزیاتره جهادي سفرونو غوندې له مشکلاتو او خطراتو ډک یو سفر و ، دسفر دپیل په ورځ مې له مور ، پلار او دکورنۍ له نورو غړو سره خدای پاماني وکړه ، تقریبا لس بجې وې چې له کوره راووتلم ، مخکې له دې چې له کلي ووزم لومړی مسجد ته لاړم ، او دوه رکعت لمونځ مې اداء کړ ، له لمانځه وروسته مې ددعاء لپاره لاسونه پورته کړل ، دهمدې دعاء

په حالت کې یو عجیب کیفیت راته پیدا شو چې کله مې هم پخوا نه وو لیدلی.

ددې جهادي سفر دنیت په اړه فکر راسره پیدا شو ، او داسې باطني اخلاص او داصلاح النیة حالت راته پیدا شو ، چې تر اوسه ورته حیران یم ، دهمدې خوندور حالت له امله مې دعاء نوره هم اوږده کړه ، له الله تعالی څخه مې د جهادي خدمتونو دقبولیدو خواست وکړ ، دغه راز مې په ټولو جهادي امورو کې دمرستې او نصرت دعا وکړه ، په دې حالت کې ددې لپاره چې د اخلاص باطني حالت مې ښه تمثیل کړی وي خپل سر مې ددعا په حالت کې په دواړو لاسونو ونیو ، او لکه دالله تعالی مخ ته یې چې عرض کوم ، له ځان سره مې وویل اې الله تعالی له ما سره خو بل هیڅ نشته یوازې همدا یو سر لرم ، چې ستا په لاره کې یې قربان کړم ، او ستاد لارې خدمت ورباندې وکړم ، اې الله تعالی که چیرې زما په همدې صورت ، په دې سر ، سترګو ، ژبه ، زړه ، وینو او نور بدن باندې ستا ددین دلارې خدمت کیږي ، نو زه یې نه دریغوم ، اې الله تعالی ته له مانه ددین په لاره کې کار واخلې ، نیت مې خاص ستا رضا وګرځوې او په دې لارې کې مې هر لوی او کوچنی عمل قبول کړې.

د جهادي سفر له پیل نه وړاندې د دوه رکعته نوافلو لپاره دکلي مسجد ته ورګرځیدل ، او بیا هلته په دعا او داصلاح النیة په لحاظولو مشغولیدل زما لپاره هسې تصادفي عمل وو چې الله

تعالی په هغه وخت کې په زړه کې راوګرځول ، مګر د دې عمل نتیجه بیا ماته په زندان کې او د دې سفر به نورو سختو مراحلو کې معلومه شوه ، چې څومره ستره او مثبته نتیجه یې درلوده.

څرنګه چې زه خورا په اخلاص ، پاک نیت او د قربانۍ په اراده په دې جهادي سفر روان شوم ، نو د همدې اصلاح النیة له برکته بیا د دې سفر هیڅ سختي او ستړیا هم زما لپاره مشکله نه وه ، بلکې هرډول تکالیف مې په خورا هوسایي سره زغمل.

که د زندان په مرحله کې به هرډول تکلیف ، لوږه ، تنده ، یخني ، ګرمي یا د دښمن لخوا تعذیب راباندې راغی خو ما ته به همدا حالت راپه یاد شو او یو ډول اطمینان او سکون به مې احساساوو ، څرنګه چې زه یوازې د الله تعالی د راضي کولو او د قربانۍ په نیت په دې سفر راوتلی وم او بیا زنداني شوی وم ، نو په هر تکلیف به مې خوند اخیست چې دا ټول د هماغه اولني اصلاح النیة او فکري امادګي نتیجه وه.

له همدې امله باید ووایو چې مجاهدین چې هر جهادي عمل ترسره کوی باید د نیت اصلاح ته خاصه توجه وکړي ، د نیت د اصلاح خورا زیات فوائد ما لیدلي دي ، که له یوې خوا د نیت د اصلاح له برکته په هرجهادي عمل او تکلیف باندې پوره پوره نتائج مرتب کیږي ، او د سړي اخروي ذخیره ورسره زیاتیږي ، له بلې خوا سړی

خورا مطمئن وي ، هیڅ تکلیف او درد نه احساسوي ، له هیڅ ګیله من نه وي ، ځکه هرڅه یې د خدای تعالی لپاره وي ، په هرتکلیف باندې خوند اخلي ، خصوصا که سړی بیا زنداني کیږي ، نو زندان تیرول ورته خورا هوسا وي ، هلته داسې مطمئن وي چې داسې اطمینان شاید بیا هیچرې هم ونه مومي ، ځکه په حدیث شریف کې راغلي چې دانسانانو زړونه دالله تعالی په ګوتو بلاکیف کې دي ، یعني دټولو زړونو واک له الله تعالی سره دی نوځوک چې نیت خاص لله فی الله وګرځوي ، نو الله تعالی یې په عوض کې په زړه کې داسې اطمینا ن کیږدي چې هیڅکله نه زائله کیږي.

## نیول کیدل او دتیلیفون جنجال

د جهادي سفر په ترڅ کې مې چې له جهادي قومندانانو سره دلیدو کتو دنده راسپارل شوې وه ، په دې لړ کې غالبا هغه وخت وو چې د پنجوایي لوی جنګ شوی وو ، زه د حاجي عبدالحلیم په ملګرتیا یوځل هرات ته لاړم ، له هراته وروسته بیا دروژې په اوله کابل ته لاړم ، په کابل کې د قوای مرکز په سیمه کې په شینواري مارکیټ کې مې شپه وه ، ماخستن مو دتراویحو لمونځ ادا کړ ، چې ناڅاپه دداخلي او خارجي عسکرو غر پورته شو ، چې په موږ یې چاپه اچولې وه ، دوی په کوټه راداخل شول او پروت پروت چیغې یې وهلې.

په دې وخت کې زما سوچ په خپلو مبایل ټیلیفونونو کې بند شو ، ځکه له لمانځه وړاندې مې خپل دواړه تیلیفونونه چارج ته ایښي وو ، چې په یوه ټیلفون کې دډیرو ملګرو نمبرونه او په بل کې دپنجوایي دجنګونو او مجاهدینو عکاسۍ وې ، څرنګه چې ما اوریدلي وو چې ټیلیفون دبندي لپاره ترټولو لوی سرخوږی جوړونکی سند بلل کیږي ، نو ټول کوښښ مې وکړ چې دټیلیفون سیم کارت دوی ته په لاس ورنشي ، خو یوازې سیم کارت نه و بلکې دمجاهدینو ویډیوګانې ، ترانې او نور ډیر شیان هم وو ، په دې وخت کې زه پوه شوم چې په ټیلیفون کې داسې شیان ساتل له خپل ځان سره ظلم کول او دښمن ته په لوی لاس ځان په لاس ورکول دي ، ما ویل که الله تعالی ازاد کړم او دبل ځل لپاره یې دجهاد موقع راکړه ، نو هیڅکله به له داسې شواهدو ، یعنې په ټیلیفون کې دمجاهدینو له ګڼ شمیر نمبرو ، جهادي ویډیوګانو او نورو اسنادو سره په ښار کې او ددښمن په سیمو کې ونه ګرځم ، ځکه داشیان چې یوځل دښمن ته په لاس ورشي ، نو بیا ترټولو قوي سند بلل کیږي ، او بندي سخت ډیر ورباندې ځوروي.

که مجاهدین دخپلو ملګرو نمبر هم له ځان سره ساتي ، نو باید چې په سیم کارت کې وي ، نه په مبایل سیټ کې ، ځکه سیم کارت هرځای پټیدای او حتی په غاښو باندې ژر ماتیدلی شي ، چې ټول

نمبر په کې ړنګ شي خو که په مبایل کې نمبر وي مبایل بیا په اسانه له دښمن څخه نه شي پټېدلی.

دښمن د چاپې په وخت ما کوښښ وکړ چې د ټیلفون سیم کارت چیرې پټ کړم ، په داسې حال کې چې د دښمن پروت پرو ت نعرې راباندې شروع وي او زما د پرېیا سلو هڅه یې کوله ، په خپل کوښښ مې سیم کارت ترغالۍ لاندې کړ ، خو فایده یې ونه کړه ځکه چې وروسته بیا د دښمن لاس ته ورغی ، خو لله الحمد هغه ټیلفون چې ویډیوګانې په کې وې هغه ورک شو ، فکر کوم کوم عسکر به غلا کړی وي او په دې غلا کې به زما خیر وو ځکه د تحقیق په وخت کې د هغو ویډیوګانو په باره کې هیڅ پوښتنه رانه ونه شوه.

که له ویډیوګانو ډک تیلفون د دښمن لاس ته ورغلی وای نو زما په خلاف د شواهدو لپاره کافي و او دې به زما دوسیې ته ډیر تاوان کړی وای.

دښمن ته چې د نیولو په مهال کوم سیم کارت په لاس ورغی هغه ډیر د اندېښنې وړ نه و ځکه اکثره عمومي نمبر په کې وو او زما لپاره کوم مشکل ترې نه جوړیده خو بیا هم ما ځان په بدل نوم معرفي کړ د دې لپاره که د سیم کارت په باره کې پوښتنه وشي هم زه به ورته ووایم چې دا زما سره تعلق نلري د بل چا دی.

ما د ګلالي په زندان ریاست هفتدهکې هم د ډیرو سختیو سره سره په خپل نوم او تعارف باندې اعتراف ونکړ سره له دې چې د کندهارله ښار څخه ځیني حکومتي جاسوسانو په ما شاهدي ویلي وې زه یې ورته معرفي کړی وم چې همدا ډاکټر عزام دی خو ما اعتراف ونکړ.

د زنداني لپاره تیلیفون ډیر لوی سرخوږی جوړولی شي نو ځکه خو باید له ټیلیفون سره احتیاط وشي تر څو د بندي په خلاف د شواهدو کار ورنکړي ، اما په زندان کې دننه د تیلیفون درلودل او استعمال بیا ګټې لري ، خو باید محتاطانه استعمال شي ځکه تیلیفوني اړیکي د استخباراتو لخوا کنترولیږي نو ځکه باید داسې خبرې په کې ونه کړي چې د بندي په خلاف د شواهدو کار ترې واخیستل شي.

بندي کولای شي په زندان کې له تیلیفون څخه په استفاده همیشه له خپلې کورنۍ سره رابطه وکړي،د خپل تحقیق او دوسیې په اړه له بیلابیلو مراجعو سره رابطه وکړي او ملګرو ته احوال ورکړي ؛ دغه راز له نورو زندانیانو سره رابطه وکړي چې په دې ډول تیلیفون د بندي لپاره یوه ښه ګټوره وسیله ګرځیدلای شي.

## په ریاست اول کې لومړني تحقیقات

د نیول کیدو په دوهمه ورځ یې په ریاست اول کې تحقیقاتو ته وغوښتم، او د نوم ، پلار نوم ، وطن او نورو مشخصاتو پوښتنه یې راڅخه وکړه، خو ما په خپل نوم ورته ځان معرفي نه کړ، ځکه ما ځان دوی ته دومره مطلوب نه باله نو ویل مې چې ولې په خپل اصلي نوم ځان ورته معرفي کړم، بلکه دا چې په ښار کې د ځینو ملګرو نمبرونه راسره و ، نو مې ویل که اقرار ورته وکړم نو هغوی ته هم خطر متوجه کیږي نو مې له ځان سره ټینګه فیصله وکړه چې نه به ورته خپل اصلي نوم منم او نه به په هیڅ کار اعتراف کوم، نو مې ځان د خپل شهید ورور عبدالباري په نوم معرفي کړ او د نیکه نوم مې د پلار د نوم په ځای ورته وښود ، ما چې کله ورته خپل خپل نوم د پلار نوم او وطن یاد کړل، نو د ریاست اول رئیس چې د میز تر شا ناست دی او څو نور کسان هم ورسره ناست دي یو ازې خپلې کتابچې ته ګوري او تر خپل منځ خبرې نه کوي که کله ضرورت شي نو په فارسي لنډې خبرې سره وکړي.

دوی له مانه بیا بیا مکررې غوښتنې وکړې چې خپل اصلي نوم او وطن راته وښیه ، خو زه ورته ټینګار کوم چې همدا مې نوم او وطن دی، وروسته یې زما اصلي نوم د پلار نوم او اصلي وطن ټول په تفصیل راته ذکر کړل، خو ما ورته انکار وکړ ډیر یې یوه بله خوا کړم خو ما ورسره هیڅ نه منل، بیرته یې بوتلم.

څو ورځې بعد چې د روژه مات وخت نژدې دی او زه له نیول کېدو وروسته چې دا شپږمه ورځ کېږي په جزايي حالت کې یم، هغه داسې چې دا پنځه شوا روزه ولاړ یم ،صرف ماخستن په لس بجې دخوب او ناستې اجازه راکوي خو په نیمه شپه دوه بجې مې بیرته ولاړوي او د ولاړې جزاء پیلیږي،ورځ مې لمر ته تیریږي چې خړ توس یې په سر راچولی وي،په دې ورځ د روژه ماتي په وخت چې زه په ډیر سخت جزايي حالت کې یم د مدیرعبدالاحد په نوم د استخباراتو مدیر راغی او راته وایې چې ځان مه ټوکر ټوکر کوه روژه هم ده ، اعتراف وکړه موږ دې پیژنو چې ته ډاکټر عبدالواسع یې، ما بیا هم انکار وکړ، وروسته یې زما د اکاګانو نومونه حاجي نانی اغا او حاجي ندامحمد راته واخیستل چې دا پیژنې؟ما ورته وویل چې نه یې پیژنم، مدیر وویل چې بهر ولاړ دي له وزیر څخه یې د ملاقات امر راوړی دی او غواړي له تاسره ملاقات وکړي،ما ورته وویل زه یې نه پیژنم ، وروسته یې له جیب څخه مبایل راویوست او زما عکس یې واخیست بهر ووت او لږ شیبه وروسته بیرته راغی، ویل یې ستا عکس مې ورښکاره کړ هغوی ویل چې همدغه ډاکټر عبدالواسع دی، د کندهار د سپیروان دی عبدالباري یې د شهید وروړ نوم دی، د پلار نوم یې عبدالباقي دی او د نیکه نوم یې حاجي محمدیار دی ،مدیر وویل چې دوی ستا ملاقات ته راغلي دي، ما

ورته بیا هم هماغه ځواب ورکړ چې زه یو هم نه پېژنم او له دې خبرې سره مدیر هم بیرته لاړ.

ماخستن مې له ځانه سره فکر وکړ، چې اوس خو ستا هغه مقصد حاصل نه شو چې غوښتل دې خپل نوم بدل کړې او پټ یې وساتې اوس خو دادی دوی پوره درباندې خبر دې او سم دې پېژني او سبا بله ورځ شاید خپلوان هم ملاقات ته راشي او که زه خپل نوم ونه منم نو ملاقات هم ناشونی دی، بله دا چې د نوم نه منلو له امله زما سزا ډیره اوږده شوه، ۱۵۲ ساعته بې خوابي په ولاړه دریدل او دورځې سره لمر ته کمپله په سر جزايي حالت دغه راز هره ورځ د استخباراتو د رئیس ګلالی وهل تعذیب او اوس شاید دا حالت نور هم اوږد شي، نو مې ماخستن ورته ومنله چې زما نوم عبدالواسع دی، سهار د امنیت د عمومي رئیس معاون عبدالحکیم نورزی راغی او ویې غوښتم دا هغه کس دی چې د تحقیق په لومړۍ ورځ د ریاست اول د ریاست له څنګ سره ناست و خو په هغه ورځ یوازې په فارسي غږیده، نن یې په سوچه کندهارۍ لهجه پښتو خبرې راسره شروع کړې، راته وایي چې ستاسو مشران او کورنۍ زه ټول پېژنم او رښتیا یې هم پېژندل، ځکه دوطن نښانې یې راته وویلې، ماته وراره وایي او څنګه چې په قوم کې سره یو یو نو دغه دعزیز ګلوۍ غاړه یې راوخیسته، د ریاست اول رئیس ته وایي چې دا خو زما وراره دی، ګورئ چې درنه خپه نه شي، نوې جامې، خولۍ، جاینماز او

هرڅه يې چې ضرورت وي ورته رايې وړئ ما ته وايي چې ستا څه ضرورت دی، ما په تيرو شپږو ورځو کې يوازې د لمانځه فرصت درلود نور به د شپې له دوو بجو بيا د بلې شپې تر لسو بجو ولاړ او بې خوبه وم ، ما ورته وويل چې نور هيڅ ضرورت نلرم يوازې دغه ګلالی ظالم راځي هر مازديګر وهل او تعذيب راکوي او ډير بد ښکنځل هم کوي،زه يې له وهلو نه يم په تنګ زه يو بندي يم مګر ښکنځلو ته هيڅ ضرورت نشته که له ښکنځلو يې منع کړئ نو دا به ډيره ښه وي، په دې وخت کې ده ځان راته معرفي کړ چې زه د امنيت ملي د عمومي رياست او پراتيفي مرستيال يم ، زه به ګلالی له ښکنځلو منع کړم او بيا به ښکنځلې نه درته کوي، نور څه خدمت درته وکړم ما ويل بس همدا خدمت وکړه نور نه غواړم ، له همدې خبرې سره ولاړ شو او لاړ.

سبا بيا راغی،دا ځل يې په خورا عادي ښه د وطن کيسې راته شروع کړې، داسې راته لګيا دی لکه د ډيره وخته چې سره شناخته يو ، ماته وايې چې دا زما او ستا ازاد مجلس دی ، هر څه به وايو د وطن خبرې به سره کوو ،له ما سره داسې وضعيت کيږي لکه هيڅ چې زه بندي نه يم ،په ښه يخ ايرکنډيشن اطاق کې ناست يم،د الوبالو يو خاص قسم خارجي جوس راته ايښی دی،چای او وچې ميوې هم پريمانه راته پرتې دي،زه چې له څو ورځې بيخوابۍ او مشکلاتو وروسته په دې حالت اوښتی يم نو داسې ګمان کوم لکه زنداني نه

بلکې میلمه چې یم ، ځکه د زندان او تحقیق اړوند هیڅ خبره نشته، د استخباراتو معاون چې ما وراره بولي او ځان راته اکا اکا کوي، ازاد مجلس راسره کوي د وطن په مسلو او حتی د مجاهدینو په حالاتو راسره غږیږي، دغه وخت کله په زړه کې خوشاله شم چې والله مفت ازاد شوې او هیڅ مشکل نشته ځکه وضعیت ټول همداسې روان دی، اکا لګیا دی خوږې خوږې خبرې پسې اوږدوي زه کله د تیرژوند په چورت کې شم ،کله د دغه سړي له مهمان نوازۍ نه متاثر شم او کله بیا د پنجوایي نوی جهادي سنګر راپه یاد شي چې په ډیرو ستونزو او کوششونو مو فعال کړ او مجاهدینو په کې ډیر قربانۍ ورکړې، همدغه مهال مې د وطن زخمیان ، شهیدان او د دښمن له لاسه بمبارونه او ظلمونه راپه یاد شي، دلته به خپله یوه تجربه درسره شریکه کړم هغه دا چې کله سړی ډیر عاجز او مظلوم شي نو بیا د چا له لږ کومک او مهربانۍ څخه هم سړی سخته متاثره کیږي او خورا ډیر قدر وربانديې لري، چې دلته زه هم په همداسې حالت کې ګیر وم.

عبدالحکیم نورزی لګیا دی خبرې پسې اوږدوي، په خبرو کې یې یوه عجیبه کیسه هم وکړه وایي ته خو د پلاني صاحب هم قریب یې ؟ما ورته وویل هو ، ده وویل هو ماته معلومات دی ، د طالبانو په وخت کې زه په اروپا کې وم، او پلاني صاحب له ماسره داسې کومک کړی چې تر مرګه به مې هیر نه شي، او دا چې ته د هغه قریب یې نو بیا خوزه بیخي له تاسره هرڅه کوم او ازادوم دي.

دداسې خبرې په اوریدو نو مایوسه شوی بندي داسې فکر کوي چې بس نو خلاص شوم او سبا دا مهال به که خیر و په کور کې یم او یا به د سنګر له مجاهدینو سره یم ، خو خبره دومره ساده نه ده.

ثالاک او دورغجن محقق خپلې خبرې ته دوام ورکړ چې دطالبانو په وخت کې زما د اکا زوی د طالبانو سره جنجال کړی و ، او په طالبانو ډیر ملامت شوی و ، چې په کندهار کې بندي و خو پلاني صاحب بیرته خلاص کړ ، چې زه به دده دا کومک هیڅکله هیر نه کړم او اوس چې دده قریب یې نو ماته یو فرصت دی چې ددې احسان بدله یې ورکړم.

ثالاک محقق په داسې مهارت خبرې کولې چې زه یې بیخي په خپل خلاصون متیقن کړم دغه مهال نو زه له خوشالۍ په جامو کې نه ځاییدم او ارمان مې کاوو چې کاشکې مې په اوله ورځ ځان ورښودلی وای، خیر عبدالحکیم نورزي خپلو خوږو خبرو ته دوام ورکړ او د قوم او خپلوۍ په لیول یې مجلس نور هم پسې وغځوئ کله یې چې زما تود عکس العمل ولید سړی پوه شو چې په دې شکل یو کار کیږي،نو یې خبروته دوام ورکړ، مختلفې خاطرې او کیسې یې رامیدان ته کړې،ترد ې چې خبره یې دپاشمول تر کاکا عبدالخالق پورې ورسوله، (کاکا عبدالخالق چې په پنجوایي کې دمجاهدینو قومندان و )راته وایي چې دا په قوم څوک دی دا عبدالخالق او څنګه سړی دی؟ ما ورته وویل چې د پوخ عمر سړی دی او د پاشمول دی ده ته ټول

معلومات و خو هسې يې زما رښتيا او دروغ معلومول چې زما برخورد ورسره سم شوی دی او که اوس هم له هرڅه انکار کوم، په هرحال عبدالحکیم نورزي چې هغه وخت د ملي امنیت د لوی ریاست معاون و او بیا د حکومت د ملي امنیت د شورای معاون شو، خپلو خبرو ته یې دوام ورکړ، کله چې په دې پوه شو چې زه یې په صمیمیت او نرمو خبرو سره متاثره کړی یم نو یې خپل اصلي مطلب ته مقدمه جوړه کړه او یو اوږد داستان یې راپیل کړ.

وايي زه خلقي وم او د کمونیستانو په انقلاب کې وم، خپلو خلکو ته ډیر وفادار وم او د حالاتو مطابق مې کندهار ته هرډول خدمتونه وکړل، بالاخره د حالاتو د بدلیدو له امله له افغانستان څخه پاکستان ته لاړم او غوښتل مې چې د دنیا کومې برخې ته لاړ شم.

کله چې د پاکستان ژوب علاقې ته ورسیدم هلته ونیول شوم چې بیا تقریبا شپږ کاله همدلته پاته شوم، په دې شپږ کاله کې مې نه یوه خلقي نه یوه انقلابي ملګري او نه کوم اندیوال او دوست پوښتنه وکړه، او نه چا زما د خلاصون فکر او هڅه وکړه حتی یو پنځه روپۍ لا چا نه را واستولې، تردې چې پلار مې څلورنیم کاله بعد ملاقات ته راغی هغه هم د یوه پردي کلیوال په نوم او بیا یې شپږ سوه که پنځه سوه کلداري راکړې او بیرته لاړ، پس له شپږو کالونو خلاص شوم او اروپا ته لاړم او هلته له ډیر وخت وروسته له خپلې میرمنې او ماشومانو سره په داسې حال کې یوځای شوم چې زما ویښته سپین

شوي وو او کله مې هم زړه شوې وه په داسې حال کې زموږ د ګډ ژوند لړ وخت يو ځای سره تير شو او د ځوانی عمر ټول همداسې به جلاوالي کې راباندې تير شو ، په دې وخت کې يې بيا يوه اشاره راکړه وايي زه خبر شوی يم چې تا هم نوی واده کړی دی.

وروسته راته وايي چې ما دانقلاب لپاره ډير تکليفونو ومنل خو په سخت وخت کې اندېيوالانو يوازې پريښودم،تردې چې يوازې خپل سپين ږيری پلار راپاته شو ، نو ته هم ډير په اندېوالانو مه نازيږه هغوی خپل کار درنه اخلي او بيا دې يوازې پريږدي.

وروسته يې په ازاد مجلس کې يو علمي بحث راشروع کړ او د نبي عليه الصلوة والسلام د حديبيې د صلحې کيسه يې ټکي په ټکي وکړه ،کيسه يې داسې په دقت او له دومره جزياتو سره ياده کړې وه چې زه ورته حيران يم ځکه بيخي ډير تفصيل يې په کې وکړ ،له کيسې نه يې د مصلحت اصل راويوست چې نبي عليه السلام مصلحت په نظر کې درلود او د مصلحت مطابق يې فيصلې کولې ، بيا يې په مصلحت زما نيول هم ورتفريع کړل، چې د مصلحت په خاطر داسې پيښيږي او د شرايطو مطابق بايد داسې اقدامات وشي، په دې سره يې زما جرأت نور هم زيات کړ ،دا د دښمن يو لوی چل دی چې بندي په مختلفو طريقو سره تيرباسي.

په پای کې راته وایي چې وراره اوس چې نیول شوی یې زه به د خلاصون یوه لاره هم درته وښیم چې ته کولای شي په ډیره اسانۍ بیرته خلاص شې ما ورته وویل: چې بیخي سمه ده کورودان. دی وایي چې دا خو حکومت دی او ستا په نیول کیدو ډیرې اداري خبرې دي چې زه دې په اسانه نه شم خلاصولی خو یوه طریقه به درته وښیم چې کولای شې په هغه طریقه ځان خلاص کړې او هغه دا چې موږ د ملي امنیت په قانون کې یوه ماده لرو چې ۲۰۰ ماده ورته وایي، ددې مادې په بنسټ که بندي له حکومت سره یو څه مرسته وکړي یعني یو معلومات ورسره شریک کړي نو حکومت یې باید ددې همکارۍ په مقابل کې ازاد کړي چې بیا حتی رئیس جمهور یا کومه بله اداره هم نه شي کولای چې دبندي دازادۍ مخه ونیسي ځکه موږ ورته وایو چې دې سړي له موږ سره همکاري کړې او دهمدې مادې په اساس ازادیږي.

څالاک محقق وایي چې وراره ګله زه له تا څخه داسې کومک نه غواړم چې دروند وي او ستا په وس نه وي پوره بلکې ډیره اسانه طریقه ده چې یوازې ستا خلاصون ته طریقه جوړه شي. زه ورته وایم سمه ده راته ووایه.

دی وایي موږ خو خبر یو چې تا کابل ته فدایان راوستي دي، ته ونیول سوې او هغه فدایان پاته دي، نو اوس هغه فدایان په دې خاطر راته وښایه، چې یو خو خپله هغه فدایان له مرګ څخه خلاص شي او

بل دا چې نور وطنداران چې ورسره وژل کیږي هغه به هم له مرګه خلاص شي، دواړه طرفه مسلمانان او افغانان دي ته به ددوی دواړو ژوند خوندي کړي او الله تعالی وایي : و من احیاها فکانما احیا الناس جمیعا. په دې کار کې ستا ثواب هم ډیر کیږي او د ۲۰۰ مادې په اساس به ازاد هم شې ، هغه فدایان موږ وژنو نه ، یو څه وخت به بندیان شي او بیرته به ستا غونډې هغه هم ازاد شي ،او بل دا چې هغه د فدایانو صدرۍ او د باروتو او بمونو د پټیدو ځای هم راته وښیي تر څو چا ته ورباندې تاوان ونه رسیږي نو که ته دا همکاري وکړې خامخا به خلاص شې !

ما ورته وویل: اکا زه خو نه په وسلو او بمو خبر یم او نه مې فدایان راوستلي دي نو دا به څنګه شي ؟

راته ویې خندل او ویې ویل چې که حکومت ملا برادر اخوند نیولی وای هم دومره نه خوشاله کیده لکه ستا په نیولو چې خوشاله شو ،ځکه هغه خو له لرې قومنده درکوي او دا تاسو یئ چې دلته په ښارو کې ګرځئ راګرځئ او عملي کارونه کوئ، نو که ځان خلاصوې ما خو دا لاره درته وښودله.

ماته ناڅاپه الله تعالی په زړه کې یوه خبره راواچوله او ورته ومې ویل: چې اکا بل چل به وکړو ، زه خو نه فدایي پیژنم او نه مې راوستي دي خو ستا د غوښتنې په خاطر به داسې وکړو چې زما زوی

ځوان دی، تیلیفون راکړه زه به کورته تیلیفون وکړم هغه به راوغواړم او چې کله دلته راشي تاسوته، نو تاسو صدری یا باروت یا بمونه هر شی چې وي ورسره اعلان کړئ او په تلویزون یې ښکاره کړئ چې دغه دی فدایي مو ونیو، نو دا به زما لپاره د خلاصون لاره شي، تاسو وایئ چې فدایان هم بیرته ایله کوو، نو زما زوی ځوان دی خیر که څه وخت په زندان کې تیر کړي زه به خلاص شم او وروسته به هغه هم راخلاص شي.

دا ځواب ماته هسې الله تعالی په زړه کې راوست کنه زه عبدالحکیم نورزي په خپل اوږده داستان بې ځوابه کړی وم خو چې کله مې دا خبره ورته وکړه دده ټوله سلسله مې ورخرابه کړه، نو ځکه یې په مایوسۍ راته وکتل او دا سې معلوم شو لکه کوم ځواب چې نلري نو ځکه یې دا ځل په جدیت وویل چې ستا زوی مه راغواړه هغه دبل زامن دي چې راوستي دي هغه په لاس راکړه. ما ورته وویل چې ما هیڅوک هم نه دي راوستي په دې سره محقق بشپړ مایوسه شو مامورینو ته یې امر وکړ چې دی بوزئ، له دې وروسته ددوی له ما څخه تمه وختله او پوه شول چې په نرمه راڅخه معلومات نشي اخیستلی نو ځکه یې سختې سزاګانې پیل کړې چې دغه بهیر تر ډیره روان و.

ما د څلاک دښمن د ۲۰۰ مادې په اساس خلاصیدل رد کړل، خو څو ورځې وروسته مې چې تلاوت کاوو، د آل عمران سورت ۲۰۰ نمبر

ایت تـه متوجـه شـوم چې داسې و: يَـا أَيُّهَـا الَّـذِينَ آمَنُـواْ اصْـبِرُواْ وَصَابِرُواْ وَرَابِطُواْ وَاتَّقُواْ اللّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ۲۰۰ آل عمران ترجمه: اې مؤمنانو صبر وکړئ، استقامت وکړئ او سرحدونه وساتئ او له الله تعالی وویرېږئ امید دی چې خلاصون به پیدا کړئ.

په دې ۲۰۰ آیت مې داسې ټینګ یقین شو چې الله تعالی د دښمن د ۲۰۰ مادې په عوض راته په دې آیت کې د خلاصون نسخه ښودلې او هغه دا چې صبر او استقامت وکړم او د دین حدود وساتم او یوازې له الله تعالی وویرېږم ، د دې آیت له لیدو سره مې په زړه کې د خلاصون یقین پیدا شو چې که چیرې له دغې قرآني مادې او نسخې څخه استفاده وکړم چې دا دی وروسته الله تعالی په شدائدو له صبر وروسته په عافیت سره راخلاص کړم او هم یې د دښمن له ټولو چمونو او فریبونو څخه په آمان کړم. والحمد لله علی ذالک

## په ریاست هفتدهکې لومړنی تحقیق

کله چې په ریاست اول کې د سختو تحقیقاتو، جزاګانو او تعذیبونو له تیرولو وروسته ریاست هفتده ته وسپارل شوم، نو دلته د دښمن د وحشت او شکنجو اصلي مرحله پیل شوه، د دې ریاست رئیس د حاجي ګلالي په نوم یو وحشي انسان و چې اصلا د کندهار او سیدونکی و، دغه سړی چې ویل کیږي له امریکایي استخباراتو سره له ډیر پخوا لاس درلود د امریکایانو له راتګ وروسته د

کندهار د ملي امنيت رئيس شو چې سخت وحشتونه يې ترسره کړل، وروسته د کندز دملي امنيت رئيس شو، او دغه وخت د کابل د رياست هفتدهرئيس و ،نوموړي په وحشت او قساوت کې نوم درلود ، ما په رياست اول کې ۲۳ ورځې تيرې کړې چې هلته به هم کله ناکله دغه ګلالی نامی وحشي راتلو او تعذيب يې راکاوو ، او کله چې دنوموړي رياست يعني رياست هفتدهته راوړل شوم، دغه وخت خو هېول واک دده و ، ګلالي په لومړی ورځ دوه تجربه کار ځارنوالان يا مستنطقين راته وټاکل، په دوی کې يو عبدالحميد نوميده چې د شمالي د سيدخيلو اوسيدونکی و او ويل کيدل چې ۳۲ کاله مستنطق پاته شوی دی ،د بل تن نوم رانه هير دی خو د پنجشير اوسيدونکی و ، دوی په اول ځل راته وويل چې رئيس صاحب ګلالی له تا څخه د څلورو پوښتنو ځواب غواړي، چې بايد پوره حال راکړې او کنه نو ګلالی خو بيا تاته په خپله معلوم دی.

۱ - ملامحمد عمر اخند چيري دی د ځای په اړه يې معلومات راکړه
۲ ــ اسامه بن لادن چيرته اوسي
۳ ــ ستاسو جنګي اکمالات له کومې لارې، څنګه او په کومه طريقه کيږي ؟
۴ ــ دګلالي زوی چې په کندز کې کله چې ميدان هوايي ته تلو او له ترجمانانو سره يو ځای په چاودنه کې له منځه لاړ دغه کار چا وکړ په اړه يې معلومات راکړه ؟

دا پوښتنې يې وکړې او ويې ويل چې دد غو پوښتنو په اړه به ته موږ ته خامخا معلومات راکوې، ما چې له ځان سره فکر وکړ، نو دې نتيجې ته ورسيدلم چې بايد له هر څه منکر شم، څارنوالانو ډير کوښښ وکړ او بيا بيا يي تهديدولم چې هله زر معلومات راکړه، موږ بيرته ګلالي ته ورځو چې يو څه خو له ځان سره وروړو، موږ يي همدې ته موظف کړي يو، وروسته يي د ګلالي خط هم راښکاره کړ چې زما په اړه يي دوی ته ورکړی و، څارنوالانو راته وويل چې ګلالی تا پيژني چې ته مهم شخص يې او دا ټول معلومات تاته شته، نو ځکه خامخا بايد ځواب ووايې.

ماورته وويل چې هيڅ معلومات نه لرم او دوی له دوه دری ساعته خواريو وروسته بيرته لاړل.

ماښام ګلالی ظالم له لسو تنو څارنوالانو او باډي ګارډانو سره يوځای راغی، چې ورسره قومندانان اسد پغمانی، عبدالصمد کوهستانی، عبدالودود کابلی چې وروسته د لوی څارنوال مرستيال شو، د نظارت خانې آمر چې دغزنې او سيدونکی و، او زما لپاره تاکل شوی کمونيست څارنوال عبدالحميد او څو نور کسان هم و، ټول کيناستل او زه يې د ټولو ترمخ له ميز سره کينولم، دوی هماغه څلور پوښتنې بيا بيا تکرار کړې خو هرځل زما له انکار سره مخ کيدل او ورته ويل مې چې ماته هيڅ معلومات نشته، بالاخره غزنيچي څارنوال له ما پوښتنه وکړه چې د طالبانو په وخت کې ستا

وظيفه څه وه، ما چې کله ورته وويل چې د سرې مياشتې مرستيال وم ، نو غږ يې کړل چې بس بس چوپ خبرې مه کوه، له ځايه ولاړ شو، او داسې خوشاله شو چې حالت يې بدل شو نورو ته يې مخ وروا ړاوو او په ډيره خوشالۍ يې ورته وويل چې د مسعود قاتل مې پيدا کړ، څارنوال په اطاق کې ګرځي خو شاله خوشاله کيږي او همدا وايي چې د مسعود قاتل مې پيدا کړ، په دې خبره زه هم حيران شوم هغه نورې څلور پوښتنې مې هيرې شوې او په دې فکر کې يم چې اوس به له دې جنجال سره څه کوو.

څارنوالان غلي ناست دي ما ته هم د خبرو اجازه نه راکوي او ترخپل منځ د سترګو په اشارو او غلي غلي سره غږيږي، په دې وخت کې څارنوال په تيليفون اخته شو او د سرې مياشتې له مسؤلينو سره يې خبرې وکړې، کله چې خبرې خلاصې شوې له مايي پوښتنه وکړه چې ته د سرې مياشتې کوم معاون وې؟ ما وويل صحي معاون وم. څارنوال وويل ښه ښه هغه موږ چې د مسعود د قاتل په نامه يادا وو هغه د سرې مياشتې بل اداري معاون و موږ فکر کاوو چې ته هماغه يې.

په دې وخت کې څارنوالانو بيا پوښتنې شروع کړې، دا ځل له پاکستان سره د طالبانو د تړاو په اړه پوښتنې کوې، خو ما ځواب ته نه پريږدي بلکې يوازې دوی لګيا دي او ماته داسې پيغورونه راکوي لکه زه چې رښتيا د پاکستان لپاره جهاد کوم.

دغه وخت نو ټول ښارنو الان لګیا دي او خورا بدې بدې خبرې کوي خو کله چې زه وغواړم ځواب ورکړم ټول راباندې رابرګ شي چې چوپ شه او خبرو ته مې نه پرېږدي د دوی دغو یوطرفه ترخو خبرو او پیغورونو او داچې ما ته د ځواب اجازه نشته دا سې په تنګ کړم چې هیڅکله مې دا سې د ځور حالت نه و لیدلی په پای کې ډېر جوش راغی او ورته په خبرو شوم، چې دا سمه ده چې د طالبانو دواکمنۍ په وخت پاکستان یو له هغو هیوادو و چې طالبان یې په رسمیت پیژندل او له طالبانو سره سیاسي رابطه وه، خو دا هیڅکله په دې معنی نه ده چې طالب دې د پاکستان ګوډاګی شي، هیڅوک به ثابته نه کړي چې طالبانو دې دا سې کار کړی وي چې هغه د شریعت او دین پرځای د پاکستان د ګټو لپاره وي، جهاد او شریعت غوښتنه دا ټول زموږ د دین تقاضا ده دا چې خلک یې له پاکستان سره تړي د هغوی غلط برداشت دی او بله دا چې تاسو وایئ چې طالب د پاکستان ګوډاګی دی په پاکستان کې د طالب سر نه دی په امن، تاسو ولیدل چې د امریکې له یرغل نه وروسته پاکستان په سلهاوو طالبان ونیول او حتی امریکایانو ته یې په لاس ورکړل اوس یې هم نیسي او ډېر طالبان د پاکستان په بندیخانو کې پراته دي، مګر ستاسې ګل اغا شیرزی او نور ډېر مشران چې د راهداري موټر او باډیګارډان به ورسره وو په ټول پاکسان کې مسلح ګرځیدل، کله چې زموږ سر په

امن نه وي او ستاسو مشران د مسلح ګرځيدو قرارداد ورسره لري نو ته وو ايه چې څوک له پاکستان سره ډير نږدې دي.

په دې اړه مې نور هم ډير مثالونه ورته وويل چې طالب يوازې الله تعالى ته سرټيټ کړی او دا مجربه خبره ده چې کوم سر الله تعالى ته ټيټ شي هغه بل چا ته نه ټيټيږي دا چې د طالب دشمنان يو طرفه تبليغات کوي او بې اساسه خبرې کوي دا خبرې حقائق نه شي بدلولی.

په دې خبرو څارنوال چوپ او غلی شول ، او موضوع يې بدله کړه ،په دې وخت کې چې ګلالی وتلی و يو ځل بيا راغی او څارنوالانو ته يې په تهديد آميزه لهجه وويل څنګه شو ، څه مو وکړل او کنه؟

کله چې هغوی ورته وويل چې معلومات نه راکوي ، نو بيا کيبل کاري يا په کيبل وهل شروع شول ، چې دا هم خورا سخته مرحله وه ، د اول کيبل له سخت ګوزار سره مې انا لله و انا اليه راجعون الفاظ له خولې ووتل ، وروسته چې وهل کيدلم په ژبه مې دا الفاظ جاري و ، استغفر الله الذي لا اله الا هو الحی القيوم و اتوب اليه

دا د الله تعالى ځانګړې پيروزينه وه چې د غه الفاظ يې په ژبه راکړل څو ورځې بعد مې له ځان سره د همدې وهلو په اړه فکر کاوه هغه وخت ناڅاپه را په زړه شول چې د وهلو په وخت مې د غه الفاظ په غير ارادي شکل په ژبه جاري شوي وو ، ځکه ما يې وړاندې هيڅ تصور نه و کړی او څنګه چې هغه سخت دردناک حالت و نو ځان ته

مې هیڅ پام نه و ، دا الفاظ چې الله تعالی په ژبه راته جاري کړل شاید دالله تعالی به ځانګړې حکمت په کې وه ، ځکه هغه امتحاني مرحلې او په تیره د ګلالي ظالم وحشتناک ظلمونه رابانديې په ډیر صبر او حوصله سره تیر شول.

الله تعالی دې زما او ټولو مسلمانانو ژبې همیشه په ذکر لمدې وساتي ، یقینا لکه الله تعالی چې فرمايي په ذکر نه یوازې زړه مطمئن کیږي بلکې نور هم ډیر برکات لري چې بندیان یې باید هیر نه کړي.

## د تحقیق یوه بله خاطره

یوه ورځ یې د استخباراتو لومړني مدیریت ته بوتلم او په ځانګړي انداز یې پوښتنې راڅخه پیل کړې، په دې ورځ د مدیریت اول مدیر ظاهر خان، څارنوال برات خان پنجشیری، څارنوال عبدالرؤف، څارنوال یما ،څارنوال مصطفی هزاره و زما مشخص مستنطق عبدالحمید سیدخیلي او ګڼ نور څارنوالان سره ناست دي او دامارت د پالیسۍ ، راتلونکې پلانو ، قوانینو او امیرالمؤمنین حفظه الله په اړه یې رانه د لوړې سطحې پوښتنې پیل کړې، دا پوښتنې دوی لیکلې نه او داسې شکل یې ورکړی و لکه دا چې تحقیق نه وي بلکې یو ازاد سیاسي مجلس وي،لومړی دوی په خپل منځ کې تبصرې او مباحثه شروع کړې او وروسته یې زما نظر هم په کې وغوښت او په دې چل یې غوښتل ما هم په بحث ورګډ کړي خو

ما ځان په سادګي واچاوو ورته ومې ویل چې ستاسو بحث ډیر پیچلی او دلوړې سویې دی چې زه په کې د خپل کمزوري استعداد له امله هیڅ هم نه شم ویلای، دوی ټینګار وکړ چې نه دا ازاد بحث دی ته به هم خامخا څه په کې وایې.

زه پوه شوم چې دوی غواړي په دې ډول د امارت د پالیسیو په اړه معلومات ترلاسه کړي،نو مې خبره په ټوکه واړوله او ورته ومې ویل چې زه هسې یو نرس یم چې تاسو ته په ډاکټر معرفي شوی یم اوتاسو اوس د یوه رئیس جمهور او سیاسي مبصر د سطحې پوښتنې رانه کوئ ؟ په دې خبرو دوی ټولو وخندل ، چې بیا یې پوښتنه هم رانه ونه کړه او له دې جنجاله الله تعالی خلاص کړم.

په تحقیقاتو کې داخلیانو هم د خارجیانو غوندې دا یو کار کاوو چې له بندي به یې د هرڅه په اړه پوښتنې کولې،څو ورونه دې دي؟ څه کار کوي؟ماما دې څه نومیږي؟ څنګه سړی دی ؟ یا به یې ستاسو دعلاقې د یو سړي نوم واخیست چې پلانی پیژنې که به دې وویل چې هو نو به یې خبره پسې واخیسته ، له څه وخته یې پیژنې؟ د چا په تعلق یې پیژنې؟ څه کار کوي؟ اقتصادي حالت یې څنګه دی ؟او داسې نورې سل او زر بې ضرورته پوښتنې.

نو په داسې حالاتو کې باید بندي پوښتنو ته متوجه شي او تروسه دې کوښښ وکړي چې په نه سره ځواب ورکړي مثلا فلانی نه

پېژنم ،داسې د نورو پوښتنو په اړه دې هم ترډېره د هو په ځای له نه څخه استفاده وکړي.

## د امریکایانو تحقیقات

امریکایان هم په تحقیق کې مختلف چلونه کاروي،دوی اکثره وخت د هرشي په باره کې پوښتنه کوي او له خبرو خبرې پیدا کوي نو چې سړی لنډ ځواب ورکوي او د ډېرو شیانو په اړه ورته ځان بې خبره ونښيي ښه به وي، خو دوی د بندي د تیرایستلو او وارخطاء کولو لپاره یو بل چل هم کوي ، هغه دا چې دوی یو ماشین لري چې وایي په دې باندې مو ږ د بندي دروغ او رښتیا معلوموو ،دوی د ماشین وسائل له بندي سره وصل کړي چې دبندي د وینې فشار او دزړه ضربان او داسې نور حرکات ځاري، بیا نو مختلفې پوښتنې ترې پیل کړي،د مجاهدینو په خلاف د خپلو کړیو عملیاتو صحنې ورته ښیي ، یا یو څوک چې بندي یې پیژني ورته وښیي چې دا دهغه پلاني کس عکسونه دي چې مو ږ شهید کړی ،ددغسې مختلفو صحنو په ښودلو او بیلابیلو پوښتنو په کولو سره دوی بندي معلوموي چې په کومه پیښه بندي وارخطاء کیږي اود زړه ضربان یې لوړیږي ، ترڅو معلومه کړي چې آیا بندي په دغو کارونو کې ښکیل پاته شوی دی او کنه ؟

خو دغه ماشين چې دوی يې ډير مهم معرفي کوي او بنديان ورباندې ويروي هسې يوه بې معنی آله ده ، چې نه کوم طبي اصل لري او نه دا عقل مني چې د کوم چا د زړه خبرې او رښتيا يا دروغ دي په اليکترونيکي وسائلو باندې معلوم کړای شي، له دې ماشين څخه هيڅ ډار نه دی پکار بلکې په پوره زړورتوب دې بندي له دې صحنې تير شي او هيڅ دې تراغيز لاندې نه راځي ځکه دا کوم اصل نلري او يوازې د بندي د وارخطاء کولو او ويرولو يو آله ده.

ماته د استخباراتو په رياست کې د تحقيق په وخت کې يوځل دوه تنه بهرني محققان هم راغلل چې يو تن بې حياء ترجمان هم ورسره و ،زه د تحقيق رئيس دوی ته دومره غټ معرفي کړی وم چې د ټول افغانستان د فدايي حملو مسؤل مو نيولی دی، څرنګه چې امريکايان او نور خارجيان هم له فدايي حملو ډير په تنګ وو نو شايد له همدې امله به يې له ما څخه تحقيقات کول غوښتل،خو ما په هيڅ عملياتو اقرار نه وو کړی او نه مې په خلاف کوم اسناد يا شواهد موجود وو ، يوازې د کندهار له يوې حملې پرته چې د شهيد حافظ ګلالي په اعتراف کې زما نوم اخيستل شوی و.

امريکايانو او داخليانو فکر کاوو چې زما چې ډير مهم کس يې بللم د تحقيقاتو د بهير په مطبوعاتي کولو سره به خپله بريا ثابته کړي د همدې لپاره په خارجي او داخلي څارنوالانو سربيره يې د تحقيق ځای ته ډير ژورناليستان چې کيمرې او مايکونه ورسره دي

هم راغوښتي ول، زه چې ورغلم نو د عکسونو اخیستل را څخه پیل شول او مخې ته مایکونه کیښودل شول زما ټولې خبرې ثبت کیږي او صحنه ټوله عکاسي کیږي.

دوی لومړی پوښتنه وکړه چې ته خپل ځان معرفي کړه، ما خپل نوم او د پلار نوم ورته وښود او ورته ومې ویل چې پخوا دافغانستان د خیریه ادارې سرې میاشتې مرستیال پاته شوی یم، دوی وویل چې ستا وظیفه خو په افغانستان کې د فدایي حملو مشرتوب دی هغه یاده کړه، ما ورته وویل څوک وایي چې زه د فدایي حملو مسؤل یم چې هرڅوک دا وایي دروغ وایي.

دوی رئیس ګلالي ته اشاره وکړه چې دغه کس وایي چې د ټول افغانستان رئیس د تحقیق دی په دې وخت کې ګلالي هم راته وویل چې وروایه، ما ورته وویل چې دروغ وایي، په دې وخت ګلالی د خارجیانو ترمخ بد خړ شو او رنګ یې متغیر شو او ماته یې وویل چې زه به مابنام له تا سره ګورم له دې سره ګلالی له مجلس نه ووت.

بهرنیو ځارنوالانو راته وویل چې دا خو د ټول افغانستان د تحقیق د استخباراتو دتحقیقاتو رئیس دی او دروغ نه وایي نو تا چې یو ځل اعتراف کړی او س یې ولې نه منې، په دې وخت څارنوال عبدالحمید هم راته وایي چې دفدایي حملو په باره کې معلومات ورکړه.

ما خارجيانو ته وکتل او څارنوال عبدالحميد ته مې اشاره وکړه چې د فدايي حملو حال به دی درکړي، عبدالحميد وارخطا شو چې زه څه ورباندې خبر يم ،چې خارجيانو ته چا حال ورکړی دی ؟

ما ورته وويل چې حال تا ورکړی دی نو په فدايي حملو به هم ته معلومات لرې زه خو پرې نه يم خبر ،عبدالحميد چې له خارجيانو وارخطا دی ماته وايي چې ما خو نه دي ورته ويلي خو رئيس صاحب ګلالي ورته ويلي دي.

په دې وخت ترجمان زمونږ خبرې ژباړې ، خو بيا يې له ماسره بحث شروع کړ ، چې ښځې او ماشومان مو مړه کړل او داسې ظلمونه کوئ، لږ وروسته ترجمان هم د عبدالحميد غوندې په درد راته وويل چې ووايه اعتراف وکړه، ما په ډيره تونده ورغبرګه کړه چې ته ترجمان يې که څارنوال ؟ ده ويل زه ترجمان يم، ما ورته وويل چې ترجمان يې بيا بد کوې چې له ترجمې آخوا ته يوه خبره کوې ، ته خپله ترجمه کوه ستايي په دې خبرو څه. خارجيانو له ترجمان څخه ددې خبرو ترجمه وغوښته او کله چې پوه شول ، نو خارجيانو هم ترجمان سم سپک کړ او بيا يې له ما څخه د ترجمان د غلطۍ معافي وغوښته ، په دې حالت کې ماته ثابته شوه چې الله تعالی څوک سپک کړي هغه به هرځای سپک وی، په دې مجلس کې که څه هم ترجمان او څارنوالان د خارجيانو ګوډاګيان او پيش خدمتان وو، مګر بيا بيا يې سپکول او د سړو په نظر يې نه ورته کتل ، مګر له ما يې معافي

غوښته او په ډېر درانه نظر يې راته کتل او الله تعالى په دې حال کې هم ماته عزت رانصيب کړی و ، مګر ګوډاګيان يې له ټول ګوډاګيتوب سره سره هم د خارجيانو په مخکې بې عزته کړي وو ، او الله تعالى دا حالت ماته په سترګو راوليد .

دلته چې داخلي استخباراتو کوم پلان جوړ کړی وو او غوښتل يې چې زما له تحقيقاتو په فلمونو ډکولو او نشرولو سره خپله برېا ثابته کړي ټول پروګرام يې په اوبو لاهو شو په پای کې ښارنوال حميد راته وايي چې هغه د کندهار په پېښه کې ستا په خلاف شواهد شته هغه خو ورته ومنه ،خو ما ورته وويل چې هيڅ هم نه منم.

دغه خارجيان په کابل کې د سي آی اې له مرکز اريانا هوټل څخه راغلي وو يو افغان مامور هم ورسره و هغه ته مې وويل چې دغه د داخلي استخباراتو والا ډير ظالمان دي، دوی له مانه په زور اقرارونه غواړي او خارجيان هم په دروغو غلطوي، او زما بيا والله که دا نفس قبلوي چې د خپل هيوادوال که څه هم ظالم دی شکايت بهرنيو يرغلګرو ته وکړم، کنه تاسو زما ملا کتلی شئ چې د ډيرو کيبلو ګوزارونو او وهلو له امله تکه توره اوښتې ده او په دغسې ډول رانه په دروغو اقرارونه اخلي.

په پای کې خارجیان ولاړ شول ، او مراسم پای ته ورسیدل خو ځرنګه چې د دوی هدف حاصل نه شو نو خبریالان یې د هغې عکاسۍ او راپور له خپرولو منع کړل.

## د تحقیق په مهال د دښمن چلونه

څارنوالان او مستنطقین تحقیق په مهال عموما له درېو طریقو کار اخلي دوی لومړی کوښښ کوي په چل او مکر له بندي څخه معلومات ترلاسه کړي، که چل او مکر کار ورنکړي بیا د تهدید او شکنجو لاره غوره کوي او که چیرې شکنجې هم ناچله شي نو بیا بندي ته دروغجنې وعدې او پوچ امیدونه ورکوي.

کله چې مجاهد بندي کیږي نو د دښمن محققین او څارنوالان چې په تحقیق کې ځانګړې تجربه لري لومړی د بندي عمر، علم ،تجربه، عقل ، پوهه،ژبه ، منطقه قوم ، اقتصادي حالت،نظریه ، عقیده، او حتی ذوق او علاقه ګوري او کله چې د پورته شیانو په اړه علم حاصل کړي نو بیا د همدې په رڼا کې له بندي څخه تحقیق پیلوي،او نهایي کوښښ یې دا وي چې له بندي څخه معلومات او داسې څه ترلاسه کړي چې بندي مجرم ثابت کړي،ځرنګه چې دغه څارنولان او محققین اکثره پخواني کمونیستان دي او په دې کار کې ډېره تجربه لري نو په مختلفو طریقو کوښښ کوي چې بندي تر تاثیر لاندې راولي،د دښمن د همدې ډار خپرولو له امله ځیني بندیان

ډیر زر په هرڅه اعتراف وکړي، دوی داسې فکر کوي چې په دې لړ اعتراف به له تعذیب څخه خلاص شي خو په دې نه پوهیږي چې اصلي سزا او تعذیب به یې له همدې وروسته پیلیږي ځکه د همدې اعترافاتو په اساس به په ده محکمه حکم کوي او د کلونو کلونو سزا به ورته ټاکي چې بیا به یې مشکلات ډیر زیاتیږي.

## په هرحال د تحقیق په مراحلوکې ددښمن چلونه په لاندې ډول خلاصه کولای شو:

**لومړی** - اکثرا کله چې بندي ونیول شي دښمن ورسره په پیل کې سختي نه کوي، بلکې کوښښ کوي چې د بندي له خولې، حالاتو، تیلفون یا ورسره موجودو نورو اسنادو څخه په استفاده د بندي په خلاف شواهد پیدا کړي.

**دوهم** - که چیرې له بندي سره کوم ښکاره اسناد او شواهد ونه موندل شي نو بیا په غولوونکو فریبونو سره کوښښ کوي چې بندي په خبرو راولي، مثلا که بندیان له یوه زیات وي نو ټول سره بیل کړي، یوه ته د بل له خولې په دروغو د اعترافاتو خبرې کوي او بل ته د بل له قوله ،او دا ورته وایي چې موږ ته ستا ټول حالات معلوم شوي دي نورو ملګرو دې اعتراف کړی ته هم اعتراف وکړه کنه بیا ټوله دوسیه تا ته جوړیږي او د ټولو مشکل به تا ته له غاړې کیږي، په دې ډول چې

بندي وارخطا او اعتراف ته مجبور کړي نو که بندي يوه خبره هم وکړي ، څارنوال هغه د اعتراف په نامه په کاغذ وليکي او څو خبرې له ځانه ورسره ملګري کړي او د بندي ګوتې پرې ولګوي بيا هغه بل بندي ته وروړي او هغه ته يې وښيي چې دغه دی ستا ملګري اعتراف کړی ته اعتراف کوې او که څنګه ؟ په دې ډول نور هم اعتراف ته مجبور کړي، دا د دښمن يو مشهور چل دی چې هميشه يې له بنديانو سره کوي.

**دريم** - څرنګه چې څارنوالانو او مستطقينو ته له بنديانو څخه د اقرار او معلوماتو په اخيستلو ستر امتيازات ورکول کيږي او هم ترفيع کوي نو څارنوالان نهايي کوښښ کوي چې له بندي څخه معلومات ترلاسه کړي ددې لپاره دوی له هيڅ حربې او طريقې څخه دريغ نه کوي حتی په دروغو قسمونه په قرآن لاس ايښودل او هره طريقه کاروي، کله کله څارنوال د دينداری غاړه راواخلي ،د بندي ترمخ چې د لمانځه وخت راشي ښه لمونځ وکړي ، ځان مسلمان مسلمان کوي او بيا بندی ته په قسم سره ووايي چې له ما سره لږ همکاري وکړه او زه به دې دخوشي کيدو او دوسيې دسپکيدو لپاره کار وکړم ددې لپاره چې په دې خبره د بندي اعتماد حاصل کړي نو دبندي د تلاوت قرانکريم راواخلي او لاس ورباندې کيږدي ، او بندي ته وايي چې په دې قران قسم درته کوم چې وعده خلافي او غلطي درسره نه کوم ، بندي چې په قرانکريم همداسې مخامخ

قسمونه په مکرر ډول ووینې نو باور یې راشي چې یاره سړی رښتیا وایي، ځکه بندي فکر کوي چې خلک به په دروغو په قرانکریم داسې زړور قسم نه کوي خو له دې به خبر نه وي چې دغه زاړه کمونیستان او استخباراتي سخت زړي محققین په هیڅ هم بند او خلاص نه دي.

**څلورم** - محققین کله بندي ته په دروغو یو جعلي قانون راوړي چې دا د استخباراتو قانون دی او دا ماده یې حکم کوي چې که بندي له موږ سره همکاري وکړي او یو څه معلومات ورسره شریک کړي نو باید چې په هرڅه کې تخفیف ورسره وشي او د همدې همکارۍ په بدل کې ازاد شي.

څارنوالان بندي ته وایي چې که تاسو همکاري وکړئ موږ ستاسو د همکارۍ په اړه قاضیانو ته معلومات ورکوو او هغوی باید د همدې قانون له مخې له تاسو سره ډیر مراعات وکړي او ستاسو د زر ازادولو لپاره باید لاره جوړه کړي ، خو دا خبرې ټولې بې بنیاده وي موږ لیدلي چې ځیني بندیانو همداسې کړي خو دغه ډول اقرار یا له دښمن سره نورې همکارۍ چې ځیني غولیدلي بندیان ورته جاسوسي کوي یوازې ددوی ددنیا او اخرت پیټی دروند کړی نور یې د زندان په سپکیدو کې ورسره هیڅ مرسته نه ده کړې.

**پنځم** - کله څارنوالان بندي ته د بندي د علاقې یو لوړرتبه حکومتي سړی یا د پارلمان وکیل یادوي چې نن ستا په خلاصیدو پسې راغلی و خو موږ به تا په دې شرط ورپریږدو چې ته له موږ سره یو څه معلومات شریک کړې ځکه همداسې مفت خو دې نه شو خوشې کولای.

دغه مهال بندي فکر کوي چې راځه یو څه په دروغو یا رښتیا ورته ووایه او په لرې پرته علاقه کې د هسې یوه سړي په اړه ورته ووایه چې داسې کارونه کوي هغه ته شاید هیڅ تاوان ونه رسیږي ځکه چې هلته به حکومت لاسرسی نلري خو ته به خوشې شې ، خو دغه ډول معلومات ورکول یوازې بندي ته جنجال جوړوي ځکه دغه لړ خبرې بیا د ډیرو خبرو لپاره پیلامه شي او څارنوالان پرته لدې چې خوشې یې کړې نور معلومات له بندي څخه غواړي.

**شپږم** - ددښمن بل تاکتیک د معلوماتو حاصلولو او له جهاد څخه د بندي منصرف کولو دادی چې بندي په ډیر مهارت له خپل دریځ څخه پښیمانه کیدو ته مجبوروي ،هغه داچې په خبرو کې لوی داستان ورته شروع کړي او د افغانستان د پنځه دیرش کلن انقلاب کیسه ورته پیل کړي، چې وطن داسې ټوکر ټوکر دی او دا اوس چې خارجیان راغلي دي باید له دې فرصت نه استفاده وکړو ،په دې مابین کې بیا د مجاهدینو یوه خامي هم ورته بیان کړي،چې طالبان هغسې او داسې کارونه کوي،په دې ځای کې نور ډیر دروغ او رښتیا

سره ملګري کړي تر څو بندي وربانديې متاثر کړي ، دغه وخت سړی ددوی ځواب نه شي ویلی چې د مجاهدینو دفاع وکړي ځکه که دفاع کوي یا دلیل ورسره وایي بیا خو متهم کیږي چې دادی ته مجاهد یې نو دهمدې یو طرفه استدلال په پایله کې که بندي تر تاثیر لاندې راغی نو بیا بیا ورته همدا خبرې کوي تر څو یې له خپل جهادي دریځ نه منصرف کړي.

**اووم** - دافغانستان هر زندان د یوه وحشي شکنجه ځای حیثیت لري،د هرولایت په استخباراتي توقیف خانو او محبسونو کې داسې مظالم روان دي چې سړی یې یادولی نه شي خو د بشر د حقوقو تش په نامه ټیکدارانو وربانديې ځانونه کاڼه اچولي دي.

خصوصا هغه بندیان چې یو څه اسلامي او په شرعه برابر شکل ولري، او د طالب او سم مسلمان ګومان وربانديې کیږي کله چې داستخباراتو لخوا ونیول شي، نو مستنطق ټول کوښښ کوي چې باید یو څه خبرې ترې ترلاسه کړي که بندي په خپله خوښه اقرار ونه کړي نو دزور او تعذیب نه په استفاده یې مجبوروي چې یو څه ووایي تر څو یې د اقرار په ورقه ولیکي او دبندي ګوته وربانديې ولګوي او بیا په دې طریقه ورته دوسیه جوړه کړي.

د شکنجې په وخت زیاتره وخت دوی د غربیانو رواج عملي کوي او هغه داچې بندي ویښ ساتي او خوب ته یې نه پریږدي په دې

مرحله کې بندي باید شپه ورځ ولاړ وي او د خوب اجازه نه ورکوي چې بندي هم د بې خوابۍ او هم د درېدو له امله په عذاب کېږي.

کله کله بندیان راځړول کېږي هغه داسې چې لاسونه يې پورته بند کړي او په همدې لاسونو راځوړند وي چې کله خو يې پښې يو مخ له ځمکې هسکې وي او ټول زور يې په لاسونو وي خو کله بیا ځړېدل په داسې اندازه وي چې پښې يو څه له ځمکې سره لګېږي ،د راځړولو په مهال بندي ته وهل هم ورکوي،دغه راز ډېر ځله په همدې مرحله کې د لمونځ، اودس، قضای حاجت ، خوراک او استراحت په برخه کې هم له ممانعت سره مخامخ وي.

په بعضي زندانونو کې بندیانو ته د برق شارټونه ورکوي هغه داچې د برق تارونه يې د بدن په نازکو اندامونو وتړي او بیا ورته شارت ورکړي، په امریکايي زندانونو کې د لوږې سزا هم ډېره رواج ده، چې بندي وږی ساتي، امریکایان تر ډېره د جسمي سزا په ځای بندي ته روحي يا رواني تعذیب ورکوي ، تردې چې ددوی هرڅه په روحي تعذیب بناء وي او له زندانیانو سره ټول چلند يې داسې عیار کړی دی چې باید بندي وځورول شي، داسې معلومېږي لکه امریکایانو چې په دې برخه کې پخې تجربې کړې وي، ځکه دوی بندیانو ته په ډېر مهارت روحي ځور ورکوي.

په روحي ځور سربیره دوی بندیان کله وږي هم ساتي تردې چې کله خو په ټول شبانه روز کې یوازې څو دانې پاپړ ته ورته شی ورکوي او نور هیڅ غذایي مواد نه وي ،په بګرام کې د تورجیل په نامه یو ځانګړی زندان و ،چې کله بندي لومړی ونیسي نو هلته یې وړي ،هلته په بې خوابي او نورو شکنجو سربیره بندیان وږي هم ساتل کیږي او کله خو چې بندي ترې راوزي په داسې حالت کې وي چې دژوندي انسان ګمان ورباندې نه کیږي.

## د شهید ذاکر کیسه

څو کاله وړاندې د هلمند په لښکرګاه کې یو حکومتي قاضي چا ویشتلی و ،نو قاضي د ویشتلو پیښه چې جالبه وه د لښکرګاه په ښار کې هر چا په مجلس کې یادوله چې داسې وویشت او مړ یې کړ، د ذاکر په نوم د لښکرګاه یو اوسیدونکی چې دغه پیښه یې یوازې له بل چا اوریدلې وه ده هم چیرې په کوم مجلس کې همداد قاضي د وژلو داستان بیان کړی دی، څرنګه چې ددښمن جاسوسان او عام استخباراتي کارمندان همیشه له داسې پیښو څخه د شخصي ګټې او په حکومت کې دمحبوبیت لپاره استفاده کوي،نو حکومت ته یې احوال ورکړی چې دغه ذاکر د قاضي ویشتونکی دی او باید ونیول شي.

ناخبره ذاکر په لښکرګاه کې ونیول شو او حکومت اعلان وکړ چې د قاضي قاتل یي نیولی دی،دغه وخت له ذاکر څخه اقرار اخلي خو ذاکر قسمونه یادوي چې په هیڅ هم نه یم خبر نه قاضي پیژنم او نه مې وژلی دی ، خو څارنوالان په دغسې مواردو کې د خپل اعتبار لپاره هم ټول کوښښ کوي چې له بندي اعتراف واخلي ، ذاکر ته یي سختې سزاګانې ورکړې تردې چې ذاکر یي دې ته مجبور کړ چې د قاضي وژل ومني او څارنوالانو ته یي ویلي څه چې تاسو وایئ هغه سم دي او هغه هرڅه ما کړي دي.

شاید ذاکر به فکر کړی وي چې په دې ډول به له وهلو او شکنجو ځان خلاص کړي، نوموړي که څه هم په لنډ وخت کې له تعذیب او شکنجو ځان خلاص کړ، خو د اوږدې زمانې لپاره د دښمن شکنجو ته ولوید ، ځکه له دې وروسته یي کابل ته راووست او هلته محکمې ورته د همدې اعتراف په بنیاد شل کاله قید ورکړ ،ذاکر چې پرته له کوم سند او شواهدو یوازې د څارنوالانو ، مستنطقینو او جاسوسانو د شخصي اغراضو په خاطر اعتراف ته اړ کړل شوی و، شل کاله قید ورته واورول شو نوموړي څه موده قید تیر کړ خو وروسته په زندان کې د دښمن لخوا په شهادت ورسول شو.

د شهید ذاکر له کیسې دا اخذ کولای شو چې دښمن ډیر ځله په دروغو په نیول شویو کسانو باندې اقراورنه کوي، دغه وخت نو نیول شوی کس چې سخت تعذیب ویني فکر کوي چې راځه اقرار

وکړه تر څو له دې تعذیبه خلاص شي،زندان که هرڅومره اوږد وي اخر زغمل کیږي خو ، شکنجې خو له زغم پورته وي، نو په همدې فکر پرته له کوم کار څخه په دروغو اعتراف وکړي او حتی پردي کارونه په ځان ومني تر څو مستنطق او څارنوال خوشاله کړي او له تعذیب څخه لاس واخلي.

باید ووایو چې دا فکر سم نه دی، ددې په ځای چې بندي د زندان زغملو ته اماده کیږي باید تر وسه وسه څه موده د تعذیب زغملو ته اماده شي، ځکه زندان ډیر ستر امتحان دی او اوږده زمانه دوام کوي، چې بیا که بندي ته څو کاله قید ورکړي نو هم به یې کورنۍ ورسره سرگردانه او په پریشانۍ کې وي او هم به خپله له اوږده ځور سره مخامخ وي.

نو زندان ته دې هیڅوک نه خوشاله کیږي او نه دې تمه کوي، بلکې ددې وخت د جابرو کافرانو او دهغوی د مزدورانو له زندانونو دې همیشه پنا غواړي،باور وکړئ ، داسې کریهه او بې دینه مخونه یې وي چې ددوی د مخونو لیدل هم یو عذاب دی ، په تیر څارنوالان ، محققین او داستخباراتو کسان چې ټول عمر یې د مسلمانانو په ځورولو کې راتیر کړی وي، دوی داخلاقو په داسې ټیټ حالت کې وي چې ته به سلام وروا چوې خو دی به ځواب په ښکنځلو درکړي ، نو ددغسې وحشي حیواناتو ترلاس لاندې ژوند تیرول چې خوراک،

خوب ، لمونځ او ټول حرکات دې د دوی په ولکه کې وي ډېر سخت کار دی.

## مجاهد باید څه ډول زندان تېر کړي ؟

لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم جهاد د امت لپاره سیاحت بللی دی او اولنیو خلکو زندان په خلوت سره تعبیر کړی دی ،الحمد لله موږ هم د زندان څخه همداسې کار واخیست ،هغه وخت چې زما د ځوانۍ شپې او ورځې وې او د شورویانو په خلاف جهاد روان وو ،ښه مې یادېږي چې هغه وخت مې د هجرت په مهال دیني تعلیم کاوو ، په دې وخت کې له ما سره د دریو شیانو ارزو وه ،لومړۍ مې دا تمنا وه چې د الله تعالی په لاره کې زنداني شم ترڅو په ښه فراغت سره د الله تعالی عبادت وکړم او دیني زده کړې تر لاسه کړم، دوهمه ارزو مې دا وه چې لیونی وای ترڅو د الله تعالی له حساب او کتاب او مکلفیت څخه خلاص وای، دریمه ارزو مې دا وه چې د الله تعالی په لار کې داسې شهید شوی وای چې بدن مې د لمر د وړانګو د ذراتو په حساب ذرې ذرې شوی وای تر څو مې په همدو مره شمیر ثوابونه هم ترلاسه کړي وای، دغه سوال مې الله تعالی قبول کړ چې زنداني شوم،د زندان په مهال به زما هغه پخوانۍ ارزو را یادیدله چې د روسانو سره د جهاد په وخت مې کړې وه، نو ځکه مې زندان د عبادت او علم او حاصلولو لپاره د الله تعالی لخوا راکړل شوی

فرصت باله ،په زندان کې مې نه یوازې په خپله سبق وایه بلکې الله تعالی د یوې مدرسې د جوړولو توفیق هم راکړ، د څرخي پله زندان په څلورم بلاک کې مو له ملاجنت ګل بغلاني سره په ګډه وهڅو مدرسه جوړه کړه،فرش ، ظرف او د ۱۲۰ طالبانو لپاره درسي کتابونه مو ورته برابر کړل، چې په همدې شمیر طالبانو سربیره تر ۳۰ پورې حافظان هم په کې وه،د مدرسې مشر یا مهتمم مو د ننګرهار مولوي محب الله وټاکه، ورپسې د غزني او سید ونکي مولوي محمد عثمان دغه وظیفه ترسره کړه او کله چې دوی یو په بل پسې خوشي شول نو بیا د ننګرهار مولوي روح الامین صاحب د مهتمم په حیث وټاکل شو.

د زندان ددې مدرسې د درالحفاظ د بخش لپاره مو هم یو تکړه استاد چې په حافظ صاحب مشهور و او اوس یې نوم راڅخه هیر دی د مسؤل په حیث تعین کړی و چې په ډیره ښه توګه د حفظ کار هم په مخ روان وو.

په څلورم بلاک کې په مدرسه سربیره د بندیانو لپاره کتابتون هم و چې د دری لکو روپیو په قیمت کتابونه په کې وو، په دې سربیره د دوهم ، دریم او څلورم بلاکونو لپاره هم ډیر درسي او د مطالعې کتابونه واخیستل شول چې دغه ټول کارونه د بندیانو په همت او د امارت د ملګرو او یوشمیر مخلصو تجارانو او اهل خیر خلکو په مرسته او مالي کومک ترسره کیدل.

په دې ډول هغه زندان چې دښمن زموږ د تعذيب لپاره جوړ کړی و په يوه منظمه مدرسه تبديل شو دا سې مدرسه چې استادانو به په منظم ډول هر سهار بنديانو ته کتابونه ويل په عام تدريس سربيره د يوه ډله خاص ملګرو وظيفه دا وه چې هر سهار بنديانو ته د سيرت، اخلاقو، عباداتو او نورو ديني چارو اړوند بيانات واوروي ترڅو بنديان له دين څخه خبر شي.

د پل چرخي په زندان کې الله تعالی زما ارمان پوره کړ هغه دا چې د قران کريم په ترجمه سربيره مې تر شرح ملا جامي پورې نحو دغه راز ترکافي اندازې د اصول، ادب ،او نورو علومو کتابونه ولوستل او دنبوي سيرت په برخه کې مې هم ډير علم ترلاسه کړ، چې دې ته په پام سره زه زندان د ځان لپاره کوم تکليف نه بلکې يو ستره نيمکرغي بولم.

## د زندان ملګري

زندان يوه سخته مرحله ده، او په هره سخته مرحله کې د سړي اتکاء په ملګرو وي، له همدې امله خو د زندان ملګري ډير سره ګران وي ځکه سخت وخت يې په يوه ځای تير کړی وي، دا چې ملګري او دملګرتيا چاپيريال دهرچا په شخصيت اغيزه کوي او هرڅوک له خپلو ملګرو رنګ اخلي ، نو دې لپاره چې په زندان کې مو ښه وخت تير کړی او په شخصيت کې مو مثبت تحول راغلی وي، بايد په

زندان کې د ملګرو په انتخاب کې ډېر دقت وشي، دا تجربه شوې خبره ده چې د صالحو خلکو مجلس سړی صالح کوي او د بدو خلکو مجلس او ملګرتیا په سړي کې د بدې صفات پیدا کوي، د دې لپاره چې په زندان کې مو اصلاح نصیب شي باید د ښو ملګرو په لټه کې شو او پیدا يې کړو.

په زندان کې د ښو ملګرو پیدا کول کوم مشکل کار نه دی، نن سبا اکثره بندیان هغه خلک دي چې د دین عالمان، پوهان، د قرآن حافظان، صالح مجاهدین او لنډه دا چې د ټولنې ښه او نیکمرغه خلک بندیان کیږي نو ځکه کولای شو په هر زندان کې ښه ملګري پیدا کړو، ځان ورسره شناخته کړو او له ښه مجلس نه يې غوره استفاده وکړو.

د ښو ملګرو څخه نه یوازې په سړي کې مثبت تحول راځي د خپلو نیکو ملګرو ښه صفات لکه تقوا، دیانت، صبر، استقامت او نور حسنه صفات په کې پیدا کیږي؛ بلکه دا چې د علم او ګټورو معلوماتو په حاصلولو او د استعداد په وده کې هم کار ترې اخیستلی شي.

اما بد ملګري که له یوې خوا د سړي وخت ضایع کوي، بلکه دا چې سړی ورسره بې پروا او بې باکه اموخته کیږي، ځکه نتیجه تابع د

اخس او ارذل وي، بلکه داچې په بدو او شکمنو ملګرو کې کله ناکله دډښمن د جاسوسان هم وي.

زنداني باید زرترزره له چاسره ملګرتیا اختیار نه کړي، بلکې لومړی یې وازمویې په خبرو ، مجلس او اعمالو یې معلوم کړي او چې کله ورته ثابته شوه، چې سم او مجاهد سړی دی بیا دې ورسره ملګرتیا وکړي، چې دغه مرحله لږ دقت غواړي.

د استخباراتو په ریاست کې چې زما تحقیق روان و، او یوازې په کوټه قلفي حالت کې اوسیدلم یوه ورځ یې یوناېلده سړی اطاق ته راووړ، ماته یې ځان محمد نعیم معرفي کړ چې د میدان وردګو ولایت اوسیدونکی یم، زه پوښتنې ترې کوم خو دی په خبرو کې ډېر محتاط دی او ما ته د شک په نظر ګوري لکه ما چې ده ته په پیل کې د شک په نظر کتل.

محمد نعیم په احتیاط غږیږي وایي بې ګناه یې نیولی یم ،زه چې پنځه میاشتې مې تنها تیرې کړي دي خبرو او مجلس ته مې زړه کیږي خو محمد نعیم راته خبرې نه کوي، ما ورته وویل چې په څه یې نیولی یې؟ ده راته وویل چې په کور کې مو د مجاهدینو د وخت ژیړ تار وو، چې موږ غوښتل د کالو د هوارولو یا وچولو لپاره کار ترې واخلو، مقصد یې بارود رسی یا پریمکاټ و، محمد نعیم وایي چې استخباراتو مو په کور کې دغه تار ونیو او ویل یې چې دا

باروت دي ما ورته وویل چې دا زوړ د مجاهدینو د وخت تار دی مونږ وربانديې کالي هوا روو ، او که باروت و نو تاسو اور ورکړئ چې اور اخلي کنه ؟ کله يې چې په استخباراتو کې اور ورکړ هغه تار اور وانخيست ، ما ورته وويل چې دا دی له کاره لويدلی او ډير پخوانی دی ، خو دوی بيا هم قناعت نه کاوو او زه يې په ناحقه دلته راوستلم په داسې حال کې چې هيڅ شی هم راباندې ثابت نه شول.

په دې وخت کې زه پوه شوم چې سړی سم سړی دی ، نو داسې غلي مې ورته وويل چې ورورہ پريمکاټ نو کله اور اخلي،په دې خبره محمد نعيم هم راپوه شو چې ياره داسې باريک معلومات چې لري خامخا کوم مجاهد دی ، له څه وخت وروسته مو چې ښه سره وپيژندل بيا مو ښه انډيوالي شوه سره او ډيره ښه ملګرتيا مو درلوده.

## په زندان کې ددين دعوت

په زندان کې سره له دې چې سړی کولای شي خپلو بندي مسلمانو ملګرو ته ددين دعوت او پوهه ورسوي او د راتلونکي لپاره يي يو مصلح او متقي شخص وروزي بلکې که له چا سره غيرمسلمان کسان بنديان وي نو په سمه طريقه دعوت سره يي په اسلام مشرف کولای شي.

په پل چرخي کې له موږ سره په څلورم بلاک کې ګڼ شمیر خارجي اتباع بندیان وو، چې ډیر شمیر یې افریقایان وو، دوی چې له افغانستان څخه د هوا له لارې د مخدره موادو د قاچاق په جرم نیول شوي وو زیاتره یې عیسویان یا د یهودیت په دین وو، په افریقایانو سربیره په دوی کې د انګلستان هم یو کس و.

موږ د یوه اهل خیر کس حاجي عبدالحلیم په مرسته د دوی لپاره په انګریزي ژبه دیني کتابونه، رسالې او صوتي فیتې پیدا کړې ترڅو یې د اسلام په باره کې معلومات پیدا شي، د همدې حسنه موعظې په برکت الحمدلله د دوی له جملې ډیر کسان د اسلام په مبارک دین مشرف شول، کوم کس به چې په اسلام مشرف کیده نو دهغه د قدردانۍ لپاره به موږ د یوې میلمستیا یا جلسې غوندې مراسم ترتیبول، په اسلام مشرف شوي کس به مو دعوتاوو، او په پای کې به مو په نقدي مرسته سربیره کتابونه او د انګلیسي ترجمې قرانکریم هم ورته ډالۍ کاوو.

## په زندان کې له وسواس او د مورال له کمزوري کیدو نه ځان ساتل

د زندان سختي که هرڅنګه تعبیر شي بیا به هم کمه وي، معلومه خبره ده چې د انسان حریت او ازدي سلب شي او لاس تړلی د وخت د بې رحمه کافرانو او دهغوی د بې غیرته او بې ننګو مزدورانو لاس ته ولویږي نو له ډیرو مشکلاتو سره به مخ کیږي.

د زندان اولې شپې ډېرې سختې وي، د تحقیق جریان وي،آینده نامعلومه وي ، سړی وارخطا وي چې کوم ثبوت راباندې پیدا نه کړي ځکه کله ناکله مجاهد د دښمن په وړاندې داسې عملیات ترسره کړي وي،چې که شواهد وربا ندې وموندل شي نو شاید د مرګ سزا ورکړله شي، طبعي ده چې په پیل کې به د استونزې په زندان کې وي، خو زنداني باید په دې مرحله کې له صبر او استقامت څخه کار واخلي د بې ځایه اندیښنو ، وسواس او وارخطایي په ځای ځان په الله تعالی وسپاري ، په دې وخت کې تر ټولو مجربه نسخه د قرانکریم سره ډیر تعلق ساتل دي ځکه قرانکریم بهترین ذکر دی او په ذکر سره د مؤمن زړه مطمئن کیږي.

زه چې کله بندي شوم نو له ما سره یوه اندازه پیسې هم وې، په پیل کې چې قرانکریم نه و، د زندان یوه کارمند ته مې ډېرې روپې ورکړې تر څو یو قرانکریم راته راوړي ، هغه د پیسو او ډېرو زاریو په مقابل کې قرانکریم راته راووړ، چې دا زما لپاره د خوشالۍ او اطمینان یو لوی سبب شو ،په دې سره مې تلاوت مشغله وګرځوله او ټولې اندیښنې مې هیرې شوې، ځیني زندانیانو به د دې لپاره چې دښمن ته مهم کس یا عابد کس معلوم نه شي ، په ښکاره به یې تلاوت،مطالعه او حتی د جماعت لمونځ نه کاوو ،خو زما لپاره د قرانکریم په تلاوت سره لوی قلبي سکون حاصل شو او هره ورځ مې رابطه ورسره زیاتیدله،له تلاوت سره سره مې د قرانکریم په معنی

کې فکر کاوو او د الله تعالی پیغام ته به مې په ژور نظر کتل چې د اطمینان د حصول لپاره یې ډېر ښه اثر درلود ، په قرانکریم کې د جهاد ، صبر او امتحاناتو په باره کې ډېر آیتونه راغلي دي، یو وخت مې د سورة البقرې **۱۵۳** آیت کې ژور تدبر وکړ، دا آیت مې په خپل حال تطبیق کړ چې بیخي ډیره فایده یې راته وکړه او الله تعالی مې په زړه کې ستر صبر او ثبات کیښود ، چې بیا د زندان مشقات هیڅ رابانديې سخت نه شول.

د قلبي سکون او اطمینان یو برکت دا وي چې زنداني کولای شي په ډیر قوي مورال ، لوړ عزم او جګو سترګو زندان تیر کړي او حتی په خپل ثبات او قوي مورال سره دښمن ته هم د خپلې لارې حقانیت په ډاګه کړي ، چې دغه اثرات ما په خپله زندان کې تجربه کړي دي ، چې د قرانکریم په برکت د حاصل شوي قلبي سکون په برکت مو دښمن ته هیڅکله ټیټه او کمزورې خبره نه کوله او الله تعالی د بندیانو زړونو ته یو بی ساری ډاډ او زړورتوب بښلی و.

یو وخت کې چې شپږ میاشتې په ولچک او زولانه حالت کې په ډیربد حالت کې بندیان و او د ګلالي په نوم د استخباراتو ظالم رئیس د وهلو ، ټکولو او روحي زجر په شمول په بندیانو سخت ظلمونه کول تردې چې زیاتره وخت کوټه قلفي او په تنهایي کې اوسیدم، کله به چې د سره صلیب خارونکي راتلل نو ددې لپاره چې زموږ له بد حاله خبر نه شي،موږ به یې د ریاست تحقیق څلورم منزل

ته ورېلو او له سهار تر ماښامه به همالته کوټه قلفي وو ، همدلته يو ځارنوال چې په ماما مشهور و ، ډير په غرور او کبر به

غرېيده ، ځان يې هم ډير د لوړې مرتبې سړی باله ، يوه ورځ يې ډيرې خبرې راته وکړې په پای کې يې په ځانګړي مغرورانه انداز راته وويل چې ډاکټر عزامه که موږ دې ايله کړو دا ځل به ته څه کوې !

ما چې دده دا حالت وليد نو ديوه مجاهد په حيث مې کمزوری ځواب مناسب ونه باله په لنډو مې ورته وويل چې څه مې مخکې کول هماغه به کوم

په دې خبره مغرور څارنوال هم حيران شو او د کبر له آس څخه راوغورځيده ، يوه شيبه حيران ودريد او وروسته کيناست او په جديت يې پوښتنه وکړه چې څرنګه به هغه څه کوې چې مخکې دې کول ؟

دغه ما ددې لپاره چې همدا خبرې مې اعتراف او اقرار ونه بلل شي داسې ځواب ورکړ چې الزام مې په دوی ولګاوو ، ورته ومې ويل چې: چاروا کو په ښار کې زما کور نيولی دی زما خپلوان ، پلار او قريبان يې ترټلي او ځورولي دي ، چې دولت زما سره په دعوه وي څوک مې غږ نه اوري زه به ضرور د طالبانو خواته ورځم تر څو خپل حق ترلاسه کړم نو د خپل حق د ترلاسه کولو لپاره خو هرڅوک مبارزه

کوي، په دې خبرو ځارنوال حیران او بې ځوابه شو او نور یې څه ونه ویل.

په زندان کې په لوړ عزم او حوصله سره او سیدل بله دا ګټه لري چې کله په تیلیفون یا ملاقات کې خپلوان د بندي عادي حالت، خوشالي او لوړ مورال ګوري نو ډیره اندیښنه نه ورته کوي او که یې په بد حالت کې ووینې نو خپلوان او کورنۍ هم ورسره په غم اخته کیږي له همدې امله چې بندیان کله له خپلو خپلوانو سره خبرې کوي باید د لوړ مورال او عزم مظاهره وکړي.

په بندي خانه کې چې د زندان مسؤلینو د بندیانو عادي حالت، خوشالي او لوړ مورال لید نو بیخي به ورته حیرانیدل او حتی ځینو خو به د بندیانو په مخکې اعتراف کاوو چې تاسو تر موږ ښه یاست، ښه خوشاله یاست هیڅ خطر نه احساسوئ موږ سره له دې چې ازاد یو خو له اندیښنو ارام راباندې دریدلی دی.

ځینو عسکرو او مسؤلینو چې زموږ مستغني حال لید نو پوښتنه به یې کوله چې ستاسو معاش او اعاشه څومره ده چې داسې مطمئن یاست دوی خبر نه وه چې د امارت مجاهدین ټول پرته له تنخا او معاش څخه یوازې د الله تعالی د رضا لپاره جهاد کوي او دا یوازې د الله تعالی له لوري ورکړل شوی قناعت دی چې بندیان ورباندې داسې مطمئن وو.

په زندان کې د مخلصو مسلمانانو خصوصا تجارانو مرسته ډېرولو ورته ده چې په هربندي يې پوښتنه کوله او کله ناکله يې د پام وړ مرسته هم ورسره کوله الله تعالی دې ددوی دغه خيراتونه قبول وګرځوي. آمين

## د زندان د مشروعو اصولو رعايت

په زندان کې بندي د دښمن لخوا له دوه ډوله اوامرو سره مخامخ وي، يو هغه اوامر وي چې منل يې بندي او جهادي صف ته زيان رسوي ، لکه د جهادي عملياتو او اشخاصو په اړه له دښمن سره معلومات شريکول او داسې نور څه د دښمن دغه ډول اوامر او ټول هغه اوامر چې ترسره کول له شريعت سره ټکر وي بايد ونه منل شي.

اما ځيني شيان داسې وي چې د زندان داخلي اصول او مقررات بلل کيږي، لکه د تحقيق ته د وړلو په وخت لاس او پښې تړل، په خپل وخت ورزش او افتابي ته وتل ، په خپل وخت راتلل او داسې نور... د دغو ډول مشروعو اوامرو په منلو کې بايد بندي بې ځايه ضديت ونه کړي، ځکه چې دا په خپل ځان بې ځايه تکليف راوستل يا ځان له جزاء سره مخامخ کول دي، څرنګه چې خپل ځان هم په انسان حق لري چې بې مورده به يې خوارۍ او سختۍ ته نه ورکوي نو ځکه بايد په داسې امورو کې چې هغه مشروع وي او د زندان داخلي مقررات بلل کيږي بنديان بايد په کې بې ضرورته سختي ونه کړي.

ځینو خلکو ته دا هم کارنامه ښکاري چې په هر ډول خبره کې اګر که منل یې شرعا مشروع هم وي باید د زندان له مسؤلینو سره ضدیت وشي، چې د دغسې چلند په پایله کې بیا بندي همیشه جزایي وي، دښمن ورته روحي او جسمي شکنجې ورکوي او دښمن خو هسې د بندي جزایي کولو ته بهانه غواړي تردې چې د دغسې پرلپسې جزاګانو په نتیجه کې بندي په مختلفو رواني او نورو امراضو اخته شي او د راتلونکې ژوند او دیني خدمت لپاره ورسره هیڅ طاقت او استعداد پاته نه شي.

## د تحقیق په مهال د دښمن لخوا دوکې

څرنګه چې زما ګرفتاري په کابل کې شوې وه او زه د ټیلیفون په ذریعه نیول شوی وم یعنې ټیلیفون مې کشف شوی و نو د دې لپاره چې ما پیدا کړي د مارکیټ ټول خلک یې ونیول، د تحقیق په مهال چې اطمینان ورته حاصلیده نو نور خلک یې خوشي کول، څرنګه چې زما سره د نیولو په مهال کوم بل جهادي ملګری نه و نو دا زما بخت و، ځکه همدو سیه ملګری مې نه درلود، له همدوسیه ملګري څخه په زندان او تحقیق کې ډیر جنجال سړي ته پیدا کیږي، ځکه شاید ته یو ډول تحقیق ورکړې او هغه بل څه ورته ووایي او په تحقیق کې په ټکر راتلو سره دواړو ته ستونزې جوړیږي.

ډیر ځله به داسې پیښیدل چې دوه یا ډیر ملګري به یې یو ځای نیولي وو ، نو یوه ته به یې دروغ وویل چې ستا هغه بل ملګري موږ ته داسې معلومات راکړل او موږ ددې پیښې په باره کې بشپړ معلومات لرو یوازې ستا دروغ او رشتیا معلوموو په دغسې دروغو خبرو به یې بندي وارخطا کړ او په ډیر مهارت به یې دځان یانورو په باره کې اعتراف ترې واخیست ، په داسې حال کې چې څارنوال ته به د هیڅ شي معلومات نه و یوازې به یې له بندي څخه د اعتراف اخیستلو کوښښ کاوو.

په دغسې حالاتو کې به زیاتره وخت بندي فکر کاوو چې راځه په کوچنی شي اعتراف وکړه او رښتیا ورته ووایه تر څو دې سزا سپکه شي یا به څارنوال په دروغو د خلاصیدو او د سزا د سپکیدو وعدې ورکولې خو چې د بندي له خولې به یې یوه خبره وایسته نو بیا به یې د تحقیق لړۍ لا سختیدله او نور اعترافات به یې هم ترې غوښتل چې په دې ډول به بندي ته هغه لږ اعتراف د ګټې په ځای تاوان وکړ.

ما داسې یو قیدي ولید چې همداسې چلند ورسره شوی و، د وزیرستان او سیدونکی یو جوالي و چې له پاکستان سره په باډر یې جوالیتوب کاوو او سکاره یې موټرو ته بارول، یو وخت په همدې سیمه کې په دښمن فدایي حمله شوې وه،نو یو څوک چې له همدې وزیرستاني سره یې شخصي خصومت درلود حکومت ته یې جاسوسي کړې وه چې دغه سړی په فدایي حمله کې لاس لري.

دغه وزیرستاني جوالي یې نیولی و او هماغه د جوالیتوب په تورو جامو کې یې کابل ته راوست، تر ډیرو وهلو ټکولو وروسته هم هغه یوازې همدا ویل چې زه جوالي یم او په هیڅ والله که خبر یم ما دا کار نه دی کړی.

یوه شپه چې دغه بندي د قرانکریم تلاوت کاوو، څارنوال یا محقق ورته راغلی و، ددې لپاره چې څارنوال خپله رتبه پورته کړي او د ملي امنیت فعالیت کامیاب وښیي نو یې بندي ته په هماغه قران لاس ایښی وو او قسم یې ورته کړی وو، چې ته یوازې د کیمرې په مخکې دومره ووایه چې هو دغه کار ما کړی دی، اوس اعلان شوی دی چې هغه کس نیول شوی دی موږ یوازې خلک وربانديې غلطوو او تبلیغاتي استفاده ترې کوو، ته یوازې هغه څه ووایه چې موږ درته وایو نور موږ په دې قران قسم درسره کوو چې تا به سهار خوشی کړو، په دغسې خبرو او وعدو یې جوالي بې چاره غولولی و او د کیمرې په مخکې یې اعتراف ترې واخیست، او هغه خبرې چې څارنوال ورته ښودلي ده وویلې، چې په سبا په ټیلویزون او ځینو رادیوګانو کې نشر شوې، له دې اعتراف وروسته بندي ددې په ځای چې آزاد یې کړي، په عمري بند محکوم شو، دغه بیچاره بندي ډیر عمر په زندان کې تیر کړ، تردې چې وروسته برق ونیو او شهید شو.

... په هر حال دا بيان مې ددې لپاره وکړ چې بندي دې نهايي کوښښ وکړي چې معترف نه شي ځکه اعتراف بندي ته هيڅ ګټه نه رسوي بلکې اضافه زيانونه ورته لري او دوسيه يې درنيږي، بله داچې نورو بنديانو ته هم زيان رسوي، ځکه مجاهدين هميشه له نيول کيدو سره مخامخ وي، نو که يو بندي اګر که اوس نيول شوی نه وي خو که په اعتراف کې يې نوم ذکر شي او سبا ونيول شي نو دا اعتراف د هغه په خلاف تيار شواهد بلل کيږي، او په دې ډول بنديان متضرر کيږي نو ځکه ويلی شو چې له اعتراف نه بايد بنديان ځان وساتي.

## په زندان کې د دښمن لخوا له استخدام نه ځان ساتل

زنداني بايد تل مقاوم وي او د هر راز حالاتو مقابله په خپل ايماني او جهادي قوت سره ترسره کړي او خپل وجدان او ضمير ويښ وساتي.

ډير وخت په زندان کې داسې پيښيدل چې د تحقيق او تعذيب په مهال به کله کوم بندي تر تاثير لاندې راغی، عزم به يې وبايله او مؤظف څارنوال او مستنطق به يې وارخطايي وليدله نو دغه بندي به د دښمن ښکار وګرځيده، په داسې ډول چې دښمن به ورته په دروغو وعدې ورکولې، خوږې خبرې به يې ورسره شروع کړې او د تخفيف په اړه به يې ژمنې ورسره کولې خو په مقابل کې به يې له

بندي څخه غوښتل چې د نورو بنديانو ترمنځ دوی ته جاسوسي وکړي او د زندانيانو حالات له دوی سره شريک کړي.

دښمن به په دغسې حالت کې بنديانو ته ويل چې که څه موده د دوی لپاره د جاسوسي کار وکړي ډيرزر به خوشې شي، په دې ډول به ځيني ساده او کم عزمه بنديان د دشمن په جال کې ګير شول، او د بنديانو له منځه به يي دښمن ته د جاسوسۍ کار شروع کړ، چې دا کار د بنديانو لپاره خورا خطرناک و او دښمن ترې ډيره استفاده کوله.

د دغسې جاسوسانو خطر له دې امله زيات و چې مجاهدو بنديانو به ورباندې د صالح او سم شخص ګومان کاوو، په ظاهره به سم متدين او پرهيزګاره معلوميده خو په پټه کې به يې د بنديانو ټولې خبرې له دښمن سره شريکولې ،دغسې يو کس د استخباراتو په زندان کې و چې د ننګرهار ولايت و او د قرانکريم حفظ يي هم کړی وو او په ظاهره شه تقوا داره او صالح معلوميده خو په پټه کې يي دښمن ته کار کاوو د ډيرو بنديانو حالات يې استخباراتو ته رسول په داسې حال کې چې نه به د بنديانو په خلاف هيڅ نوع شواهد موجود وو او نه به يې له ډيرو تعذيبونو سره سره اقرار کړی و، خو کله چې به يي د جهادي مباحثو په لړ کې همدغه کس ته کوم څه بيان کړل بيا به هماغه څه دښمن ته رسيدلي وو او مجاهد ته به يې ډير مشکل جوړ کړ.

د عبدالرحمن په نامه د فراه ولایت یو مجاهد و ، نوموړی د فراه استخباراتو د ملا عبدالمنان د اکاد زوی او نږدې ملګري په تور نیولی و ،خو نوموړي له ډیرو تعذیبونو سره سره اقرار نه و کړی او هیڅ شی وربانديې ثابت نه و ، وروسته دښمن غوښتل چې ازاد یې کړي، نو یې د نوموړي له اکا څخه ډیرې پیسې هم اخیستي وې ترڅو یې په مقابل کې عبدالرحمن ازاد کړي، په سبا چې یې د ازادیدو ورځ وه په مازدیګر کې اکا ورسره ولیدل او ورته ویې ویل چې سبا به ازادیږي.

خو په همدې ورځ استخباراتو د دوی اطاق ته همدغه کس چې ظاهرا مجاهد ته ورته و خو په پټه د دښمن استخدام کړی و ، د بندي په حیث راولي، او د شپې مهال چې عبدالرحمن ته له خوشالۍ څخه خوب نه ورځي ځکه ازادیږي ، له عبدالرحمن سره دغه نوی بندي د ملا عبدالمنان په اړه خبرې کوي، د ملاعبدالمنان یو څو نښې هم ورته ښیي او ورته وایي چې په پخوا وخت کې ما ورسره اندیوالي کړې وه ،په دې مهال عبدالرحمن هم خبرې ورسره شروع کوي او له عبدالمنان سره د ملګرتیا او جهاد ټوله کیسې ورته کوي، نیمه شپه دغه نوی بندي بیرته د استخباراتو لخوا ایستل کیږي او په سبا عبدالرحمن د دې په ځای چې ازاد شي له سره تحقیقات ورڅخه شروع کیږي او بیا ورته درنه جزاء ټاکل کیږي او څو کاله قید ورکړل شو چې له ما سره یو ځای په بلاک کې اوسیده.

دغسې پيښې نورې هم ډېرې شوي دي نو مقصد دا چې بنديان بايد ډېر هوښيار واوسي چې نه خو د دښمن لخوا استخدام شي او نه هم د دښمن د پټو جاسوسانو لخوا فشاء او په دام کې ښکيل شي، په زندان کې بايد په اسانه په چا باور ونه شي او نه ورته د زړه حال وويل شي.

## په زندان کې د مخدراتو خطر

په هر مجاهد لازمه ده چې د جهاد له پيل وړاندې د جهاد په مطلب او مقصد ځان پوه کړي، دغه راز هر مسلمان بايد د خپل ژوند مقصد وپيژني او له هغه شيانو ځان وساتي چې دده دنيوي يا اخروي ژوند ته تاوان رسوي،باهدفه او بادركه ژوند موږ ته د دنيا او اخرت سعادت رانصيب کولای شي، په ژوند کې قسما قسم مشکلات راځي خو انسان بايد خپل درک ونه بايلي او نه د ژوند له لوی هدف څخه غافله شي.

متاسفانه په زندان کې داسې يو شمير بنديان وو چې ځانونه ورته غير مکلف ښکاريدل،مورال يې بايللی او عقل او درک يې له لاسه ورکړی وو ، ددې په ځای چې له زندان څخه د اضافي عباداتو او علم حاصلولو لپاره استفاده وکړي يوازې فرض لمونځ هغه هم په ډير کمزوري شکل سره اداء کاوو ، ځينو خو حتی نشو او مخدراتو ته مخه کړې وه او د دښمن لخوا هم ورته دا زمينه برابريدله چې يو

بادرکه او صحتمند مجاهد په نشه يي موادو اخته کړي ترڅو يي آينده ټول ژوند ورتباه کړي.

نو په زندان کې چې سړی له خپلې معاشرې ، شناخته ګانو او کورنۍ څخه بيل وي او د نشه يي موادو د استعمال زمينه هم ورته برابره وي ، بندي واقعا په يوه ابتلاء کې واقع وي،هغه شايد داسې فکر وکړي چې نشه يي مواد به يي دزندان انديښنې کمې کړي نو ځکه په مخدراتو پيل وکړي، خو دغه کار ډير زيان اړونکی دی چې دبندي دنيا او اخرت ورتباه کولای شي.

په زندان کې دزندان مسؤلين په منظمه توګه دا هڅه کوي چې بنديان په نشه يي موادو معتاد کړي،ځکه هلته د عسکرو او دزندان د مسؤلينو لخوا د مخدره موادو خرڅلاو د دوی لپاره د يوګټور کاروبار شکل غوره کړی دی ،چې حتی د زندان قومندانانو په کې لاس درلود ځکه موږ ليدل چې معتادينو ته مخدره مواد همدې دزندان عسکرو رارسول او په مقابل کې يي له بندي معتادينو پيسې اخيستې.

موږ چې په څلورم بلاک کې وو نو په دې بلاک کې ډير معتاد بنديان هم وو چې زياترو به يې د سپورټ يا افتابي په وخت ددريم بلاک له مسؤلوعسکرو څخه نشه يي مواد ترلاسه کول،ځکه دڅلورم بلاک ميدان دريم بلاک ته څيرمه و ، خو ددې بلاک قومندان

چې سخي بدخشانی نومیده په دې هڅه کې و چې باید دغه کاروبار په خپل لاس کې واخلي، نو یې د زندان عمومي مشر ته پیشنهاد وکړ چې معتاد بندیان باید ټول په یوه ځای کې راټول شي، قومندان بندیانو او عمومي مشر ته داسې په نظر کې ورکړه چې له دوی څخه نور بندیان په عذابیږي او دلته به په منظم ډول ورزش او افتابي ته ایستل کیږي ، همدغسې وشول د بلاک له مختلفو وینګونو / څانګو څخه یې معتادین چرسیان او پوډریان راټول کړل او د بلاک په دوهم منزل کې یې په دوهمه ګوشواره کې سره یوځای کړل، په دې کار موږ هم ډیر خوشاله شوو او ټولو بندیانو د قومندان سخي د ترحم یو کار باله چې عام بندیان یې د معتادینو له جنجال څخه خلاص کړل، له دې وروسته به چې معتادین ورزش ته ایستل کیدل نو د ورزش په مهال به د دریم بلاک د پنجرو خواته منظم عسکر ولاړ و ترڅو معتادین له دریم بلاک څخه مخدره مواد ترلاسه نه کړي، خو د قومندان سخي د دې کار په مقصد موږ وروسته پوه شوو او هغه داسې چې:

د اغاجان په نوم یو پوډري و چې د پاکستان د پښین او سیدونکی و، چې د اکبراغا څه شناخت ورسره و، یوه ورځ ما او اکبر اغا پوښتنه ترې وکړه چې څه حال دی اغاجانه اوس خو یې لکه چې پوډر هم درباندې بند کړي !

اغاجان ځواب راکړ چې پوډر بند شوي نه دي يوازې يو څه قيمته شوي دي، پخوا مې د دريم بلاک له مسؤلينو څخه په سل روپۍ يوه پوړۍ اخيستل او اوس يي قومندان سخي په معتادينو باندې په يونيم سل روپۍ پوړۍ خرڅوي او قومندان سخي د همدې ګټې لپاره معتادين سره رايوځاى کړي دي، دغه داغاجان په نوم بندي چې د متعادينو د ګوشوارې باشي يا نماينده و په همدې ځاى کې له قومندان څخه د نشه يي موادو راوړل او خرڅول هم دده په غاړه و.

نو ددغسې ابتلاوو په مقابل کې بندي بايد ويښ او هوښيار واوسې نه يوازې خپل ځان بلکې خپل نور ملګري هم د مخدره موادو له استعمال څخه وساتي، زنداني بايد په يوه مشروع عمل لکه تعليم ، تعلم ، اذکارو ، عباداتو د قرانکريم حفظ او داسې نورو مشروع کارونو باندې ځان بوخت وساتي ترڅو دمخدره موادو داستعمال غوندې ټولو زيان اړوونکو شيانو څخه په امن پاته شي.

## زندان يا خلوت نشيني

په زندان کې که بندي په دې فکر ژوند تيروي چې زه بندي يم، ازادي مي اخيستل شوي ده او ددښمن په قيد کې پروت يم ، نو بيا وربانديې زندان غميزې او شايد له ډيرو روحي ستونزو او زړه تنګۍ سره مخامخ شي اما که زنداني داسې فرض کړي چې زه بندي نه يم

بلکې د الله تعالی د عبادت لپاره مې څه موده خلوت نشیني او ګوښه توب غوره کړی دی ترڅو په ښه فراغت د الله تعالی عبادت وکړم، اذکار وو وایم او دعاګانې وکړم او یوازې حسنه اعمال ترسره کړم په دغسې صورت کې نه یوازې په بندې زندان نه غمیږي ، بلکې ښه ګټوره استفاده هم ترې کولای شي.

زما د تجربې له مخې په زندان کې که بندي په زړه کړه ځان مصروف کړي، مطالعه او لیکلو ته وخت ورکړي او په فرضي عباداتو سربیره نفلي عبادات لکه زوائد سنت،صلوة التسبیح ، اشراق ، اوابین او داسې نور سنت اعمالو ته توجه زیاته کړي نو له یوې خوا به یې زیات اجرونه ګټلي وي او له بلې خوا به یې له بې ځایه تشویشونو او بیکاره خلکو سره له بې ګټې مجلسونو ځان ساتلی وي.

په زندان کې چې بندي د مظلومیت په حال کې وي الله تعالی ته یې په عبادت کې ډیره ښه توجه برابریږي او عبادات خو یې داسې لذت لري چې ما بل هیڅ ځای په عبادت کې دغسې خوند نه و لیدلی.

بله دا چې که دې ته فکر وکړای شي چې د الله تعالی د دین د خدمت په لاره کې سړی محبوس شوی وي،او بیا د زندان په سختیو کې پروت وي،نو څرنګه چې په جهاد کې عبادات په زرهاوو چنده

زيات اجر لري،نو زندان چې د جهاد د بهير يوه سخته مرحله ده دلته هم هر عبادت د عادي ژوند له عبادت څخه ډير زيات اجر لري.

دې ته په فکر سره بندي بايد د خپل حالت په اړه زړه لړ نه کړي،بلکې له دې فرصت نه ښه استفاده وکړي. کله چې موږ لس تنه بنديان د پل چرخي له عمومي محبس څخه د ګوانتانامو په نامه نومول شوي نظامي وحشي محبس ته يوووړو، او په جلا جلا اطاقونو کې يې په سرو کاليو کې په ډير سخت حالت کې پرته له کوم موجبه بنديان کړو، نو په ځينو بنديانو دغه فوق العاده ظالمانه حالت سخت تمام شو تردې چې د طالب جان په نوم په يوه بندي خو يې دومره تاثير کړی وو چې ځان يې غرغره کړی وو، چې وروسته د عسکرو لخوا شفاخانې ته يووړل شو او له مرګ څخه بچ شو، دغه زنداني چې له ماسره په څنګ اطاق کې کوټه قلفي و، چې يو بل مو ليدل نه خو غږ مو سره رسيده، نو موږ يې اصرار کاوو چې موږ بايد اعتصاب وکړو چې موږ ولې په داسې بد حالت کې اچول شوي يو په داسې حال کې چې محکمه مو شوې او په عادي حبس محکوم شوي يو مګر دښمن پرته له کوم دليل څخه په دغسې بد زندان کې پرته له ملاقات او پايوازۍ څخه قرنطين ساتلي يو،د نوموړي د قناعت لپاره مې ورته وويل چې دغه تکليف د الله تعالی په لاره کې درته پيښ شوی دی، د تکليف په نظر مه ورته ګوره بلکې د ثواب ګټلو د يوه فرصت په نظر ورته وګوره ،ځکه په دې حالت کې ستا يو

لمونځ دعادي حالاتو له ډېرو زياتو عباداتو نه هم غوره دی او الله تعالی په هر تکليف او سختي برداشتولو باندې ثواب درکوي يوازې احتساب وکړه يعني خپل نيت اصلاح وساته او په هرڅه کې دالله تعالی رضا مدنظر ونيسه.

زندان چې د خلوت او عبادت لپاره يو ښه فرصت دی بندي بايد ترې ښه استفاده وکړي له عسکرو او چاروا کو سره له ډېرې جانداری او مجلسونو څان وساتي څکه له دې څخه بندي ته جنجال پيدا کيدلای شي،دغه راز د سپورت او افتابي په وخت کې بايد بندی له وخت نه ګټه واخلي بايد ورزش وکړي څکه ورزش د انسان بدن او روحيه تازه ساتي او انسان ته خوشالي ښښي.

# دریم فصل

## د زندان لاربنود

هغه څوک چې په دې دنیا د سرلوړي ، متعهدانه او مبارزانه ژوند نیت او تابیا لري ، ضرور به دژوند په اوږدو کې لوړو ، ژورو ، سړو ، تودو دغه راز سختیو او کړاوونو ته تن ږدي ، د اسلامي امت د تاریخ ټولي مبارزې په همدې حقیقت شاهدي ورکوي ، مسلمان امت هیڅ ستره لاسته راوړنه ، په اسانۍ نه ده ترلاسه کړې ، بلکې دهرې بریا او فتحې لپاره یې بې دریغه قربانۍ ورکړې.

د ژمن مسلمان ،مجاهد ، مبارز او داعي په وړاندې د پرتو منازلو او تکالیفو له جملې څخه یوه هم دزندان مرحله ده ، هغه چې د سرلوړي ، باایمانه او باشرفه ژوند لپاره مبارزه کوي ، زنداني کیدل یوه له لازم الوقوع فرضیو څخه شمیري ، په همدې بناء لازمه ده چې زموږ د اولس مبارز او مجاهد زامن دنورو جهادي تدریباتو او امادګیو غوندې دزنداني کیدلو لپاره هم بشپړه امادګي ولري ، ترڅو دنورو امتحاناتو غوندې له دې سختې مرحلې څخه په بریالیتوب تېر شي.

داچې یو زنداني یازنداني کیدونکی مجاهد باید کومې نقطې په پام کې ولري ، په لاندې کرښو کې مو ورته پام راګرځوواو ځینې اړین معلومات درکوو.

۱ - مجاهد باید زندان د شهادت ، زخمي کیدو ، مهاجرت یانورو امتحاني تکالیفو او قربانیو غوندې دجهادي مبارزې دلارې یوه عادي مرحله وبولي ، په دغه مرحله کې واقع کیدل له اوله له ځان سره فرض کړي ، دنورو تکالیفو غوندې باید په لوی زړه ورته امادګي ولري او کوم فوق العاده تکلیف ورته ښکاره نه شي.

۲ - لکه څنګه چې جهاد او هجرت دمؤمن لپاره سیاحت بلل شوي دي ، زندان ته لویدل باید مجاهد دالهي عبادت لپاره عزلت او ګوشه نشینۍ وبولي ، دتنهایۍ له دې شیبو څخه دبې ریا عبادت دترسره کولو او باطني تزکیې لپاره استفاده وکړي ، چې په دې توګه به زندان دنومورې لپاره عذاب نه بلکې دااستراحت ځای ثابت شوی وي.

۳ - زندان ته دلوېدو او له ازاد ژوند څخه دمحرومیدو له امله باید هیڅکله دنارضایتي احساس زړه ته پرېنږدي ، بلکه دالله تعالی شکر دې ادا کړي ، چې دبرحقې مبارزې په لاره کې له دې مرحلې تیریږي ، دغه راز دیوسف علیه السلام دزندان کیسه او ددې

آیت مفهوم ( رب السجن احب الي مما یدعونني الیه ) دې له ځان سره لحاظ کړي ترڅو یې عزم او مورال لا تقویه شي.

۴- د اسارت په مهال باید ډیر کوښښ وکړای شي چې د بندي موبایل د دښمن لاسته ورنشي ، مثلاً که د اسې صحنه پیښیږي چې دښمن یو په یوه چاپه اچوي نو تربل هرڅه له مخه باید موبایل او سیم کارت سره جلا او د اسې ځای وغورځول شي چې د دښمن لاسته ورنشي ، حتی که د سیم کارت ایستلو موقع هم نه وي نو باید بند کړل شي او بیا چیرې غلی ځای کیښودل شي چې پام نه ورا وړي.

۵- تر اسارت له مخه باید د بندي یو د اسې فون نمبر په یاد وي چې هغه یې یو ائې په شخصي ورځنیو کارونو کې استعمال کړی وي ؛ ځکه د تحقیق په لومړي سر کې له شهرت مکمله نه وروسته د فون نمبر پوښتنه اساسي پوښتنه ده او په هغې بیا ټوله دوسیه پیل کیږي نو که بندي ورته د اسې یو نمبرورکې چې هغه عادي نمبروي ، په دې توګه سره په حقیقت کې بندی وکړای شول چې د د ښمن د توقع خلاف یې ټوله دوسیه د ځان په ګټه کړه او کوم فون نمبر چې د ښمن تعقیب کړی وي د هغه د معلوماتو سلسله یې په همدغه عادي نمبر ورقطع کړه.

همدا راز کوم هغه ورونه چې د خپل کار په مهال له نیټ نه استفاده کوي او مشخص ایمیلونه کاروي هغوئ ته په کار ده چې

وارترلـه مخـه يعنـي ترا سارت لـه مخـه لا يو دا سې عـادي ايميـل ادرس ترتيـب اوبيـا هغـه پـه يـاد كړي چې پـه هغـه بانـدې عـادي مراسلې لكه د روغ اوناروغ پوښتنه ، د دوكانداري معـاملات اوداسـې نـورې ليكنـې بانـدې وليـږي راوليـږي چـې دده لـه اصلي كارسره يې هيڅ تعلق نه وي ، دا هم لكه د هغه تعقيب شوي فون نمبر چې د دښمن له لوري ترتعقيب لاندې نيول شوى وي اوته ورته هسي عادي نمبر وركړي نو هغه د دښمن د تعقيب سلسله ټوله وربا ندې قطع كيږي.

٦. كه داسارت پـه مهـال يـا د دښمن د چاپې اچولـو پـه وخت لـه يـوه نـه زيـات ملګري پـه يـوه كوټـه يـا يوه ځاى كې سره يوځاى وي نـو دمبايل ترغم خوړلو وروسته بايد دستي يو دبل مستعار نومونه ، د دوئ پـه منځ كـې د پيژنـد ګلـوي اوكاروبـاري تعلـق سـره زده كړي اود تحقيـق پـه مهـال هغـه ورتـه ووايـي ، اود ټولـو خبره بايـد سره يوه خبره وي ؛ ځكه ډير داسې پيښ شوي چې پـه همداسې دسته جمعي توګه په ملګروچاپه واچول شي هغوئ هريو دبل پـه هكله هيڅ معلومات نه لري ،اصلا خو معلومات لـري خـو داورتـه نه وي مالومه چې هغه بل ملګري به زما په هكله څه ويلي وي .

مثلا : له احمد نه د شاكرپه اړه پوښتنه و كړي چې دا څوک دی ؟ هغـه ورته وايي چې زه هغه هيڅ نـه پيـژنم خـوچې كلـه بيـا لـه شـاكرنه عـين

پوښتنه د احمد په اړه وشي هغه ورته وايي چې هغه زه پېژنم پلانی سړی دی او پلانی کارو بارکوي.

۷- همداراز ځیني وخت د ښمن د بندي شویو مجاهدینو د پېژندلو لپاره د هغوئ له منځه دیوه نفر د تطمیع کولو هڅه کوي او هغه ته وایي چې که ته د دغو نورو ملګرو په اړه معلومات راکړي مونږ به تا پرېږدو او مرسته به درسره وکړو ، هغوئ دغه خبره هریوه ته کوي ، خو باید مسلمان بندي هیڅ کله هم د دښمن په وینا او کاذبو وعدو خطا نشي او نه د خپلو ورونو په اړه معلومات ورکړي.

۸ـ بندي د دښمن په لاس کې د لویدلو پر مهال باید هیڅکله د ویرې ، وار خطایي، او مایوسي احساس ونکړي، ځکه د الله ساتنه له مسلمان سره په هر وخت کې مل ده خو د دښمن په لاس کې د لویدلو په مهال بیا الله تعالی ډیر زیات مهربانه او نصرت کوونکی دی .

## د مثال په توګه :

الف: حضرت ابراهیم علیه السلام چې دښمن یې په اورکې داچولو او سوځولو شیبې شمارلې الله تعالی وربانـدې د خپلې ساتنې له مخې هغه اور ګل ګلزار کړ.

ب: حضرت موسی علیه السلام چې فرعون یې په رود نیل کې دغرقولو په لټه کې وه او دا سې مرحلې ته په رسید وسره چې ترشا یې دفرعون ظالمې لښکرې او مخته یې درود نیل وژونکې څپې وې، خو الله تعالی دخپلې همدې خاصې ساتنې له مخې په هماغو وروستیو شیبو کې د ه او د ده ټولو ملګرو ته نجات ورکړ او د ده دښمن فرعون یې په هماغه رود نیل کې هلاک کړ کوم چې فرعون پکې د موسی علیه السلام دغرقولو نیت درلود.

ج: حضرت محمد صلی الله علیه وسلم چې مشرکین ئې په پلټنه پورې د غار ثور ترخولې هم ور ورسیدل خو دالهي ساتنې له مخې دی او دده دهجرت ملګری حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه تری وژغورل شول.

۹ - زندان ته له لویدو وروسته دې سمدستي کوښښ وکړي ، چې ځان مصروف وساتي ، ځکه اصلاً په زندان کې ذهني ځور او خفګان داوزګارتیا او بې ځایه وسواس له وجې پیدا کیږي ، نو ښه خبره داده چې بندي هیڅکله ځان اوزګار پرېنږدي ، باید دقرانکریم په تلاوت ، حفظ ، مطالعه ، ذکر ، نفلي عبادت ، سپورت ، له ملګرو سره په خبرو اونوروداسې مصروفیاتو سره ځان مصروف کړي ، ترڅو یې حواس معطل پاتـه نه شي.

۱۰ - د دښمن د جائزو لارښوونو او اوامرو په وړاندې باید بې ځایه او بې ګټې ضد ونه کړي ، هغه چې د دښمن لخوا د تعذیب لپاره دبهانې تراشلو پرته بله هیڅ دیني او دنیوي ګټه پرې مرتبه نه وي ، خو په عمومي چلند کې باید بندي خورا دلوړمورال او عزم مظاهره وکړي ، ځکه زموږ دښمن زموږ ټول حرکات او کړنې په خورا مهارت څاري او ارزوي ، که موږ د دښمن په وړاندې ځان خورا باعزمه او حوصله ناک ثابت کړو ، نو د دښمن په مورال او عزم به مو اغیزمن ګوزار وارد کړی وي.

۱۱ - وړاندې له دې چې نوی زنداني خپل د اطاق ملګري په سمه توګه وپیژني او اعتماد حاصل کړي ، باید په خبرو کې ورسره احتیاط وکړي ، او دزړه حال ورته ونه وایي ، او نه ورسره سیاسي یا مذهبي بحث او خبرې وکړي ځکه ډیروخت دښمن له زندانیانو سره د ستوري اویا تطمیع شوي کسان یوځای کوي ترڅو د زندانیانو په هغو رازونو ځان خبرکړي چې له مستنطیقینو نه یې پټ ساتي ؛دغه راز: له نیول کیدو سمدستي وروسته باید په دې فکر پیل وکړي ، چې څنګه کولای شي په سمه توګه د دښمن تحقیقاتو ته ځواب او توجیهات پیدا کړي ، په دې برخه کې باید ډیر دقت وکړي ، او که په سمه توګه او هوښیارۍ سره دا مرحله ترسره کړي نو شاید له ډیر وخت زندان تیرولو څخه نجات ومومي. په دې وروستیو کې یو امریکایي

جنرال څرګنده کړې چې دوی د شپې لخوا په عملیاتو کې د نیول شویو کسانو له جملې په سلو کې **۹۵** تنه له دری ورځې توقیف وروسته بیرته خوشي کړي دي ، له دې څخه معلومیږي چې دښمن د عملیاتو په مهال مطلوب کسان دا تکل له مخې نیسي او وروسته یې د درې ورځنیو تحقیقاتو په لړ کې چاڼ کوي ، نو ځکه لومړنۍ درې ورځې خورا مهمې دي ، چې باید په سمه توګه چلند او خبرې په کې ترسره شي.

۱۲ - په زندان کې د وخت تیرولو په مهال باید بندي د کور او اهل وعیال په اړه له بې ځایه چورتونو څخه ځان وساتي ، ځکه دا ډول فکرونه له روحي ځور پرته بندي ته بل هیڅ ګټه هم نه شي رسولی.

۱۳- زنداني باید د دښمن له عسکرو سره په چلند کې ډیر احتیاط وکړي ، له ضروري خبرو پرته باید له عسکرو سره بې ضرورته مجلس او ګپ شپ ونه کړي ، او نه دې ورسره شناخت کوي ، ځکه د دشمن له عسکرو سره هر ډول تعامل ، مجلس او شناخت پالل تاوان لري ؛ ګټه نه لري.

۱۴- بندي چې تحقیق ته بیول کیږي ، باید ځان یو عادي څوک معرفي کړي ، د خبرو ډول او چلند یې باید د عامو خلکو وي ، ترڅو دښمن ته تر پام مهم ورنه شي ، ځکه که بندي د خبرو په

مهال ځان دلوړ استعداد یامعلوماتو څښتن معرفي کړي ، نو بیا یې دښمن هم مهم بولي ، او دخلاصیدلو احتمال یې ضعیف کیږي ، بندي چې کومه خبره یاتحقیق له ځان سره جوړ کړی وي ، هغه باید په پوره جرأت او ډیر ټینګار او تکرار سره وکړي ،اوکه بندي ډیرمشهورکس نه وي نوباربار دي داخبره ورته کوي چې تاسي زما په هکله زموږ د سیمي له خلکو سپین ږیرو او ملکانو پوښتنه وکړئ ترڅو دښمن په دې باوري کړي چې رښتیا وایي او هسې بې ځایه نیول شوی دی.

۱۵- دتحقیق په مهال یا تحقیق او جزاء ورکولو ته له بیولو مخکې باید بندي د دښمن له لاسه هیڅ ډول خوراک ونه کړي ، ځکه په داسې مهال دښمن ډیر ځله یو ډول خاص مواد بندیانو ته په خوراک کې ورکوي ، ترڅو دهغوی نورمال صحت اغیزمن کړي ، یایې جنسي غریزه وپاروي او له ښځو سره داختلاط په توسط یې بې لارې او په ګناه مبتلا کړي ، بندي باید د دښمن د ټولو داډول فریبو په وړاندې له سد ذرائع (لارې بندولو ) له شرعي طریقې څخه کار واخلي ؛ مثلا د دښمن دښځینه عسکرو دلیدو په مهال سترګې کښته وساتي ، د دښمن له لاسه خوراک ونه کړي او په دې سربیره همیشه په الله تعالی باندې له شیطان څخه پناه وغواړي.

۱۶ - که له بندي سره وسله یا نور شواهد نه وي نیول شوي ، باید چورلټ انکار وکړي ، او ترپایه په همدې خبره ټینګ پاته شي ، دا ثبات به په لومړیو کې یو څه حوصله ازمویونکی وي ، خو د بندي دوسیې ته ډېره ګټه کوي ، باید وو ایو چې په امریکایي زندانونو کې د هربندي دوسیه یوازې د هغه له خپلو خبرو او د اقرارونو څخه جوړه شوې وي ، او که څوک خپله اقرار ونه کړي هیڅ شی هم پرې نه شي ثابتیدلای.

۱۷ - که له کوم بندي سره شواهد موندل شوي وي ، په دې حالت کې مطلق انکار کول کیدای شي د ګټې پرځای تاوان وکړي، دوسیه نوره هم شکمنه شي او د تحقیقاتو د اوږدیدو او په بند کې تر ډیرو د پاته کیدو سبب شي په دې صورت کې باید د داسې توجیه، بهانې او معقول انکار په جوړولو غور وکړي ، چې له شواهدو سره لږترلږه اړخ لګولای شي ؛ مثلا د وسلې او مرمیو په اړه وو ایې چې دا دیوه مجاهد دي.

۱۸ - امریکایان له نیولو وروسته د بندیانو مزاج او د مقاومت کچه ازمویي ، د همدې لپاره خو په لومړیو کې په تحقیقاتو کې هم سختي ورسره کوي ، د غه راز له بیلابیلو نیرنګونو او فریبونو نه په استفاده هڅه کوي ، چې بندي بې لارې او بې باکه کړي ، د همدې لپاره خو دوی بندیان د ښځو په واسطه هم تعذیبوي ، هربندي باید د دښمن دې فریبونو ته متوجه وي ، او په ټینګه

ورسره مقاومت وکړي ، ځکه که په دې مرحله کې څوک لږ تنازل او کمزوري هم وښيي ، نو بيا د دښمن ورته تمه پيدا کيږي او ترپايه به په همدې ازموينو کې ګير وي.

۱۹ - د تحقيق په مهال دې بندي کوښښ وکړي چې لږ خبرې وکړي ، د تحقيقاتو په پيل کې دې زنداني خپل ځان بې سواده او له ډيرڅه نه ناخبره وښيي د تحقيق په مهال دې کوښښ وکړي چې لږ خبرې وکړي ، او د ډيرو خلګو له پيژندلو دې انکار وکړي ، که څه هم ډير عادي کسان وي ، خپل تحقيق بايد په يادو زده کړي ، او دهغه له مخې ځواب ووايي ، او د امکان په صورت کې دې يوازې په هو او نه سره ځواب ووايي ، ځکه دښمن بيا بيا تحقيقات کوي ، او که خبرې لږ او تحقيق سم ياد شوی وي ، نو بيا د خبرو ترمنځ تعارض نه رامنځته کيږي ، هغه څه چې د زندان داوږديدو سبب ګرځي.

۲۰ - بندي بايد دا فکر ونه کړي ، چې که دښمن ته صفا حال ووايي ، يا مهم معلومات ورکړي ، نو دا به يې د خلاصون سبب شي ، بلکې برعکس هرڅوک چې يوه خبره له خولې وباسي نو دښمن يې په سلو نورو خبرو مجبوروي ځکه پوه شي چې معلومات لري ، له همدې امله بايد بندي د اقرار په ځای انکار ته ترجيح ورکړي.

۲۱ - د دښمن محققین عموما دوه ډوله دي ، چې یوه ډله یې ډیره سخته او وحشیانه رویه کوي ، بد بد اخطارونه ورکوي او ویرول کوي ، او بله ډله بیا ډیر ځان نرم او معتدل ښیي ، چې د معلوماتو په مقابل کې د خلاصون وعدې او نورې خوږې خبرې کوي ، بندیان باید دلو مړنیو له اخطارونو څخه ونه ډاریږي ، او د دوهمې ډلې په خوږو وعدو خطانه شي ، په حقیقت کې د غه تحقیق کوونکي ټول د یوه قانون ماتحت دي ، او له هغه سوا بل څه په عمل کې نه شي کولای.

۲۲ - دښمن تل هڅه کوي چې له بیلا بیلو چالونو او طریقو څخه په استفاده بندیان خوابدي او غمجن کړي ، او روحي ځور ورکړي ، دهمدې لپاره خودوی قسما قسم خبرې ، مسخرې ، او نور فریبونه کوي ، بندیان باید په پوره هوښیارۍ دوی ته ثابته کړي چې دا هڅې یې په دوی کوم اغیز نه لري ، ترڅو په دې توګه دشمن له خپلو هڅو مایوسه شي.

۲۳ – زندان یو ستر امتحان دی ، بندیان باید همیشه له الله تعالی څخه توفیق وغواړي چې له فتنو څخه یې وژغوري ، څرنګه چې په امریکایي عسکرو او محققینو کې ښځې هم ډیرې شته ، بندیان باید دسترګو حفاظت ته پوره پاملرنه وکړي ، له الله تعالی څخه نصرت وغواړي او دامکان په صورت کې د دښمن

په چلند اعتراض وکړي ، ترڅو زنانه عسکر یا محقق په نارینه بدل کړي.

۲۴ـ د دښمن محققین (په ځانګړي توګه په امریکایي زندانو کې) نوی زنداني د تحقیق پر مهال له یوې الیکترونیکي (برقي) آلې څخه ډاروي ،بندي ته وایي چې تا په یوه ماشین معاینه کوو ترڅو هغه ماشین ستا دروغ او رښتیا معلوم کړي ،له څو ورځې تحقیق وروسته بندي یوې داسې ځانګړې کوټې ته ورولي چې هلته کمپیوترونه او نورې برقي آلې پرتې وي ،بندي په یوې ځانګړي چوکۍ کښینوي ،دزړه دګراف اخیستلو ماشین ته ورته دیوې آلې تارونه دبندي دبدن په ځینو برخو ،لاسونو ،ځیګر او سربانډي مښلوي ،وروسته بندي زیات ډاروي ،ورته وایي (حرکت به نه کوي،جواب به ژر راکوي او یوخوا بل خوا به نه ګوري) ،وروسته څو غیرمترقبه پوښتنې کوي او ددې پوښتنو په منځ کې یوه دوې داسې پوښتنې کوي چې ددوی مطلب وي ، ددوې موخه له دې کاره داوي چې دمطلبي او خطرناکو پوښتنو په اوریدو کیدای شي دبندي کیفیت بدل شي ،زړه یې ټکان پیدا کړي ،لاسونه او سر یې خوله وکړي او دوی دا معلوم کړي چې بندي اصلي حقیقت پټوي، ددې برقي آلې په مټ یوازې دبندي د کیفیت بدلیدل معلومیږي نور هیڅ معلومات نه کیږي. نوی بندي باید متوجه وي که له دې ماشین

سره مخ کیږي ډېر عادي او په نورمال حالت کې باید واوسي او هیڅ ترتاثیر لاندې رانشي.

۲۵ـ زنداني باید د تحقیق ورکولو پر مهال خپل احساسات قابو کړي او جذباتي نشي، ډېر وخت دښمن هڅه کوي چې د بندي له احساساتو ګټه پورته کړي، کله چې د تحقیق پرمهال کوم بندی ډېرې خبرې او تفصیلي بیان نه کوي، دښمن ورته سپکې او توهین امیزه خبرې کوي ترڅو له دې لارې زنداني احساساتي کړي او په خبرو یې راولي په دې صورت کې باید له زغم نه کار واخیستل شي اوله زیاتو خبروڅان وساتل شي، دغه راز له بندیانو سره په عمومي وضعیت کې هم دښمن کله ناکله کوښښ کوي چې بندیان وپاروي چې په احتجاج او پاڅون لاس پورې کړي، ترڅو دښمن ته د بندیانو دوژلو، زخمي کولو او سختو جزاوو ورکولو بهانه جوړه شي، بندیان باید په دې برخه کې ډېر پام وکړي، احتجاج باید یوازې دلوړو دیني اوبشري ارزښتونو لپاره وکړي، یوازې دډوډۍ، سمولو او وړو غوښتنو لپاره احتجاج ونه کړي، ځکه دښمن په داسې مواردو کې له موقع ګټه پورته کوي، او له بندیانو څخه انتقام اخلي.

۲۶ - دښمن د تحقیق په وخت کې زیات کوشش دا هم کوي چه د یو انسان د طبیعت خوښ او ناخوښ شیان او په ژوندانه کې ئې د مزاج انتخاب معلوم کړي ترڅو دښمن وکولای شي چه معلومه

کړي چه دا کس په ژوند کي له څه شی سره مینه لري؛ مثلا کله کله د دښمن محقق بندي ته بیلابیل کلتوري ،اقتصادي ،تاریخي ،حربي ،افسانوي او نور اجتماعي شیان او انځورونه په ګوته کوي او ورته وایي چې په دې کې دې کوم خوښ دي ، په دې سره دښمن کوښښ کوي د هر بندي ذوق او مزاج معلوم کړي ، او بیا که ممکنه وي له دې لارې یې د تېرایستلو او استخدامولو کوښښ وکړي ښه خبره دا ده چې د دې مرحلې په وخت باید بندي ډیر دقیق واوسي ځان یو عادي او نورمال کس معرفي کړي ، زموږ په اسلامي او افغاني کولتورکې چې کوم شیان خوښ او ښه بلل شوي له هغو سره دلچسپي وښیي تر څو دښمن داسې تأثر وانه خلي چې بندي په دنیايي عیشونو باندې بې لارې کیدلای شي ، او یا د غیرمتدین طبیعت خاوند دی.

۲۷ - د زندان په مهال که بندي له تیلیفون څخه استفاده کوي ، یا دا نټرنیټ له لارې له خپلو قریبانو سره ملاقات کوي ، په خبرو کې باید ډیر پام وکړي ، او داسې خبرې ونه کړي چې دده په ضد د شواهدو کار ترې اخیستل کیدای شي ، دغه راز له خپلوانو سره د ملاقات په ځای کې هم باید په خبرو کې احتیاط وکړي ، او یوازې د روغ رنځور په پوښتنه او شخصي احوال اخیستلو باندې اکتفاء وکړي ، ځکه دا له امکانه لرې نه ده چې دشمن دې

په دې ځایونو کې مخفي غږ ثبتوونکې آلې نصب کړې وي ، ترڅو د بندیانو له خبرو د دوی په ضد د شواهدو په توګه کار واخلي، داسي احتیاط د بندیخانو په ځینو خاصو اطاقونو کې له خپلو ملګرو سره په خبرو کې هم په کار دی.

۲۸ - کله چې دښمن تصمیم نیسي چې کوم بندي ازاد کړي ، نو په دې وخت کې نهایي کوښښ کوي چې بندي په خپله ګټه استخدام کړي ، دوی له بندیانو څخه لومړی غوښتنه کوي ، چې له خلاصیدو وروسته له دوی سره د جاسوس ، اربکی ،عسکر او یا کوم بل کارمند په توګه کار وکړي ، که بندي د دوی دا غوښتنه رد کړي بیا دوی غوښتنه کوي چې لږ ترلږه دې بندي د دوی دواک په ساحه کې واوسي ، مثلا په کابل یا کوم بل مرکزي ښار کې دې ژوند غوره کړي ، امریکایان په دې توګه غواړي چې بندي د دوهم ځل لپاره له جهادي ساحاتو لرې وساتي ، ترڅو بیا جهاد ته مخه نه کړي ، څوک چې په برحق جهاد عقیده لري هغوی باید د دښمن دې چال ته متوجه واوسي ، او هیڅکله باید له زندان څخه د ازادېدو په مهال د دښمن دا ډول مشورې و نه مني.

۲۹ - بندي باید د خپل خلاصون لپاره یوازې امید الله تعالی جل جلاله ته وکړې نورې لارې چارې ټولې یوازې احتمالي وسیلې وبولي ، په زړه کې دا الله تعالی لخوا په نصرت او مرسته کلک

باور ولري او د خپل خلاصون لپاره يوازې د الله مرستې ته انتظار وباسي ، په داسې حال کې بيانو د الله تعالى مرسته ډيرزر کيدونکې ده؛ البته که بيا هم په زندان کې سړى هرڅومره ځنډيده هغه دده په خيرځکه ده چې ممکن په را خلاصيدو کې يې کوم لوى زيان وي چې دى نه پرې پوهيږي.

۳۰ -- بندي بايد ډير پام وکړي چې د زندان څخه د خلاصون د وعدو په بدل کې خپل نور ملګري چې بهر په جهاد بوخت دي په هيڅ ډول د ښمن ته ونه ښيي ، که د نورو دنيولو او ځای ښودولو په بدل کې د ښمن په ريښتيا هم دى له زندانه خلاصوي بيا هم دى بايد تيار نشي چې خپل آزاد ملګري پرې ونيسي ، ځکه دى خو هسې هم نيول شوى که دى نور ملګري، مسلمانان او مجاهدين پرې ونيسي نو د ده او بل ملګري په نيول ;کيدو سره يوډول زيان جهادي صف ته رسيږي ، او بل ممکن هغه ملګري چې دى يې ورته ښيي دد ښمن لخوا ترنيولو مخکې شهيدان کړل شي او ياګڼ ملګري ونيول شي چې دا ټول ترده ډير لوړ او لوى دي چې دى خلاصيږي.

۳۱-- که چيرې دا خبره د ښمن ته ثابته شي چې ته مجاهد يې او له تاسره هم داسې شواهد ونيول شي چې انکارکول ترې ممکن نه وي ، په داسې حال کې بايد ته په زندان کې هم ځان ديوه کلک مجاهد په صفت څرګند کړې او پخپلو خبرو ، حرکاتو او کړو

وړو کې ځان خورا پیاوړې ، زړور ، هوښیار ، ځیرک ، باحوصله ، متین او د لوړهدف لرونکی معرفی کړې ، ترڅو د ښمن ستا د تول غور ځنګ په اړه همدا سې فکر وکړي او دا سې کړنه په د ښمن لوی رواني تأثیر لري چې ستا د تول جهادي بهیر په اړه به په خپلو لویو تنګ لاروکې بدلون راو ستلو ته اړ کیږي، او یا به لا اقل د یو ریښتوني مسلمان تصویر دوی ته ورکړل شي، چې دا بیا ستا لپاره په زندان کې لویه لاسته راوړنه او پیاوړی جهاد دی.

۳۲— چې مجاهد ازادوي اولانیول شوي نه وي او هم ترنیول کیدو وروسته له مشکلاتو ، تعذیب یا تحقیق سره له مخ کیدو وړاندې باید په الله تعالی پناه وغواړي او ماثور اذکار له یاده ونه باسي ، په دا سې مراحلو کې لاندې دعاګانې ډیرو کتابونو رانقل کړي او هم مجربې دي.

بسم الله الذي لا یضر مع اسمه شیئ فی الارض ولا فی السماء وهو السمیع العلیم.

اعوذ بکلمات الله التامات من شر ما خلق.

اللهم انا نجعلک في نحورهم ونعوذبک من شرورهم.

وجعلنا من بین ایدیهم سدا ومن خلفهم سدا فاغشیناهم فهم لا یبصرون.

حسبنا الله ونعم الوکیل. نعم المولی ونعم النصیر

.

دحنفي فقهې په متعمد او مشهور کتاب مبسوط کې دا غلې يوه روايت له مخې ، درسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه کې مشرکينو دمسلمانانو له جملې يو تن بندي کړ ، دهغه بندي شوي مسلمان خپلوان رسوال الله صلی الله عليه وسلم ته راغلل ، او دبندي دسخت حالت په اړه يې شکايت ورته وکړ ، رسول الله صلی الله عليه وسلم ددې بندي مسلمان خپلوانو او قريبانو ته سپارښتنه وکړه ، چې د

(لاحول ولاقوة الا بالله العلی العظيم)

ذکر ډير کوئ ، دهغه بندي خپلوانو چې داذکر شروع کړ ، نو ډير لږ وخت وروسته هغه بندي مسلمان دکفارو له لاسو را خلاص شو او خپل اهل ته راستون شو (المبسوط صـ ۸۳ جـ۱۰)

په ټوله کې دزندان په مرحله کې دقرانکريم تلاوت ، اذکار او له الله تعالی نه مرسته غوښتل او يوازې دالله تعالی په نصرت باور درلودل ، له زندان څخه دنجات ميندلو په چاره کې ډير مرستندوی واقع کيږي.

# څلورم فصل

## د ژوند تګلاره

### د ژوند تیرولو د تګلارې اساسات

۱ - معرفت
۲ - علم
۳ - محاسبه
۴ - تقوا
۵ - صبر
۶ - یقین
۷ - توکل
۸ - مسؤلیت پیژندل
۹ - صدقه
۱۰ - صله رحمي
۱۱ - د راتلونکې لپاره پلان ګذاري
۱۲ - نصیحت او خیرخواهي
۱۳ - مرګ یاد ساتل .

## معرفت

په هر انسان دا لازمه ده چې هم خپل ځان او هم الله تعالی وپیژني، چې زه مخلوق یم او الله تعالی پیدا کړی یم ، الله تعالی زما خالق دی، دالله تعالی معرفت د سعادت او نیکبختۍ لپاره اساسي شرط دی،ځکه د الله تعالی پیژندل د ایمان اساسي جزء دی ، دالله تعالی د صفاتو او عظمت په پیژندلو سره انسان په ښه طریقه د الله تعالی اوامر او نواهي مني او ژوند دالهي شریعت په رڼا کې تیروي.

زموږ په ټولنه کې ډیرو خلکو ته اسلام په میراثي شکل رسیدلی دی،یعنی خلک په مسلمانه کورنۍ کې پیدا شوي دي،بس له اولې ورځې ځان مسلمان بولي،د مرګ تروخته پرته له دې چې دمسلمانۍ په معنی ځان پوه کړي ، خپل خالق او مالک الله تعالی په سمه طریقه وپیژني همداسې دغفلت ژوند کوي،خو داسې باید نه وي؛ بلکې مسلمان باید ویښ مسلمان وي، داسلام په معنی ځان پوه کړي،د الله تعالی معرفت په سمه توګه حاصل کړي او د یوه انسان او مکلف شخص په حیث خپل ځان هم وپیژني.

## علم

علم د انسان لپاره د روښنایي مثال لري چې په برکت یې سړی خیر او شر ، نفع او ضرر دغه راز حق او باطل سره بیلولی شي، لکه څنګه چې په ټولو مبتلا به شیانو باندې شرعي علم د الله تعالی له

لورې فرض دی، له همدې څخه اهمیت معلومیږي، باید د ټولو هغو کارونو په اړه هغه که دیني کارونه وي یا دنیوي چې انسان په کې بوخت وي باید روا او ناروا علم یې سړی حاصل کړي ، ترڅو خدای نخواسته په ګناه کې واقع نه شي.

که مجاهد جهاد کوي باید د جهاد متعلق احکام او د قتال، غنیمت،اسیرانو او دغسې نورو احکامو په اړه علم ورته حاصل وي،که تجار تجارت کوي باید دتجارت روا او ناروا حالت ورته معلوم وي او په پټو سترګو په هیڅ شي کې واقع نه شي،نوځکه علم ته باید د یوه اشد ضرورت په حیث وکتل شي.

حضرت علي کرم الله وجهه فرمایي: د انسان ارزښت په حقیقت کې د هغه له علم او ادب ،خوی او اخلاقو څخه په ډاګه کیږي، نه دهغه له صورت او اندامو څخه .

## محاسبه

په قیامت کې به الله تعالی له هر انسان سره د ټولو اعمالو محاسبه کوي،نو ددې لپاره چې هغې لویې محاسبې ته مو ځان تیار کړی وي،باید په ژوند همیشه له ځان سره محاسبه وکړو ،په ورځني، میاشتني یا کلنی شکل خپلو اعمالو ته حساب وکړو چې آیا ښه کارونه مو ډیر دي که بد .

محاسبه په انسان کې د قیامت سوچ پیدا کوي، او په ګناهونو استغفار او توبې ته یې هڅوي، د انسان خپلو عیبو ته پام کیږي او بیا کوښښ کوي چې د بدو اعمالو له تکرار څخه ځان وساتي.

## تقوا

تقوی د ژوند لپاره یو مهم او اساسي اصل دی، ځکه د الله تعالی په نزد د انسانانو د لوړوالي او ټیټوالي معیار تقوا ده ، الله تعالی فرمایلي دي: ان اکرمکم عند الله اتقاکم. سورة الحجرات ۱۳. ترجمه: بې شکه د الله تعالی په نزد ستاسو تر ټولو عزتمن هغه دی چې په تاسو کې ډیر تقوا دار وي.

تقوا یو لوی اصل دی، تقوا د ژوند هرې برخې ته شامل دی، څرنګه چې تقوا له الله تعالی څخه ویرې او پرهیزګاري یا له ناروا ځان ساتنې ته وایي نو باید په ټول ژوند ، که شخصي ژوند دی، کورني تعلقات دي یا اجتماعي تعلقات دي په ټولو کې باید سړی د الله تعالی څخه ویره او له حرامو ځان ساتنه په نظر کې ولري.

د نورو ټولو اعمالو او عباداتو غوندې په جهاد کې هم تقوا یو اساسي شرط دی، چې باید مجاهدین ورته توجه وکړي ، تقوا ډیرې زیاتې اخروي او دنیوي فایدې لري، ما یې په زندان کې فایدې ولیدلې هغه دا چې کوم جهادي کارونه چې ما له ډیري تقوا سره کړي وو ، که څه هم د افشا کیدو امکان به یې ډیر و خو الله تعالی

هغه مستور وساتل او د هغو عملیاتو له امله زه هیڅ په تکلیف نه شوم،نو تقوا ته باید سړی ډیر متوجه واوسي ،لومړی د هغې په مفهوم او معنی ځان پوه کړي او بیا په هرڅه کې له پرهیزګاري څخه کار واخلي.

## صبر

د الله تعالی په لاره کې سختیو تیرولو او مشقت ته جهاد ویل کیږي او صبر چې د جهاد یو مهم اصل دی،د الله تعالی په بندګۍ کې د سختیو او امتحاناتو زغمل او له بدو څخه ځان کنترولولو ته وایي.

که څوک د صبر په مفهوم پوه وي، د صبر فضیلت ورته معلومیږي او دا ورته معلومه وي چې صابرین د الله تعالی په نزد څومره لوړه مرتبه لري د هغوی لپاره د ژوند ټولې سختۍ خصوصا د جهاد په لاره کې زخمي، کیدل،معیوبیدل، بندي کیدل او نور مشقات اسانه وي.

نو مؤمن باید صابر وي،او د الله تعالی په لاره کې په ټولو مصائبو او امتحاناتو باندې صبر وکړي، موږ او تاسو ته په قرانکریم کې معلومه ده چې الله تعالی بیا بیا فرمایي: و بشرالصابرین. او زیری ورکړئ صبر کوونکو ته.

له دې څخه معلومیږي چې صبر یو لوی اصل دی چې باید عموما مؤمنان او په خاص ډول د حق دلارې مبارزین ترېنه ډیره استفاده کړي.

هوښیاران وایي:

له مصیبتونو او سختیو سره عادي کیدل د صحرا له اوښ نه زده کړه چې په ډبرو او اغزیو باندې په ډیر شوق چو کیږي.

تجربه وایي چې دهرچا خبرې ته ځواب مه وایه ، ځکه صبر او حلم عزت دی، چوپتیا ددښمنانو په سر د قهر څپیړه ده، عفوه او تیریدنه ثواب او شرافت دی.

**لاندې شپږ شیان مصیبتونه سپکوي :**

- د الله تعالی څخه اجر او ثواب غوښتنه
- د نورو غم ځپلو لیدل او د حالاتو لحاظول یي
- خپل مصیبت تردې له ستر مصیبت سره پرتله کول او داسې فکر کول چې شکر دی چې تردې په لوی غم گرفتار نه یم
- داسې فکر کول چې مصیبت ددین په خاطر راته رسیدلی دی او دین په هره قربانۍ ارزي
- داسې فکر کول چې دا راته مقدر او د تقدیر له پیښې تیښته نشته

ـ هرڅه د الله تعالی په اختیار کې دي، چې الله تعالی راته خوښه کړې زه باید ورباندې خوښ او راضي واوسم ؛ ځکه رضا بالقضاء د ایمان برخه ده.
د نیکمرغۍ عناصر درې دي.
شاکر زړه
صابر جسم
ذاکره ژبه (له لاتحزن کتاب څخه په اقتباس )

نو له پورته خبرو معلومه شوه چې صبر خورا مهم دی ، مؤمن باید صابر وي؛ الله تعالی دې موږ او بل هرمؤمن او مجاهد ته کامل او پوره صبر ورنصیب کړي. آمین

## يقين

په الله تعالی باندې ټینګ یقین لرل چې تصدیق هم ورته وایي د ایمان رکن دی ،په همدې اساس لکه څوک چې د الله تعالی په وجود او خدایي باندې یقین او باور لري، باید په دې هم یقین ولري چې مقدرات د الله تعالی په لاس کې دي، هرڅه چې الله تعالی مقدر کړي هماغه به کیږي، کامیابي یوازې د الله تعالی د اوامرو په منلو او له منهیاتو نه په ځان ساتلو کې ده، کوم څه چې د الله تعالی له دین سره په ټکر کې وي، که ټوله دنیایي په ښه والي اتفاق وکړي هم ښه نه شي بلل کیدلی.

د الله تعالی په نصرت او مرسته باندې ټینګ یقین درلودل د مؤمن حوصله ډیره لوړه ساتي، بیا که په ډیر سخت او کمزوري حالت کې هم وي مورال او حوصله به یې لوړه وي، ځکه د الله تعالی په نصرت او کومک به یې ټینګ باور وي چې الله تعالی مې یوازې نه پرېږدي ضرور به د خلاصون او کامیابۍ یوه لاره راته پیدا کړي ، په الله تعالی ټینګ یقین لرل په زندان کې د بندي لپاره د اطمینان لوی سبب ګرځیدلی شي.

## توکل

توکل دې ته وایي چې سړی خپل کارونه د ظاهري اسبابو له برابرولو او خپل بشري وس نه وروسته الله تعالی ته وسپاري او دا یوازې په خوله نه چې ووایي توکل په خدای.. بلکې قلبا یې په ډیر عجز او انکسار سره الله تعالی ته تحویل کړي چې اې الله تعالی زه کمزوری یم او د هیڅ کار وس نلرم، یوازې د غه بشري کمزوری کوشش کوم نور مې کارونه ته برابر کړې او ته ورباندې ښه نتیجه مرتبه کړې.

توکل هم ډیر برکات لري، ځکه انسان ډیر عاجزه دی او موږ په دې باور لرو چې په هرڅه باندې نتیجه الله تعالی مرتبوي او برکت په کې پیدا کوي، نو که انسان خپل عجز ښکاره کړي او الله تعالی ته

زارۍ وکړي دا الله تعالی رحمت په جوش راځي او هغه مؤمن چې الله تعالی ته یې رجوع کړې ده بې مرستې نه پرېږدي.

## مسؤلیت پیژندل

انسان یو مسؤل او مکلف مخلوق دی، چې الله تعالی په ډیرو شیانو مکلف کړی دی، نو هرڅوک باید ځان غیر مسؤل و نه بولي؛ بلکې ټول دیني او دنیوي مسؤلیتونه لومړی و پیژني او بیا یې په سمه توګه ترسره کړي.

مسؤلیتونه په دری قسمه دي. فردي مسؤلیت، د کورنۍ اړوند مسؤلیت او اجتماعي مسؤلیت.

د انسان فردي یا شخصي مسؤلیت دا دی چې د خپل سیرت او صورت اصلاح او ساتنې ته توجه وکړي، خپله عقیده او عمل د الله تعالی په لاره برابر کړي، خپل ظاهر او باطن اصلاح کړي، خپل بدن، عقل او حواس چې الله تعالی انسان ته ورکړي دا یو امانت دی او دا امانت باید په سمه لار کې مصرف کړي، له ګناهونو او ټولو هغو کارونو چې په دنیا او اخرت کې انسان له ذلت سره مخ کوي باید ځان وساتي او یوازې د الله تعالی په لاره کې خپل ځان مصرف کړي.

د یو مکلف شخص کورنی مسؤلیت دا دی چې خپل اهل و عیال، ورونه، اولادونه او ټول د کورنۍ نارینه او ښځینه اعضاء باید سمې لارې ته هدایت کړي، د هغوی د دنیا او اخرت د نیکمرغه کولو

لپاره هڅه وکړي، ځکه کورنۍ هم په انسان باندې حق لري ، لکه الله تعالی چې فرمايي: يا أيها الذين آمنوا **قوا أنفسكم وأهليكم نارا.... الاية سورة التحريم ۶ ترجمه** :اې مؤمنانو تاسو خپل ځانونه او خپل اهل وعيال د جهنم له اوره وساتئ.

دلته چې الله تعالی د مؤمن د ځان له ذکرکولو وروسته اهل او عيال ذکر کوي نو معلوميږي چې د خپل ځان له اصلاح وروسته د کورنۍ او اهل او، اولاد په اړه هم هرڅوک مسؤليت لري چې بايد د هدايت او نيکمرغۍ لپاره يې کوښښ وکړي.

د کورنۍ د اصلاح لپاره بايد هرڅوک په کور کې د علم او تقوا د خپرولو کوښښ وکړي، له حرامو څخه ځان او خپل قريبان وساتي ، ځکه حرام او مردار رزق د ټولو بدبختيو منبع ده چې بايد هرڅوک ځان ترې وساتي.

د مکلف مؤمن دريم ډول مسؤليت اجتماعي مسؤليت دی، په هر مسلمان لازمه ده چې بايد د مسلمانانو داجتماعي خيرخواهي او هدايت لپاره تلاش وکړي، مؤمن ته جائزه نه ده چې يوازې د خپل ځان او کورنۍ غم وخوري او نور د اسلام او کفر له مقابلې څخه ځان ناخبره او بې پروا واچوي او د مسلمانانو اجتماعي ستونزې هيرې کړي ؛ بلکې هر مسلمان بايد د نورو عامو مسلمانانو په مشکلاتو

کې فکر وکړي د اسلام په درد باید دردمن شي او د مسلمانانو د عامو لويو ستونزو د له منځه وړلو لپاره لاس په کار شي.

په دې برخه کې اوس يو لوی اجتماعي ديني مسؤليت چې مسلمانانو ته راجع دی هغه د هغو کافرانو په مقابل کې جهاد دی چې د مسلمانانو وطنونه يې اشغال کړي دي او غواړي چې زموږ عقيده او فکر را تحريف کړي او راتلونکي نسلونه مو گمراه کړي.

جهاد او د اسلامي نظام رامنځته کولو ته باید هر مسلمان د يوه لوی مسؤليت په نظر وگوري ، ځيني خلک جهاد يوازې په دې فکر کوي، چې بس هسې زر دې شهيد شي او د دنيا له غمو دې بيغمه شي، ځيني بيا دا فکر کوي چې جهاد رابانديې فرض دی نو ځکه يې کوم او کله چې جهاد ختم شي نو بيا به گوښه توب اختيار وم.

خو دوی باید پوه شي چې جهاد په خپله هدف نه دی ؛ بلکې وسيله ده، اصل کې د مسلمانانو ستر هدف د الله تعالی د کليمې لوړ والی او د يو صالح اسلامي نظام جوړول دي ترڅو مسلمانانو ته خدمت وکړي او مسلمان باید دهمدې لپاره مبارزه وکړي، د مجاهد هدف باید د اسلام خدمت ، د مسلمانانو سرلوړي او د قرآن حاکميت وي په دې لاره کې که مرگ ورته راځي نو مرگ يې د شهادت دی ، د مجاهد غرض له جهاد څخه باید يوازې د ځان قرباني کول نه وي،

ځکه ځان قرباني کول په خپله هدف نه دی بلکې د هدف په لاره کې یوه مرحله ده.

نو د مسؤلیت پیژندل خورا مهم دی چې هر چا ته په هر وخت کې باید خپل مسؤلیت او مکلفیت معلوم وي چې کوم کار باید وکړم او زما مکلفیت څه دی.

## صدقه

مؤمن باید سخي او صدقه ورکوونکی وي،صدقه یوه قرآني توصیه ده او د پیغمبر علیه الصلوة والسلام له طریقو څخه یوه غوره طریقه ده، مجاهد لکه څنګه چې خپل بدن او ژوند د الله تعالی په لار کې صدقه کوي دغه راز باید کله ناکله د الله تعالی په لار کې مال هم صدقه کړي، ځکه په هره نوع صدقه کې باید سړی برخمن وي.

صدقه ډیر برکتونه لري، لکه څنګه چې په صدقه باندې مصیبتونه دفع کیږي او صدقه رد د بلا ده ،دغه راز د ملګرو ترمنځ په صدقه کې محبت زیاتیږي، کله د ملګرو ترمنځ یوه عادي میلمستیا یا صدقه وي خو اثر یې ډیر ښه وي نفرت په محبت بدل شي او د ملګرو ترمنځ اخلاص زیات شي ، نو له صدقې څخه باید غافل نه شو ،ځیني خلک صدقه یوازې دعوامو او مالداره خلکو کار بولي خو دا سمه نه ده ؛بلکې صدقه باید هر مؤمن یوه ضروري کار وبولي اګر که لږ هم وي خو له دې نیک عمل څخه باید بې برخې نه وي.

## صله رحمي

صله رحمي یو مهم شرعي عمل دی چې ټول مسلمانان ورباندې مکلف دي، متاسفانه زموږ په ټولنه کې ډیر خلک له دې شرعي مسؤلیت څخه غافل دي او یا په ډیر کم نظر ورته ګوري،زموږ خلک صله رحمي یا د خپلوانو او قریبانو پالل او د هغوی سره د خپلوي رشته ټینګه ساتل یو رواجي کار بولي، چې که څوک یې ورسره پالي نو دوی یې هم پالي او که څوک یې ورسره نه پالي نو دوی یې هم پریږدي چې دا یو غیرشرعي کار دی.

د خپلوانو، دوستانو او قریبانو پالل، د هغوی په خوښي او غم کې شرکت ، له هغوی سره مرسته کول،هغوی حقې لارې ته هدایت کول او د هغوی خیرخواهي که څه هم هغوی له تاسره بالمقابل چلند نه کوي، دا د مسلمان شرعي مسؤلیت دی چې باید ترسره یې کړي ، دا باید هر مسلمان یو شرعي کار وبولي نه دا چې د یوه دود او رواج په نظر ورته وګوري چې که ترسره شو ترسره او که نه کوم ضرور نه دی.

## د راتلونکې له پاره فکر او پلان ګذاري

د زندان یوه فایده دا راته وشوه چې د آینده ژوند لپاره ترتیب او پلان جوړولو ته یې زما پام کړ، هرڅوک باید د خپل ژوند لپاره یو پلان جوړ کړي او له هرډول خطراتو او امتحاناتو سره د مخامخیدو

اماده ګي بايد ولري ، د زندان له برکته زما دې ياداښتونو ته پام شو چې بايد د خپل ځان او نورو ملګرو د اصلاح لپاره يې وليکم.

زندان چې ښه د تفکر او په خپل ګريوان کې د کتلو ځای دی، ما چې په خپل راتلونکي ژوند کې ښه فکر وکړ او بيا مې د راتلونکي لپاره ترې د استفادې تدبر وکړ نو يو شو خبرې مې له ځان سره د اسې ياداښت کړې.

خپلې غلطۍ او کمياني هميشه په ياد ساتل او بيا بيا يې له ځان سره يادول تر څو په آينده کې تکرار نشي، او دوستانو ته د خپلو تجربو له مخې عبرتناکې او د پند کيسې وريادول تر څو د هغوی د پند سبب وګرځي.

د کتابونو مطالعې ته توجه کول او هر رنګه کتابونه بايد مطالعه کړم، تر څو مې معلومات او تجربه پراخه شي ، البته اسلامي کتابونه لکه احکام، عقائد ، تفاسير او احاديث بايد ډير مطالعه کړم ، دغه راز د پند او نصيحت يا د مصيبت ځپلو مجاهدينو آثار ، د اسلام لپاره د زحمت کوونکو مبارزينو کتابونه او کيسې بايد ډير وکتل شي تر څو د خپل ژوند د برابرولو او سمولو لپاره استفاده ترې وشي.

علمي بحثونه کول، د علماء کرامو سره هميشه کيناستل، او مشورې ورځخه غوښتل او په هر نوي کار کې ترې نظر غوښتل.

د هرې کیسې او واقعې په اړه رښتیا ویل د ځان عادت جوړول، واضحې ، روښانه او بې چمه خبرې او ښه رویه او اخلاق د ځان عادت ګرځول.

نرمي کول ، ځکه په نرمي کې ډیرې ګټې دي، د توندۍ او ځوانۍ زمانه تیره شوه او ما ته ترې ډیره تجربه حاصله شوه، نرمي چې ډیره مهمه ده کار ترې اخیستل ، د هر کار د کولو او نه کولو لپاره دلائل وړاندې کول او له نورو هم په سره سینه دلیل غوښتل.

## مکرر نصیحت او خیرخواهي

بیا بیا نصیحت ، د حق لارښودنه او د مسلمانانو همیشنۍ خیرخواهي د هر مسلمان مکلفیت دی ، الله تعالی فرمایلي دي: وذکر **فان الذکری تنفع المؤمنین.** الذاریات .۵۵ ترجمه :او تاسو نصیحت کوئ ځکه نصیحت مؤمنانو ته نفع رسوي.

ځیني خلک دا عادت لري چې یو چا ته یا په یوه مجلس کې یو ځل د حق خبره وکړي او ملګرو ته لارښوونه وکړي که هغوی ورباندې عمل ونه کړي یا ځوک اهمیت ورنه کړي نو بیا وایي ما خپل مسؤلیت ترسره کړ ، نور دوی پوه شه او کار یې.

خو دا سمه نه ده ، ځیني خلک په یوه وار نصیحت لارې ته راځي او ځیني بیا مکرر نصحیت او لارښوونې ته ضرورت لري، بله دا چې

کتابونه وايي. اذا تکرر تقرر. کله چې کومه خبره تکرار شي نو بيا په ذهن کې تقرر پيدا کوي، نو نصيحت ته بايد هميشه پام وشي.

## مرګ ياد ساتل

انسان بايد مرګ هميشه په ياد وساتي او دې ته يې پام وي چې يو وخت به مړ کيږم او د الله تعالى حضور ته به ورځم، ځيني خلک جهاد نه کوي ځکه دوی وايي په جهاد کې مرګ دی، دوی له مرګه ډاريږي او مرګ بد ګڼي.

ددې په ځای چې له مرګه وويريږي بايد مرګ ته امادګي ونيسي داسې اعمال وکړي چې له مرګ وروسته ورسره کومک وکړي، جهاد يو ستر ديني عمل دی، او مرګ تر جهاد پورې نه دی تړلی، له مرګ څخه د ډار په ځای بايد د مرګ لپاره د تياري په فکر کې شو ځکه مرګ په خپله نيټه راځي او هغه الله تعالى مقدره کړې ده.

# پنځم فصل

## د شهید ډاکټر عبدالواسع عزام ژوندلیک

لیکنه: قاري محمد یونس

الحمدلله معز الاسلام بنصره ومذل الشرک بقهره ومستدرج الکافرین بمکره والصلوة والسلام علی من اعلی الله منار الاسلام بسیفه وجعل العاقبة للمتقین بفضله.

اعوذ بالله من الشیطن الرجیم * بسم الله الرحمن الرحیم * ولا تحسبن الذین قتلوا فی سبیل الله امواتا بل احیاء عندربهم یرزقون.

هو کې: شهید الحاج ډاکټرعبد الواسع عزام رحمه الله شهید سو. شهید حاجي ډاکټر صاحب تقبله الله دابدي ژوند په لور یون پیل کړ، هغه به د شهادت د نېټې څخه دابد لپاره د هر راز ستونزو څخه بیغمه وي، نور به هغه ستوماني نه لري، نور به دښمن ونه توانیږي چې هغه دوحشتونو په زندان کې زنداني کړي، نور به شهید ډاکټر عبدالواسع عزام رحمه الله دخپلو زنداني ورونو او خویندو په کړیکو ونه ځوریږي؛ ځکه هغه اوس داسې دار ته ولاړ چې هلته نور ځورول نسته هلته غم نسته هلته د رښتینو مؤمنانو لپاره تل له

دنیاوي غمونه دردونه په بې پایانه رحمت ، جنتونو او خوښیو بدلېږي.

شهید حاجي ډاکټرصاحب د شهیدانو د سپیڅلی کاروان ملګری سو هغه اوس د نورانیت د قافلې لاروی سو ، امید مودی انشاءالله چي هغه به اوس دالهي خطاب دا شرف ترلاسه کړی وي چي: یا ایتها النفس المطمئنة ؛ارجعي الی ربک راضیة مرضیة ؛ فادخلي في عبادي وادخلي جنتي.

قهرمان شهید الحاج ډاکټر عبدالواسع عزام رحمه الله د اسلامي امارت یو له هغو پیاوړو قوماندانانو څخه وو چي له تنکۍ ځوانۍ څخه بیا تر شهادته پوري یې د اسلام له مقدس دین او مظلومو مسلمانانو څخه دفاع وکړه او په جهادي ژوند کي یې هر ډول ستړیاوو او تکالیفو ته سینه سپر کړه.

شهید حاجي ډاکټرصاحب په سپېڅلې جهادي روحیه، پوره اخلاص او مدبرانه مشرتوب د مجاهدینو د ښه نظم او نسق او نظامي تربیې په برخه کي پراخي هلي ځلي وکړې او په ډېرو سختو حالاتو کي یې په ټینګ عزم او پوره استقامت جهادي خدمتونه ترسره کړل.

**پېژندنه :**

اتل شهید ډاکټرعبدالواسع عزام له نن څخه ۴۹ کاله مخکې د۱۳۸۲ هجري قمري کال د جمادي الثاني د میاشتې په ۱۵ نېټه د کندهار ولایت د پنجوایي ولسوالۍ د سفېدروان د سیمې د حاجي عبدالباقي صاحب په دینداره کورنۍ کې وزېږید.

**زده کړه :**

شهید حاجي ډاکټر صاحب د خپل عمر په اووه کلنۍ کې دیني زده کړې په پنجوایي کې د خپل کلي په مسجد کې پیل کړې ، نو موړی لا تنکی ځوان وو چې د وحشي روسانو سرو لښکرو پر ګران هیواد یرغل وکړ او د نورو مظلومو افغانانو په شان د ډاکټر صاحب کورنۍ هم هجرت وکړ. ډاکټرصاحب په دارالهجره کې خپلو د یني زده کړو ته دوام ورکړ ، دغه مهال نوموړي دبلوچستان دپنجپای کمپ په مدرسه افضلیه کې تر څه مودې پورې دیني زده کړې ترسره کړې ؛مګر د نوموړي په زړه کې د جهادي ولولو غورځنګ او پاک احساس دې ته اړ کړ تر څو خپلې زده کړې همداسې نیمګړې پرېږدي او د نورو مجاهدینو ورونو سره یو ځای د سپېڅلي جهاد ګرمو سنګرونو ته ولاړ سي.

څرنګه چې هغه مهال په جهادي لیکو کې زیات شمېر مجاهدین زخمیان کېدل او د نورو اسبابو تر څنګ یوه داسې کس ته هم اړتیاوه چې د جګړې د ډګر زخمي مجاهدین معالجه او تداوي کړي نو

مجاهدینو د شهید حاجي ډاکټر صاحب د هغه ځانګړي استعداد او ذکاوت له مخې چې لوی الله جل جلاله دی پرې نازولی وو د غه خدمت ته انتخاب او طبي زده کړو ته وهڅاوه ، همدا وو چې حاجي ډاکټر صاحب د همغه مهال ضروروي طبي زده کړې بشپړې کړې او دیوه ابتدایي معالج ډاکټر په حیث یې د سنګرونو د زخمي مجاهدینو په خدمت پیل وکړ او دا دنده یې په پوره اخلاص او دیانت ترسره کړله.

## جهاد او مبارزه یې :

شهید ډاکټر عبدالواسع عزام لا نوی ځوان وو چې د سرو لښکرو سره یې د مقابلې ډګر ته ورودانګل او د کندهار په سنګحصار کې یې د مرحوم فیض الله اخندزاده صاحب په جبهه کې په جهاد پیل وکړ، دده جهادي تربیه او روزنه په داسې یوه جهادي جبهه کې وسوه چې د اسلامي امت نامتو غازیان او د سپېڅلي جهاد مشران یې غړي وو ؛ لکه د اسلامي امارت زعیم عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله ، الحاج ملابرادر اخند حفظه الله او یو شمېر نور مشران.

په جهادي صفوفو کې له څه مودې نظامي خدمتونو وروسته د جبهې د مشرتابه لخوا د جګړې په ډګر کې د زخمي مجاهدینو د علاج او تداوي لپاره د مجاهدینو د طبي زده کړو مرکز ته وروپېژندل سو ، نوموړی د طبي زده کړو له فراغته ورسته خپل جهادي سنګر ته ستون

سو او سمدلاسه یې په عملي توګه د زخمي مجاهدینو په خدمت پیل وکړ ، ددې تر څنګ یې په فارغ وخت کې د سیمې د عامو مسلمانانو سره هم په پراخه او نه ستړې کیدونکې ډول روغتیایي مرستې کولې او دغې سپېڅلې دندې ته یې تر هغو پورې دوام ورکړ تر څو د شر او فساد ، نا امنیو او ناوړه حالاتو څخه د مسلمان ملت د نجات او خلاصون په موخه د طالبانو اسلامي تحریک ظهور وکړ.

## د طالبانو د اسلامي تحریک سره یې یو ځای کېدل :

شهید حاجي ډاکټر صاحب په هماغه اوائلو کې د طالبانو له اسلامي تحریک سره ملګری سو او د طالبانو د اسلامي تحریک د عمومي نظامي قوماندان قهرمان شهید الحاج ملامحمد اخند په مشرۍ یې سپېڅلي جهاد ته ادامه ورکړه ، دغه مهال نوموړي یو سیار کلنیک جوړ کړی وو چې د جګړې د ټپیانو معالجه یې کوله، د هرات ولایت د فتح په درشل کې یې د زخمي طالبانو د تداوۍ او معالجې په برخه کې نه ستړې کېدونکې او مخلصانه خدمتونه ترسره کړل او بیا د همدې ولایت د روغتیا رئیس او وروسته د انحصاراتو د رئیس په توګه وټاکل سو.

د کابل ولایت له فتحې وروسته د افغانستان د سرې میاشتې د عمومي ریاست د معین په توګه وټاکل سو او په دغه مهمه اداره کې

يې د يو لړ مهمو اصلاحاتو او مثبتو بدلونونو په راوستلو سره خپل استعداد او قوي مديريت څرګند کړ.

د يادونې وړ ده چې د اسلامي امارت د واکمنۍ په مهال د بيلابيلو دندو په ترڅ کې ډاکټر صاحب ګڼو بهرنيو هيوادونو ته سفرونه کړي وو او د اولس لپاره د خدمت ټولو هڅو ته اماده و.

شهيد حاجي ډاکټر صاحب پر دغه دنده پر افغانستان د صليبي يرغلګرو تر بريده پورې پاتې وو او د يرغل په جريان کې يې د امريکايي وحشيانو په بمبارد کې د زخمي سوو مظلومو افغانانو سره په خورا مېړانه او سربښندنه عاجلي مرستې وکړې.

په بمبارد کې له زخمي سوو مجاهدينو او اولسي خلکو سره يې د خپلو سيارو کلينکونو په مټ داسې چټکې او مؤثري روغتيايي مرستې کولې چې تر هر زخمي پورې به يې طبي ډله رسوله او هلته به يې تداوي کاوه.

د يرغل په بهير کې يې بل لوی خدمت د هغو عربو مجاهدينو د کورنيو او ماشومانو ساتنه او بيا محفوظو ځايونو ته انتقال وو چې د کور سرپرستان يې يا شهيدان او يا د جګړې په ليکه کې بند پاتې وو.

## له امريکايي يرغل وروسته يې جهادي خدمات :

له امريکايي يرغل وروسته شهيد حاجي ډاکټر صاحب په مسلحانه جهاد پيل وکړ او لومړی يې د کندهار په مختلفو

ولسواليو کې په محاربوي عملیاتو او د مجاهدینو په اکمال کې برخه واخیسته چې پدې لړ کې یو ځل په ارغستان ولسوالي کې د لنډ مهال لپاره بندي هم سو.

د صلیبي یرغلګرو په مقابل کې په هیواد کې د جهادي عملیاتو په طوفاني لړ کې شهید حاجي ډاکټر صاحب هم په کابل ، کندهار ، هرات او بلخ ولایتونو کې یو شمېر لوي استشهادي عملیات پلان او ترسره کړل چې دغو ښارونو ته به ده پخپله فدایان او د فدایي عملیاتو لوازم رسول او تر خپل نظارت لاندي يې عملیات ترسره کول.

باید وویل سي چې شهید حاجي ډاکټرصاحب یو ځل د همداسي عملیاتو د پلان په درشل کې په مزارشریف کې ونیول سو چې ژر تر ژره د الله جل جلاله په نصرت را خوشي سو ؛مګر د یوه بل مهم پلان د عملي کولو په لړ کې دی کابل ته رسیدلی وو چې د صلیبي جاسوسانو له خوا کشف او ونیول سو او بیا د اوږدې مودې لپاره بندي کړای سو.

## شهید حاجي ډاکټر صاحب او زندانونه :

په کابل کې له نیول کېدو وروسته لومړی د کابل د خاد ریاست ته انتقال سو او تر پېژندني وروسته ریاست هفتدهته ولېږل سو ، په ریاست هفتدهکي د دغه ریاست د رئیس ګلالي لخوا دومره تعذیبونه او شکنجې ورکول سوې چې د دغه ریاست د مرستیال په

خبره تر او سه هیچا ته هم دومره وهل او شکنجې ندي ورکړل سوي ؛خو د الله جل جلاله په فضل ددومره فشارونو سره سره بیا هم هیڅ ډول اقرار او خبره دده له خولې نه ده وتلې.

سره لدې چې حاجي ډاکټر صاحب هیڅ ډول اقرار ونکړ ؛مګر غلامو قاضیانو بیا هم په لومړۍ او دوهمه محکمه کې په لس لس کاله بند محکوم کړ او په ریاست هفتده کې له اتو میاشتو تېرولو ورسته د پل چرخي مرکزي زندان څلورم بلاک ته انتقال کړل سو.

د پلچرخي په څلورم بلاک کې د اسیرو مجاهدینو مشري ورترغاړې سوه او دغه بلاک یې د خپلو تکړه ملګرو په ملګرتیا په مدرسه بدل کړ او بندیانو ته یې نه هېرېدونکې خدمتونه ترسره کړل.

په پلچرخي زندان کې د شهید حاجي ډاکټر صاحب د فعالیتونو او نفوذ له ویرې د زندان چارواکو دی څو ځلي نورو زندانونو ته هم انتقال کړ چې پدې لړ کې یې د کندهار محبس ، د پلچرخي نظامي یا ګوانتنامو بلاک او بیا بګرام زندان ته یووړی.

**له زندانه خلاصون او وروستني جهادي خدمتونه :**

شهید حاجي ډاکټر صاحب په زندانونو کې مجموعاً پنځه کاله او اته میاشتې تیرې کړې او د اسلامي امارت د مشرتابه په خاصه توجه له زندان څخه راخلاص سو ، له زندانه تر خلاصېدو وروسته سمدستي د اسلامي امارت د مشرتابه له لوري د کندهار ولایت د

ولايتي کمېسيون مسئول وټاکل سو او په دغه اداره کې يې ډېر اصلاحات او خدمات ترسره کړل چې د اسلامي امارت د مسئولينو له لوري تقدير سول ، د ولايتي کميسيون تر رياست وروسته د مشرتابه لخوا د کندهار ولايت د عمومي مسئول په توګه وټاکل سو او دلته يې هم ولايتي اداره منظمه او نور ډېر خدمتونه ترسره کړل.

د کندهار د والي په حيث له ټاکل کيدو وروسته نوموړي د مجاهدينو لپاره معسکر جوړ کړ چې دری ځله له ۶۰ تر ۸۰ پورې په حربي فن سمبال مجاهدين ترې فارغ شول ، دغه راز يې په ولايتي اداره کې نور هم مثبت نوښتونه رامنځته کړل، د ملکي او نظامي ادارو جلاجلا مياشتني مجالس او بيا په دوو مياشتو کې مشترک مجلسونه يې پيل کړل ، دکندهار د ټولو ادارو لپاره عمومي طرز العمل ، دولايتي کميسيون لپاره طرزالعمل دغه راز د معسکر لپاره طرز العمل يې ترتيب کړل او هره مياشت يې د ټولو ادارو راپور ورکول د يوه مکلفيت په حيث عملي کړ، دغه راز يې دولايتي دندې په مهال دعمومي هيئتونو څخه پرته دولايتي ادارې لخوا دکندهار مختلفو سيمو ته هيئتونه ليږل ترڅو جهادي چارې له نږدې وويني ، دولس شکايتونه واوري او د مجاهدينو مشکلات رفعه کړي.

## شهادت يې :

د ۱۳۹۳ لمریز کال د جهادي عملیاتو له پیل مخکې د کندهار ولایت د مجاهدینو د جهادي تعلیماتو پنځه ورځنی مجلس له پای ته رسېدو سره سم شهید ډاکټر صاحب سمدستي د جهادي عملیاتو په منظمولو پیل وکړ، دغه مهال سره له دې چې نوموړی په کندهار کې د لومړني مشر مجاهد په حیث د دښمن لخوا تر سخت تعقیب لاندې وو ، دښمن یې حتی عکسونه ځوړند کړي وو او له خلکو یې غوښتنه کوله چې د انعام په مقابل کې د ده په اړه معلومات ورکړي ؛ خو بیا هم شهید ډاکټر صاحب د دښمن د داسې تعقیب او هڅو پروا نه کوله. نوموړي په پوره زړورتیا د کندهار بیلا بیلو ولسوالیو ته سفرونه وکړل او تر هغه وخته په جهادي سنګرونو کې پاته شو تر څو یې د شهادت غمجنه پېښه رامنځته شوه.

حاجي ډاکټر صاحب چې د جهادي دندې په مهال د یوه کرایي ډاټسن موټر د موټروان په ملګرتیا د هلمند ولایت د ګرمسېر ولسوالۍ د صفار له سیمي څخه تېرېدو د همدې سیمي پولیسو لخوا د درېدلو امر ورته وسو ، څرنګه چې حاجي ډاکټر صاحب له ځان سره خپل کیوبایي توپک هم درلود دا یې هیڅکله ضمیر نه قبلوله چې له وسلې سره دې ژوندی ونیول سي ، سمدستي یې موټروان ته امر وکړ چې موټر مه ورته دروه چې پدې سره پولیسو په خپل رینجر موټر کې دوي تعقیب کړل او رینجر یې د دوي د موټر سره پر بغل کړ، کله چې د پولیسو رینجر د دوي د موټر برابرۍ ته

راورسېد پولیسو په خپلو توپکانو حاجي ډاکټر صاحب تهدید کړ او ورته ویې ویل چې موټر ودروئ ! حاجي ډاکټر صاحب ددوي د خبرو په جواب کي پر دوي د خپل کیوبایي توپک خوله راواړوله او په سیټ کي سپاره پولیس یې وویشتل مګر د رېنجر په باډۍ کي دوه پولیس پاته سوه ، هغوي پر دوی ډزې شروع کړل ، ددوي په ډزو کي حاجي ډاکټر صاحب په پښه ، لاس او نس کي زخمي سو او موټر هم له کاره ولوېد ،خو دښمن یې هم له پښو وغورځاوه چي دوی یې نور تعقیب نکړای شوای، له څه تګ وروسته موټر ودرېد ، موټروان او حاجي ډاکټر صاحب په پښو یو څه تګ وکړ ، وروسته حاجي ډاکټر صاحب له تګه ولوېد او موټروان ته یې وویل چي ته ولاړ سه زه نور نسم تللای ،دغه مهال چې موټروان د بل موټر د پیدا کولو او د ډاکټر صاحب د انتقال په هڅه روان شو د موټروان له تګ وروسته حاجي ډاکټرصاحب د سختو ټپونو له امله شهید سو او خپل وروستي ارمان ته ورسېد . انالله وانا الیه راجعون.

د شهید حاجي ډاکټر صاحب تقبله الله له شهادته وروسته د پنجوایي ولسوالۍ د سفیدروان سیمي خلکو دده جسد را انتقال او په خپله پلرنۍ هدیره کي یې په ډېر عزت او درناوي سره خاورو ته وسپاره ، روح دي یې ښاد وي.

عجیب اتفاق: دالله جل جلاله شان دی چي د شهید حاجي ډاکټر صاحب مرحوم د زېږېدني، واده کولو او شهادت ورځي سره

یو دي ، حاجي ډاکټرصاحب د جمادی الثاني پر ۱۵ زېږېدلی او پر همدې تاریخ د شهادت لوړ مقام ته ورسېد ، تقبله الله

باید ووایو چې شهادت د ډاکټر صاحب ډېر پخوانی ارمان و ، شیخ مولوي حبیب الله صاحب وایي چې ډاکټر صاحب یو وخت په داسې حال کې چې یوازې زه او دی په اطاق کې ناست وو راته وویل چې شهادت مې ډېر لوی ارمان دی باور وکړه لکه خلک چې د واده شپې ته څومره خوشالېږي زه تر هغه زیات شهادت ته هوسېږم.

## د ملګرو یو څو خاطرې :

د شهید حاجي ډاکټر صاحب تقبله الله جهادي ژوند د خاطرو یوه مجموعه ده چي له هر ملګري سره یې په زړه کي خوږې خاطرې نقش دي ، د ټولو خاطرو ذکر کول یوه لوي کتاب ته ضرورت لري مګر د لته یې د ځینو ملګرو بعضي خاطرې د نمونې په ډول وړاندي کوو :

د شهید حاجي ډاکټر صاحب خاص ملګری الحاج حافظ بسم الله صاحب چي په زندان کي یې هم په کلونو ملګرتیا ورسره کړې د زندان څو خاطرې داسي راته وایي :

مدرسه : د شهید حاجي ډاکټر صاحب له خوږو خاطرو څخه زما دا یوه خاطره ډېره په زړه کي ده چي کله دی د پلچرخی زندان څلورم بلاک ته راوستل سو په دغه بلاک کي یې بندیانو ته د نورو خدمتونو تر څنګ یوه منظمه مدرسه هم جوړه کړه او د زندان دغه

بلاک یې کاملاً د مدرسې په شکل واړاوه ، دلته له لسو زیاتو استاذانو درس کاوه او د سلګونو ډول ډول کتابونو تر څنګ یې د دغه مدرسې ټول ضروري لوازم ورته مهیا کړل ، باید ووایم چې د دغه مدرسې څخه په لسګونو حافظان او قاریان فارغ سوي او ګڼو نورو د علم زده کوونکو پکښې خپله علمي تنده ماته کړېده ، د نورو طالبانو تر څنګ خپله حاجي ډاکټر صاحب هم له دغې مدرسې څخه عظیمه استفاده وکړه ، قرانکریم یې ټول په قرائت او تجوید زده کړ او د ازادي مطالعې تر څنګ یې یو شمېر نور درسي کتابونه هم ولوستل، دغه مدرسه اوس هم فعاله ده او له کتابو څخه یې د دغه بلاک تر څنګ د نورو بلاکونو بندیان هم استفاده کوي.

تقوی: حاجي ډاکټرصاحب شهید ډېر متقي او همېشنی عابد وو ، زما په زندان کي نه یادېږي چې ده دې د تهجد لمونځ قضاء کړئ وي ، هره هفته به یې صلاة تسبیح لمونځ اداء کاوه حتی ځیني وختونه به یې هره ورځ هم کاوه ، د قرانکریم تلاوت یې خپل عادت جوړ کړی وو ، په ملګرو کي مشهوره وه چې کوم ملګری به په عبادت کي کمزوری و ؛ ویل به یې ځم د حاجي ډاکټر صاحب سره په اطاق کي ملګری کېږم تر څو د عبادت رنګ ورڅخه واخلم.

ایثار او سخاوت: شهید حاجي ډاکټر صاحب ډېر سخي و ،څرنګه چې ده ته ډېر پایوازان راتلل او ډېر شیان یې ورته راوړل ده به ټول تقسیمول ، حتی پداسي وخت کي هم چې ده به ډېر ضرورت

ورته درلود ، کله چې یې موږ د بګرام زندان څخه بیرته پلچرخي زندان ته راوړو نو له دغو ملګرو سره نه پیسې وې او نه کوم بل د ضرورت شی ، بندیان حیران وو چې خپل ضرورتونه څنګه پوره کړي ، حاجي ډاکټر صاحب د بلاک کانتین والا را وغوښتی او ورته ویې ویل چې ورسره د بګرام څخه د را وستل سوو ټولو بندیانو پراطاقو وګرځه او ورته ووایه چې هر شي ته مو ضروروت وي راته ووایاست زه یې درته راوړم او ټولي پیسي حاجي ډاکټر صاحب راکوي ، کانتین والا همداسي وکړل او په پاي کي ټولي پیسې حاجي ډاکټر صاحب ورکړې.

سرشاري او جرئت: د حاجي ډاکټر صاحب له خوږو خاطرو څخه یوه مي دا ډېره یاد یږي چې ده به د زندان او د حکومت له لوړپوړو چارواکو سره هر وخت د بندیانو د حقوقو د دفاع په خاطر په ډېر جرئت سره خبري کولې او په خبرو کي یې هیڅ ډول تنزل نه ښکاره کاوه ، همدا علت وو چې هر وخت به دی مرحوم جزایي او کوټه قلف وو.

خاصه خاطره: یو ځل مي له حاجي ډاکټر صاحب شهید څخه وغوښتل تر څو زما د ملګرو د یادګارونو په کتابچه کي خپل یو یادګار راته ولیکي، ده د یادګار په پیل کي خپل ادرس داسي لیکلی وو : اوسنی ادرس: پلچرخی زندان څلورم بلاک ، دائمي ادرس: جنت الفردوس لوړ منزلونه...

په اسلامي امارت کې د هرات پخوانی والي او بیا د فواید عامې وزیر مولوي احمد الله مطیع وايي:

شهید ډاکټر صاحب زه له ډیر کشر توبه پیژنم په یوه مدرسه کې مو درسونه سره ویلي دي له هغه وخته ډاکټر صاحب ډیر لوړ اخلاق درلود ل او ډیر خواري کښ سړی و له جهاد سره یې ډیره زیاته مینه وه د تعلقاتو په ټینګولو او پاللو کې یې خورا ښه مهارت درلود د اسلامي امارت په استازیتوب به یې له ډیرو خطرناکو جهتونو سره تماسونه ټینګول او بیا به یې د ملاقاتونو لپاره زمینه سازي کوله او له خطره ډک سفرونه یې کول ، ډیر زړور انسان و حتی په دا او سني جهاد کې به هغو کسانو چې د ډاکټر صاحب له جهادي فعالیتونو نه به خبر وو له ده سره به یې په یوه موټر کې سفر کولو ته زړه نه ښه کاوو ؛ ځکه چې شهید ډاکټر صاحب به په خپل موټر کې نظامي مواد لکه منفجره توکي او وړه وسله یوه او بله خوا انتقالوله او د مجاهدینو مراکزو ته به یې رسول. زه چې یې په شهادت خبر شوم نو ډیر زیات غمګین شوم الله تعالي دي جنتونه ور په برخه کړي .

د شهید ډاکټرصاحب یو جهادي ملګری اغا جان وايې:

شهید ډاکټر صاحب به په جهادي کارونو کې خورا ښه تکتیکونه کارول یو ځل یې ماته د استشهادي برید لپاره یو جوړ شوی او له منفجره موادو ډک شوی ټونس موټر په لاس را کړ چې

د کندهار په ښار کې يې خوندي کړم ، ما هم د سيمتې خښتو د جوړولو په يوه کار خانه کې ودراو ، هلته کارګرو او ځوانانو به زياتره وخت پټي ( قطعې ) سره کولي ، ډاکټرصاحب ماته وويل ته يې هم ور سره کوه او ټو کي ټکالي هم ور سره کوه، چې شک وانخلي، که څه هم زما زده نه وې، خو پرې ور ګډ شوم او درې ورځې مې هلته تيرې کړې خو دغه خلک راباندې پوه نه شول همدا رنګه موږ ښه ډير وخت د کندهار په ښار کې تير کړ په هغه وخت کې به د ګوډاګي اداري چارواکو اکثره سرف موټر کارول شهيد ډاکټر صاحب هم سرف موټرد دې لپاره وا خست، چې هرځای يې پو ليس ونه دروي او د چا توجه جلب نه کړي او موږ ته به يې ويل چې ښه لوکس او جديد لباس اغوندئ، تر څو څوک پوه نشي چې موږ مجاهدين يو همدا سې موکول ډاکټر صاحب به را سره و او ښه ډير وخت مو په ښار کې د ننه جهادي فعاليت وکړ.

## مولوي مطيع الله صاحب وايي:

يو وخت کندهار ته د سفر په مهال په يو ځای کې د دې ضرورت وو چې موږ خپلې وسلې له ځانه لرې کړو او د عادي خلکو په شان د دښمن له پوستو څخه تير شو تر څو د مجاهدينو يوې بلې سيمې ته ځان ورسوو ، ما ډاکټر صاحب ته وويل چې بايد وسلې له ځانه لرې کړو ډاکټر صاحب وويل چې زه خو هيڅ کله له ځانه وسله نه لرې کوم؛ ځکه ما په زندان کې دا خبره کړې وه چې د حکومت او

امریکایانو دې ملا ماته شي چې ما به ایله کوي او زما دې ملا ماته شي چې له خلاصیدو وروسته مې بیا ژوندی نیسي نو زه له ژوندي نیول کیدو څخه شهادت ته ترجیح ورکوم.

## حاجي خلیل د ډاکټر صاحب د جرئت او تدبیر په اړه وایي :

شهید حاجي ډاکټر صاحب له مهماتو ډک مازدا موټر په لاس راکړ او دی خپله تر مخه په ټونس کي روان و ، کله چي د کندهار ښکارپور بازار ته ورسېدو هلته عسکرو سخته تلاشي کوله ، زما مخکي یوه کرولا وه او د هغه مخته د ډاکټر صاحب ټونس روان وو ، عسکرو د حاجي ډاکټرصاحب موټر له تلاښی وروسته ایله کړ او روان سو کله چي کرولا تلاښي ته ودرېدل ما فکر وکړ چي تلاښي هم سخته ده او حاجي ډاکټر صاحب هم ولاړی ، دده د خبرولو لپاره مي د مازدا غټ هارن وواهه ، عسکر راغی او خوشکه يي راته وکړه چي ته په هارن له تلاشی څخه ځان خلاصوې ؟ ده لا خوشکه نه وه خلاصه کړې چي حاجي ډاکټر صاحب راغی او له عسکر څخه يې پوښتنه وکړه چي څه کیسه ده ؟ عسکر ورته وویل چي دا موټروالا په هارن ځان له تلاښی څخه خلاصوي ، حاجي ډاکټر صاحب وویل هو دا خلکو لوی لوی موټران را رهي کړیوي او لوی لوی هارنونه هم وهي ، ددوي د لاسه خلک په کورو کي خوب نسي کولای ، ډاکټر صاحب ماته سخت بد رد وویل او تر ګریوان يې ونیولم له موټر څخه يې راښکته کړم او څو چپلاخي يې ووهلم او بیا يې موټر ته ور پوري

وهلم او راته ويې ويل چي څه حرکت وکړه ، عسکر هک حيران پاته دی او ما حرکت وکړ او په دې ډول مو موټر له تلاشي خلاص او تير کړ، لږ چي ولاړو حاجي ډاکټر صاحب شهيد په هنداره کي راته وکتل او خندل يې.....الله تعالى دي ورڅخه راضي سي ډېر جرئتمند او دلاوره مشر وو .....

## قاري محمد يونس :

اخلاص: زه د حاجي ډاکټر صاحب له اخلاص څخه ډېر متأثر وم ، چي کوم جهادي خدمت به يې کاوه په مخ کي د پرتو ستونزو ، خطرونو او ستړياوو هيڅ پروا يې نه کوله، يو ځل يې ځوتنه علماء د يوه طرزالعمل د تسليمولو لپاره دعوت کړي وو ، دغه طرزالعمل بايد د اسلامي امارت د يو شمېر لوړپوړو مسئولينو په حضور کي دوي ته سپارل سوی واي ؛ مګر تصادف دا پېښ سو چي په کومه ورځ دا طرزالعمل علماوو تسليماوه په هماغه ورځ حاجي ډاکټرصاحب بل مهم مجلس هم درلود ، نوله همدې امله دواړه مجالس کول ناممکن وه ، حاجي ډاکټر صاحب علماوو ته وويل چي د شپې پر درو بجو سفر لرو ، د سهار لمونځ هلته کوو او لمانځه وروسته ستاسو مجلس کوو چي مجلس خلاص سي زه خپل بل مجلس دائروم ( بايد ووايو چي ددواړو مجلسونو د موقعيتونو تر منځ نژدې سل کيلومتره لار وه چي ډېره برخه يې خامه او خرابه هم وه ) کله چي دا خبره علماوو واورېده سخت حيران سوه چي والي

وګوره او د شپې پر دريو بجو دومره ليرې ځای ته تګ ؟ لکه چې حاجي ډاکټر صاحب ويلي وه همداسې د شپې پر دريو بجو راغی، يو ملګری ورسره وو هغه موټر چلاوه موټر هم بې اسنادو وو، ما ورته وويل چې حاجي ډاکټر صاحب دا وخت خطرناک دی او موټر دې هم بې اسنادو دی، سهار وختې ولاړ سه، ده وخندل او په پوره جرئت يې وويل چې ان شاء الله شی نسته، پداسې حال کې يې خدای په امانی واخيست چې پر څېره يې موسکا او اطمينان له ورايه ښکارېدل، همداسې يې دواړه مجلسونه وکړل، اوس مې هم دده دهغې شپې خندانه څېره ترسترګو ګرځي، الله دې ورځخه راضي سي او جنت الفردوس دې يې ځای سي آمين.

الله تعالی دې په شهيد ډاکټر صاحب ورحمېږي، او کورنۍ ته دې يې صبرجميل، اجر عظيم او نعم البدل ورنصيب کړي.

رحمه الله تعالی

Download from:aghalibrary.cm